# پښتو متلونه
# یا
# ضرب الامثال

راټولونکی او لیکونکی:

دُکتُر عنایت الله شهرانی

کره کتنه دیوځه زیاتونو سره:

سیدا گل غریب یار

www.enayatshahrani.com

## د کتاب پېژندنه:


- ✓ د کتاب نوم: پښتو متلونه یا ضرب الامثال
- ✓ راټولونکی او لیکونکی: ډُکټُر عنایت الله شهرانی
- ✓ کره کتنه د یوڅه زیاتونو سره: سیداگل غریب یار
- ✓ ډیزاین: وحدت الله درخانی
- ✓ د متلونو شمیر: ۳۰۰۰
- ✓ لومړی چاپ: ۱۳۵۴ هـ ش
- ✓ دویم چاپ: ۱۳۸۷ هـ ش
- ✓ دریم چاپ: ۱۳۹۸ هـ ش
- ✓ چاپ شمیر: ۱۰۰۰
- ✓ خپرندوی: د قیزیل چوپان فرهنګی کانون
- ✓ د چاپ ځای: کابل- افغانستان


موټی خاوره د وطن به پری ورنه کړم

که په سر د ځمکی هر وطن ختن شی

«همیش خلیل»

www.enayatshahrani.com

بسم الله الرحمن الرحيم

www.enayatshahrani.com

www.enayatshahrani.com



پروفیسور دکتور عنایت الله شهرانی

www.enayatshahrani.com

**اهداء:**

- به استاد محمد صدیق روهی استاد من و مشوق در نوشتن فولکلور در فارسی و پشتو و زبانهای دیگر؛
- به پروفیسور دکتور بهاءالدین مجروح مشوق در جمع آوری امثال پشتو؛
- به دانشمند عالیمقام پروفیسور استاد غلام نبی فراهی که با اندک فرصت توانستم دریابم که با تعصب دشمنی دارد؛
- به استاد گرامی و ارجمند نصرالله خان سوبمن عضو سابق پشتو تولنه که در تصحیح امثال پشتو مدد رسانیده؛
- به محمدالله دوران همصنفی دوران مکتب که پشتوی خوستی را از وی آموختم؛
- به استاد حضرت الدین طالب وردک که نه تنها پشتوی وردکی را از وی آموختم بلکه با رسم و رواج وردک نیز مرا آشنا ساخت و از شصت سال باینسو دوستی و برادری داریم؛
- به داکتر صابر و لعل بی بی جان بهرامی که در غربت سرا در خدمت فرهنگ و ادب وطن خویش قرار دارند.

«ع. شهرانی»

www.enayatshahrani.com

## یادداشت

ضرب المثلهای زبان پشتو (د پشتو امثال او حکم) که در سال ۱۳۵۴هـ ش برای نخستین بار از جانب دکتور عنایت الله شهرانی جمع‌آوری و تدوین شده از طرف (د کتاب چاپولو مؤسسه) به چاپ رسیده بود در جریان بیشتر از سی و سه سال اینجا و آنجا در ضمن نشریه ها و کتابهای که در مطبوعات کشور و بیرون مرزی به زبان پشتو به نشر رسیده است، مهر چاپ خورده است.

مجموعهٔ د پشتو امثال و حکم کار آغازین و ابتدایی بود اینک مجموعهٔ د پشتو متلونه یا ضرب الامثال باغنای بیشتر با تصحیح و نقد شاد روان سیداگل غریب یار و دانشمند گرامی عبدالحمید عاطف و اهتمام برهان الدین نامق از سوی کانون فرهنگی قیزیل چوپان اقبال چاپ می یابد.

کانون فرهنگی قیزیل چوپان افتخار دارد که این اثروزین را که بخش بزرگ از فرهنگ غنامند زبان پشتو است به دسترس علاقه مندان میگذارد و در راه خدمت هرچه بیشتر به فرهنگ کشور از بارگاه ایزومتعال(ج) توفیق مزید میخواهد.

در اخیر از جناب دکتور بهرامی و دوستانش که زمینه چاپ این اثر را مهیا نموده اند اظهارسپاس میدارم و برای شان از خداوند(ج) سرفرازی دارین آروز مینماییم.

باااحترام

کانون فرهنگی قیزیل چوپان

www.enayatshahrani.com

# در مورد چگونه گی پیشینه جمع آوری
# د پشتو امثال او حکم
# (د پشتو متلونه)

کتاب «د پشتو متلونه» بزبان پشتو در تاریخ زبان و ادبیات پشتو اولین مجموعهٔ بزرگ امثال بشمار میرود که در سال (۱۳۵۴ هـ ق) بعد از جمع آوری طی ده سال بنام (امثال او حکم) در مؤسسه «بیهقی کتاب خپرولو مؤسسه» که تعداد امثال آن به سه هزار متل بالغ میگردید، بطبع رسیده بود.

در چاپ دوم بسال (۱۳۸۷ هـ ش) به همت و همکاری دوست بسیار گرامی و محترم دکتور صابر بهرامی و همکاری ها و تشویق های علمی و فرهنگی ارواح شاد سیدا گل خان غریب یار در مؤسسه (کانون فرهنگی قیزیل چوپان) با اضافهٔ یکهزار متل پشتو بزیور طبع آراسته گردید.

بقرار معلوم و به استناد گفته جناب عبدالله جان خلیل رئیس مرکز (ایریا ستدی سنتر) یونیورسیتی پشاور در سال (۱۹۹۱م) به مؤلف (شهرانی) چاپ اول این کتاب که بنام (امثال او حکم) بود، شعبهٔ پشتوی یونیورسیتی پشاور همه متن کتاب را با جمع آوری خودشان بدون اجازهٔ مؤلف و بدون اینکه از وی یادآوری نماید سرقت نموده و در مجموعهٔ امثال خود علاوه نموده و بچاپ رسانیده اند که البته این نام پوهنتون پشاور را سخت خدشه دار می نماید.

www.enayatshahrani.com

مؤلف در سال (۱۹۸۱م) در پوهنتون پشاور منحیث استاد وظیفه داشت و با داکتر محمد انور خان و عبدالله جان خلیل آشنایی داشت و زمانیکه بخاطر چاپ دوم با عبدالله جان خلیل مذاکره نمود، وی فرمود که کتاب را شعبۀ پشتوی یونیورسیتی مذکور شامل کتاب خود ساخته اند این زمان سال (۱۹۹۱م) بود.

پیش از اینکه چاپ دوم کتاب صورت بگیرد، هنرمند شهیر قندهاری بنام لطیف خان بابی در امریکا از مؤلف (شهرانی) خواهش نمود که کاپی کتاب (امثال او حکم) را برایش بفرستم تا برادرش در قندهار آنرا بچاپ برساند، مؤلف کاپی کتاب را برایش فرستاد و آقای بابی در جواب فرمود که کتاب بدست برادرش رسیده است.

مدتی بعد، مؤلف از محترم بابی احوال کتاب را پرسید ولی آقای بابی در جواب فرمودکه آنان خودشان ضرب المثلهای پشتو را جمع آوری کرده اند و ابتکار جمع آوری را بخود شان کمایی مینمایند. و چه لقمه تیار، درحالیکه این ابتکار را شخص مؤلف (شهرانی) در سال (۱۳۴۴ هـ ش) بدست آورده بود، یعنی ده سال قبل از چاپ اول. این هم البته نوعی از امانت داری مؤلفان ما است بطریقی که دلشان خواسته باشد به همان شکل آثار دیگران را سرقت نموده بنام خویش بچاپ میرسانند.

بهر صورت باید گفت که خواه یونیورسیتی پشاور باشد و خواه آقایان بابی ها در قندهار با اجرای ای عمل نادرست و ناصواب و ناجوانمردانه نام علمی و فرهنگی و اکادمیک را با سرقت ادبی خدشه دار می سازند و نام سخت بدی را

www.enayatshahrani.com

بخود کمایی میکنند، در کارهای فولکلوریک به ویژه جمع آوری مثلهای مردم هرکس اول اقدام میکند و آنرا بصورت مجموعه مطبوع در اختیار خواننده میگذارد امتیاز آن بنام همان شخص تمام میشود. باید بگویم زبان بسیار زیبای پشتو زبان سوم من مؤلف میباشد، کسانیکه عمل ناصواب و نادرست را انجام میدهند امید است که قدسیت زبان مادری خویش و ارزش آنرا بدانند و به آن حرمت بگذارند، بنده در اینجا اعتراض قانونی خویش را با درج این نوشته به اطلاع عزیزان خواننده میرساند تا سیه روی شود هرکه در او غش باشد.

با عرض احترام

دکتور عنایت الله شهرانی

www.enayatshahrani.com

# استاد ډاکتر عنایت الله شهراني د خدمت او شخصیت په لحاظ لوی انسان دی

د هغه ستر مصیبت په دوران کې چې د پخواني شوروي اتحاد له خوا ورسره د افغانستان ملت مخامخ شو او هرې خواته مهاجرتونه پیل شول نو په دې مهاجرتونو کې د مهاجرینو زیاته برخه د پاکستان او ایران په لور سر وهلي بر وهلي له وطن نه ووتل.

هلته ورته په پورتنیو ذکر شوو هیوادونو کې د هغوی د خپلو ملي منافعو په اساس دامونو ایښودل شوي وو. پاکستان ورته اووه تنظیمه او ایران ورته اته تنظیمه جوړ کړل او استخباراتي اداړو یې د افغاني ټولنې د اجتماعي او سیاسي ساختمان د ورانولو پسې پایخې را بد وهلې. نوموړو استخباراتي ادارو د نورو ناوړو کارونو تر څنګ د افغانستان د وروڼو قومونو تر منځ ژبني اور ته هم لمن ووهله او تر څو یې چې په وس پوره وه هغومره یې په دې لار کې کار وکړ .نن سبا د افغانستان اوسیدونکي د بل هر وخت نه زیات ملي وحدت ته ضرورت لري او دا ځکه چې وطن مو د دوست په جامه کې دښمنانو له لاسه وران ویجاړ او ټوټه ټوټه شوي دي.

د دغه لنډ تذکرنه وروسته خپل مطلب ته را ګرځم او د ګران او محترم ورور استاد پوهاند ډاکتر عنایت الله شهراني هغو هلو ځلو او نه هیریدونکو خدمتونو ته ګوته نیسم چې وطنوالو ته یې د خپلو مختلفو آثارو را منځ ته کولو تر څنګ پښتو ژبې ته خدمت کړل هم له نظره نه دي غورځولي او د دې بښا وجود چې پښتو ژبې نه دي د مهاجرت نه

کلونه کلونه پخوا یې د ملي وحدت په منظور د پښتو ژبې په زرها و متلونه را ټول کړي او د یو پنډ کتاب په ډول یې چاپ ته رسولي دي چې بیا یو ادبي سارق هغه غلا کړي او پخپل نامه یې ختم کړي دي.

هو! دا باید ومنو چې ټول انسانان یو ډول نه دي او نه یو ډول فکر کوي ځینې د خلکو په سینو چړې او خنجرونه ننباسي خویو شمیر نور بیا په همدغو جوړو شوو زخمونو او پرهرونو د ملهمو پټۍ ګدي.

ډاکتر صاحب شهراني یو د هغو ګوتو په شمېر افغانانو له جملې هغه نومیالی افغان دی چې د ژبني تعصب نه پرته یې د ملي وحدت په لار کې کار کړی او لګیا دی لاکوي یې.

په دې وختونو کې جناب ډاکتر شهراني تکل کړي چې خپل د کتاب خزانه په یو څه نورې ایضافي سره د دوهم ځل لپاره چاپ کړي او په دغسې یو حساس وخت کې یې افغاني ټولنې ته وړاندې کړي چې په کافي اندازه د ژبني اور په لمبو کې سوځېدلې ده، نه پوهیږم چې کرزي صاحب د اداري په اصلاح کې د دغه ډول اشخاصو نه ولې کار نه اخلي؟

زه د افغانانو د یو خدمتګار په صفت د نوموړي کارو زیار ته د قدر په سترګه ګورم او افغاني جامعه کې د ډاکتر شهراني غوندې خدمتګارو اشخاصو د لا زیاتیدو په هیله یم .

محمد حسن ولس مل

افغان ملی جریده د (۱۳۸۵ هـ) کال د لړم (عقرب) ۱۸مه نیټه
دوهمه دوره، څلورم کال (۲۰۰۰م)

www.enayatshahrani.com

# د الفبا په ردیف:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱- هغه متلونه چې په "الف" شروع‌شوی | ۱۹۷ | ۱۸- هغه متلونه چې په"ښ" شروع شوی | ۵۹ |
| ۲- هغه متلونه چې په "ب" شروع شوی | ۱۱۵ | ۱۹- هغه متلونه چې په"ش" شروع شوی | ۳۵ |
| ۳- هغه متلونه چې په "پ" شروع شوی | ۱۵۱ | ۲۰- هغه متلونه چې په"ص"شروع شوی | ۷ |
| ۴- هغه متلونه چې په "ت" شروع شوی | ۱۵۷ | ۲۱- هغه متلونه چې په "ع" شروع شوی | ۲۷ |
| ۵- هغه متلونه چې په "ټ" شروع شوی | ۲ | ۲۲- هغه متلونه چې په "غ" شروع شوی | ۲۸ |
| ۶- هغه متلونه چې په "ج" شروع شوی | ۲۰ | ۲۳- هغه متلونه چې په "ډ" شروع شوی | ۳۸ |
| ۷- هغه متلونه چې په "څ" شروع شوی | ۴۵ | ۲۴- هغه متلونه چې په"ف" شروع شوی | ۸ |
| ۸- هغه متلونه چې په "ځ" شروع شوی | ۲۲ | ۲۵- هغه متلونه چې په "ق" شروع شوی | ۱۳ |
| ۹- هغه متلونه چې په "ح" شروع شوی | ۱۲ | ۲۶- هغه متلونه چې په"ګ" شروع شوی | ۳۱ |
| ۱۰- هغه متلونه چې په "چ" شروع شوی | ۳۱۳ | ۲۷- هغه متلونه چې په"ک" شروع شوی | ۱۵۳ |
| ۱۱- هغه متلونه چې په "خ" شروع شوی | ۱۵۱ | ۲۸- هغه متلونه چې په "ل" شروع شوی | ۱۵۳ |
| ۱۲- هغه متلونه چې په "د" شروع شوی | ۵۳۹ | ۲۹- هغه متلونه چې په "م" شروع شوی | ۹۲ |
| ۱۳- هغه متلونه چې په "ر" شروع شوی | ۳۱ | ۳۰- هغه متلونه چې په "ن" شروع شوی | ۹۳ |
| ۱۴- هغه متلونه چې په "ړ" شروع شوی | ۱۳ | ۳۱- هغه متلونه چې په "و" شروع شوی | ۹۴ |
| ۱۵- هغه متلونه چې په "ز" شروع شوی | ۱۱ | ۳۲- هغه متلونه چې په "هـ" شروع شوی | ۷۵ |
| ۱۶- هغه متلونه چې په "ژ" شروع شوی | ۱۵ | ۳۳- هغه متلونه چې په "ی" شروع شوی | ۱۳۷ |
| ۱۷- هغه متلونه چې په"س"شروع شوی | ۱۱۱ | | |

## د دې کتاب د متلونو شمیر (۳۰۰۰) درې زره دي.

www.enayatshahrani.com

# مُقَدّمه

سیدا گل (غریب یار)

د افغانستان د کورنیې پادشاه محمد ظاهرشاه د دریمی لسیزی په پیل کې د تعلیم یافته یا په بل عبارت د باسوادو ډلی شمېر درې نیم فیصده شاوخوا کې وو.

هیله داوه چی که د باسوادو شمېر څومره مخ په زیاتیدو شی. هماغومره به هیواد د ترقي او پرمختګ په لوری چټک ګامونه واخلی. یو وخت دا شمیر د دوه نیم فیصدونه دری، دری نیم- څلور او څلور نیم فیصدو ته ور سیده.

ولی څومره چی د باسوادو یا تعلیم یافته کسانو شمېر په هیواد کی زیاتیدو. مونږ فکر کاوه چی دا تحوّل به د هیواد آبادی- ترقی، ملّی وحدت او قوی ورورولی د پاره ښه زمینې برابری کړی.

ښاغلي ډکتر عنایت الله شهرانی چې مورنی ژبه (ترکی- اوزبیکی) ده. ولی ده ته خپل هیواد- خلک دورونو په شان ښکاري د هغوی ژبه فرهنگ ادب او فولکلور د ځان گڼي او خپل ځان د هغوی.

محترم شهرانی د پښتو ژبی دری زره متلونه. په ډیرو مشکلاتو را ټول او نشر ته تیار کړی دی چې دا پخپله د پښتو ژبې یوه لویه ادبی پانگه ده.

چې زه د نوموړی دی لوړ اقدام او خدمت ته د قدر او احترام په سترگه گورم هیله لرم چې زمونږ نور علمی او ادبی شخصیتونه د ښاغلی ډکتُر شهرانی خدمت غوندی خدمتونو ته لاس پوری کړی. او د افغانستان د ټولو قومونو ته دیو واحد ملت په سترگو وگوری داسی خدمتونه د افغانستان د قومونو مینځ کی ملی وحدت، یو په بل اعتماد او احترام پیدا کوی. افغانستان د ټولو اوسیدونکو قومونو گډ کور دی او د تاریخ په اوږدوکی دورونو په شان گډ ژوند کړی دی.

زه ښاغلی ډکتُر صاحب شهرانی ته د دی لوی ادبی خدمت له کبله مبارکی وایم. داد ده د نظر وسعت، بی تعصبی او هیوادوالو سره درښتنی وروری ثبوت او بیلگه دی.

دا متلونه د الفبې په ردیف راټول او لیکل شوی دی. متلونه په روانه – ساده او سلیسه طریقه لوستونکوته وړاندی شوی. دا کتاب افغاني ټولنی ته په داسی حال او وخت کی وړاندی کیږی. چې افغانستان کی پخوانی علمی او ادبی کتابونه د افغانستان د دښمنانو له خوا یا سوزول شوی او یا له مینځه وړل شوی دی داسی کتابونه که په پښتو وی یا په دری لیکل را ټولول او نشرول یی د بل هر وخت په نسبت مهم او ضرور دی.

د بله خوا هغه افغانان چې لویدیځی نړی ته مهاجرت کړی دی هغوی چې خپل هیواد خپلو خلکو او خپل ملی کلتور په یاد کی ساتلی دی.



www.enayatshahrani.com

د ادبي کتابونو درلودلو او لوستلو ته ضرورت لري. زه بیا بیا محترم ډُکتُر صاحب شهراني ته د دې لوړ ادبي خدمت له کبله مبارکي او کوروداني وایم.

په درنا وی سیدا گل غریب یار
د امریکې د کلورادو ایالت د اروادا ښار
د ۱۹۹۹ کال د دسمبر میاشت

www.enayatshahrani.com

## پښتو متلونه یا ضرب الامثال ډکټر عنایت الله شهرانی

دویم چاپ

دا د پښتو ضرب الامثال مجموعه چې در نو لوستونکو ته وړاندې کیږي د دې متلونو راټولولو د **۱۳۴۵** هـ.ش. د پیل نه تر **۱۳۵۴** هـ.ش کال پورې لس کاله وخت نیولی دی.

څرنګه چې د دې متلونو زیاته برخه راټولول د نشراتو او کتابونو نه برسیره د پښتو ژبې سیمو اوسیدونکو او عامو پشتنو نه په لاس راغلي.

نو د وخت د اطلاعاتو او کلتور وزارت وغوښتل چې د پښتو څیړنو د بین المللی سیمینار په ویاړ د پښتو د متلونو دا کتاب چاپ او د سیمینار ګډون کونکوته یې وړاندې کړي. همدارنګه هغوي د کابل ښار د کتاب خرخولو دوکانو د لارې خرڅلاوته وړاندې کړي.

مخکې له دې څو رسالې تیارې شوې وې چې د لومړي چاپ په سر کې نومونه یاد شوي دي. ولې د دې کتاب ارزښت او قیمت په دې لوړ وو چې دا متلونه یا ضرب المثلونه د لومړنیو منابعو او سیمونه راټول شوی وو. دویم د هغه وخت د پښتو ژبې د متلونو لوی کتاب چې ډیر متلونه په کې راټول شوي وو. یوهم دا کتاب حسابیده.

د هغه وخت د مهمو علمي شخصیتونو نه چې شپه او ورځ د دې مجموعې په راټولولو کې بیدریغه مرسته راسره کړیده. خدای بخښلي شهید پوهاند ډکتُر سید بهاؤالدین مجروح وو. شهید ډاکټر مجروح د افغانستان د لویو علمي شخصیتونو څخه وو. چې د نړۍ په څو ژوندیو

ژبو پوهیده، په فلسفه کی لوی لاس درلود. چی دهغه آثار زما دا ادعا لوی ثبوت دی.

شهید ډُکتر مجروح تل ویل چی زه حاضریم د پښتو ژبی د موادو په راټولولو کی تا سره ډېره مرسته وکړم. زه چی دا کتاب د هغه په نوم اهداء کوم یو دلیل یې همدا دی. او دا هم باید له یاده ونه وزی چی د دی لیکونکی (ډاکټر شهرانی) سره یې د دوستی او وروری یوه خاصه مینه او اړیکی درلودی. یو وخت چی استاد مجروح د اریزونا د پوهنتون د میلمه پروفیسور په حیث امریکې ته تشریف راوړی وه. زه هلته د ډاکټری اخستلو په درسونوکی بوخت وم. په وار وار زما د پښتو دا کتاب درناوی کوله. لوی څښتن دی پری ورحمیږی. روح دی خوشاله وی. کله چی د امریکی د زرق و برق د ټولنی د ژوندانه نه په ۱۹۹۵ کال کی ستړی شوم. خپل کډ سره بېرته پاکستان ته ولاړم. یوه ورځ د پیښور یونیورستی ته ولاړم. د پروفیسور ډُکتر انور خان چی د پیښور د پوهنتون رئیس وو. ولید د خبرو په ترخ کی نوموړی د ضرب الامثال دپښتو د کتاب نه یا ده وکړه. ځکه چی د کتاب یوه نسخه د پوهنتون د مرکزی اسیا د تحقیقاتو په مرکز کی موجوده وه. ما ورته وویل چی ما هغه کتاب د دویم وار نشر د پاره تیار کړی دی.

یو څه موده وروسته می د کتاب د بیا نوښت نه وروسته د ښاغلی واصل نور سره د ډُکتر انورخان دفتر ته ولاړم پوه شوم چی پروفیسور انورخان تقاعد کړی و او دهغه پر ځای عبدالله جان (خلیل) مقرر شوی و. د خبرو په ترخ کی د ښاغلی سره د ضرب الامثال په هکله خبره یاده شوه هغه راته په ډاګه وویل چی د پیښور د پښتو اکاډمی یونیورستی د پښتو د متلونو کتاب تیار کړی چی ستاسی کتاب هم په هغی متلونو ورزیات شوی دی.

پرته د تردیده دا یوه زورونکې او نه منلووړ خبره وه چې د علم او پوهې په مرکز کې پرته د مؤلف دا جازې او یا د نوم یادولو د هغه کتاب د یو بل کتاب سره یو ځای وکړی شي. چې دا د ادب د علمي اساساتو او پر نسبونو د ټولو اصولو مخالف یوه ادبي کړنه ده. دا موضوع مې تري بیابیا و پوښتله ښاغلي (خلیل) وویل چې دا کار په همدی ډول پای ته رسیدلی دی.

یو ځلي مې دا موضوع د ښاغلي انجنیر احسان الله (مایار) سره طرحه کړه. هغوی غوښتل چې دا کتاب بیا چاپ کړي، ولې د هغوی د مصروفیتونو له کبله ته دا فُرصت میسر نه شو.

د ۱۹۹۹ کال د نومبر د میاشتي په پنځمه نیټه مې د جناب استاد محمد اسحق نگارگر مشهور بیدل شناس مُحَقِّق او لیکوال سره مې امریکې نه لندن کې تیلیفوني خبرې وکړې. نوموړی د عامیانه فولکلوري دري ادبیاتو په خاصه توګه ضرب المثلونو په هکله اوږدې خبرې وکړې د خبرو په ترڅ کې د پښتو د متلونو موضوع را یاده شو. پرته د ځندنه استاد نگار گرو فرمایل جناب استاد سیدا گل خان (غریب یار) د امریکې کلورادو ایالت کې اوسیږي. د پښتو ژبې پیژندل شویو. لیکوالو څخه دی. هغه کولی شي چې د ضرب الامثال یا پښتو متلونو کتاب په هکله کې در سره مرسته وکړي. زه باور لرم چې خپله مرسته ونه سپموي.

وروسته له دی خبر و د اروا ښاد غریب یار سره‌مې تیلیفوني تماس ونیو. او پوه شوم چې نوموړی پوه، عالم او په عین زمان کې د یو پراخه نظر خاوند دی.

ښاغلي غریب یار د خبرو په ترڅ کې د خدای بخښلي ملنگ جان د پښتو ژبې مِلّي شاعر د دی لاندی شعر د وه بیتونه چې زما ډیر خوښ شول وویل.

چې یې موروی په دی خاوره زیږولی چې په هره ژبه گویاوی خو افغان دی چې خیرخواه د وطن نه وی ملنګ جانه خلص داچې نه افغان او نه انسان دی. همدارنګه یې د قران کریم یو متبرک آیه چې ژبنی او نژادی تعصب اسلام کی مردود گڼی ووایه دا دی زه هم د اروا ښاد غریب یار د قول په تایید دا لاندی آیات شریف چې قومی ژبنی او نژادی تضادونه بی اهمیته ثابتوی. په صراحت باید ووایم چې د دی کتاب لیکونکی(شهرانی) یوی ژبی – یو قوم، یو نژاد ته تر هغه وخته پوری په احترام او درناوی گورم چې د هغوی نه تعصب. تفوق طلبی تفرقه اچول- او خاص امتیازونه گورم او دی اهدافو په خاطر می هیواد را وران نه کړی. او که چیری دا ټکی د یو شخص – یو قوم یا یو ولایت او سیمی نه وکتل شی. په هغه صورت کی دا ډلی او ټولنی زما د احترام او قدر وړپرگنی نه دی. اصلاً ژبه که پښتو دی – دری او یا ترکی یا بیله ژبه دا ټولی په یوه ټولنه کی د افهام او تفهیم وسیلی دی. او دا دی متبرکه ایات شریف.

شروع کوم د لوی خدای په نامه چې بخښونکی او مهربان دی.

و من ایاته خلق اسموات والارض و اختلاف السنتکم والوانکم.

(د لوی څښتن د نښونه د اسمانونو – ځمکی پیدا کول او اختلاف د ژبو او ستاسی د رنگونو دی)

دا دی دا کتاب د جناب غریب یار په قلمی مرسته تیار شو او د یادولو وړټکی په کی دا دی. چې اروا ښاد غریب یار ماته وویل چې زما مورنی ژبه پښتو او په پښتو کی می دری اثرونه او ډیری مقالی لیکلی دی. که چیری زه ورته د دی اجازه ورکړم چې ځینی نیمگړتیا وی که املایې وی یا انشایې یا نوری اصلاح کړم. دا د دوی مهربانی او اخلاص وو. چې ما د ده د دی مهربانی نه ډیر استقبال وکړو.

مهم دلیل چی د اروا ښاد غریب یار د نامه په مقابل کی می تصحیح ولیکه. په دی دلیل چی لومړی چاپ یو لړ غلطی او خطاوی درلودل. چی په رښتیا کی هغوی دی کتاب ته نوی ساه ورکړ.

لکه څنګه چی وویل شو پخپله د څو کتابونو مؤلف دی. لوی ښتن دی په ګران افغانستان کی یوه داسی ورځ راوړی چی ټول ملتونه د ورونو په شان د افغانی ملت په نوم ژوند وکړی. او خپله لار د اسلام د سپیڅلی دین د لار ښوونو سره سم د ژوندانه د تیرولو د پاره وټاکی. آمین یارب العالمین.

ومن الله توفیق

دُکتُر عنایت الله شهرانی

بلومینګټن – انډیانا نومبر ۱۹۹۹.

www.enayatshahrani.com

# فهرست


| | |
|---|---|
| د (آ) دریف | د (ژ) ردیف |
| د (ا) ردیف | د (س) ردیف |
| د (ب) ردیف | د (ښ) ردیف |
| د (پ) ردیف | د (ش) ردیف |
| د (ت) ردیف | د (ص) ردیف |
| د (ج) ردیف | د (ع) ردیف |
| د (څ) ردیف | د (غ) ردیف |
| د (ځ) ردیف | د (ف) ردیف |
| د (ح) ردیف | د (ق) ردیف |
| د (چ) ردیف | د (ک) ردیف |
| د (خ) ردیف | د (ل) ردیف |
| د (د) ردیف | د (م) ردیف |
| د (ډ) ردیف | د (ن) ردیف |
| د (ر) ردیف | د (و) ردیف |
| د (ړ) ردیف | د (هـ) ردیف |
| د (ز) ردیف | د (ی) ردیف |


د ا د لومړی چاپ په وخت په **۱۳۵۴** کال

www.enayatshahrani.com

# یادونه

د پښتو ژبې په غني ادب کې د فولکلور برخه او د پښتون قام د اجتماعي تفکر د راویستونونو په جمله کې د اولسي ادب، د مختلفو د سلسلي ځانګو یوه غوره ساحه د پښتو متلونو، امثالو او حکمو شته منه ذخیره ده چې د دې ژبې په څېړنو کښې لوی فصل او باب جوړوي. پدې برخه کښې هغه تتبعات چې تر اوسه پوری شوي دي د خپل حجم په لحاظ د څېړنې خاوندانو ته مُکلّفیت ور په مخه کوي چې پدغه ساحه کښې، د خپل مطالعات نور هم پراخ کړي او نتیجه یې افغاني ټولنې ته وړاندې کړي تر څویې، د پښتو ژبې د دې درنې برخې په څرګندولو سره د دې ژبې د علمي او ادبي څېړنوپه لړ کښې خپله ملي وجیبه د اطلاعاتو، او کلتور وزارت د جمهوري دولت د کلتوري پالیسې په رڼا دا کړي دي کښې د پښتو ژبې د انکشاف او تقویې په حقله خپلو مهمو ملي وظایفو ته کلکې پاملرنې له لارې دادې په کابل کې د پښتو ژبې د تحقیقاتي مرکز د تاسیس په درشل کې د پښتو ژبې د نوروثقه متنونو د چاپولو په سلسله کې د دې ژبې د امثالو او حکمو دغه مجموعه هم وړاندې کوي چې د بیهقي د کتاب چاپولو مؤسسې خپره کړي، او پدغه برخه کې د پښتو ژبې د علمي او ادبي تتبعاتو د وړاندې بیولو او پراختیا او تقویې د پاره خپل ځان او نورو هغو پوهانو او ادیبانو ته دلوی خدای نه دلازیات خدمت توفیق غواړي، چې پدې لاره کښې په تحقیق او مطالعه لګیادي.

پوهاند دوکتور نوین

د اطلاعاتو او کلتور وزیر

# مخنۍ خبرې

د پښتو متلونو (امثال او حکم) مجموعه مې د خپلو دوستانو په مرسته وروسته له څو کالو زيار ايستلونه وروسته سرته ورسوله که دغه مجموعه د ځينو پوهانو لکه ارواښاد ګل محمد نوري، محمد دين ژواک او نورو آثارو کتل او له يو بل سره مې په تله کړې همدا راز د پښتو ژبوسيمو له بيلو بيلو ګوټو څخه مې د دوې اصلي اصطلاحات د پښتوارې، حکم او امثال په ترتيب سره و کښل زما په ګروهه دا متلونه او اصطلاحات پښتونولي حکم او امثال ګڼل کيږي.

د پښتو متلونو دا مجموعه له درې زره درې سوه، څخه زياته ده چې ما په ډير زيار په اصلي بڼه راټول کړې دې او تر وسه مې زيار ايستلي چې د خلکو اصلي اصطلاح وليکل شي ما ډيره هيله درلوده چې د (موضوع) له مخې متلونه وليکم خو د ډيرې مشغولتيا او دوخت د لږوالي له کبله مې دا کار ونه کړای شو هيله کوم چې نور محترم ليکوالان به دغه نيمګړتيا پوره کړي.

د دغه کتاب تاليف د افغانستان د بيلو بيلو ژبو د متلونو په لړ کې يوه بله مجموعه ده چې د پوهنې مينانو ته وړاندې کيږي البته د دغه کار څخه د مخه مې يو بل اثر د درې د "امثال و حکم" په نامه ليکلی دی. دواړه پښتو او درې کتابونه د لومړي او دويم ټوک په څير ترتيب شوي او د هيواد د نورو محلي ژبو متلونو لپاره مې دريم ټوک ترکتنې لاندې نيولي دی. پدغه لوی کار کښې ځينو ملګرو په خاصه توګه د ښاغلي محترم نصرالله سوبمن د پښتو ټولنې د رياست غړي زيار او مرسته د زړه

له کومی ستایم او ورته کورودانی وایم. په پای کښې هیله کوم چې د دغې مجموعې په لیکلو سره وکړای شم د گران هیواد افغانستان فولکلور ته د یو څه خدمت مصدر وگرځم.

په درناوی

دُکتُر عنایت الله (شهرانی)

# نظریه

د ادبیاتو د پوهنځی تدریسی غړی ښاغلی دُکتُر عنایت الله شهرانی چې د پښتو متلونو کومه مجموعه‌یی ترتیب کړې ده، ماولید له، د ښاغلی دغه زیار دنمانځنی وړدی او د ده د ملیت غوښتنی، بی تعصبی او وسعت نظر ښکارندوی شمیرل کیدای شی.

زه مربوطو ادارو ته دا ویل لازم بولم چې باید د دغه کتاب په چاپولو سره د ښاغلی عنایت الله شهرانی حوصله افزایی و کړی او نور ځوانان هم دغی بی تعصبی او وسعت نظر ته تشویق کاندی.

پوهاند عبدالشکور رشاد

د ادبیاتو په پوهنځی کی د پښتو څانگی مشر

# پښتو متلونه

په تېرو زمانو کې چې خبرې او لیک نه وو نو انسانانو د خپلو اړتیاؤ له پاره ځینی نښې او اشارې په کارولې د دغو نښوپه لړکې ځینی نښې داسې هم وي چې د خلکو ډېرې زیاتې خوښېدلې په نتیجه کې همدا خوښ کړل شوي ویناوي او یا اشارې د متلونو په څېرپاتې شوي. کله چې خبرې او لیک منځ ته راغلې نو په دغه وخت کښې ښایسته او د منلوور جملې سینه په سینه او یا د لیک په صورت کې له یوه نسل څخه بل ته منتقل شوي. څرنګه چې ذهن ټول مطالب ساتلای نشی نو د دغه کړاو دلیري کیدو له پاره لیک یواځینی وسیله ده چې د معنې څخه ډک کلمات او افکار د کاغذ پرمخ کارې او په دې ډول دورک دورکیدو له خطر څخه ژغورل کیږي.
په وروستیو وختو کې پوهانو او علماؤ په دې باور پیدا کړ چې ټول ادبی موضوعات دې په یوه ځانګړې ترتیب سره راوړل شی او د ترتیب له پاره یو معیار جوړ کاندي چې د هغې له مخې مطالب د حدودو څخه ونه وځی. دوي په دې ګروهه وو چې داسې کلمات و کارې چې عامه خلک د هغې له ښکاره کولو څخه بې برخې وي او یا په بله وینا کتابی وي. که څه هم دا ټکی په خپل ذات کې د ارزښت وړدي او هرو مرو په ادبیاتو کې به معیار موجود وي خو د دغه په څنګ کې د اکثریت ژبه هم د خپلو معیارونو په نظر کې نېولو سره باید ترخیړنې او کتنې لاندې ونیول شی. له نیکه مرغه په دغه وروستیو وختو کې د ملی ادب او فولکلور له پاره ډېره زیاته پاملرنه شوي او په دغه برخه پراخې څېړنې ترسره کیږي.

د فولکلوري موضوعاتو ټولول، څېړل او ترتیب کول آسان کار نه دي او له دغه عهدې څخه وتل ډیر زیار ایستل غواړي. د دغې هیلې سرته رسیدل یوائې د عامه ټولنې سره اړیکې ټینګول ایجابوی او هغه فولکلوري شتمنی چې له د وي څخه سینه په سینه پاتې دی بې له کوم تصرف څخه اختسل کیدای شی د عامه ټولنی دا خبرې یا لنډی معنی لرونکی محلی (متلونه) د دوي په خواله حکمت بلل کیږي خو دا باید و وایو چې د دوي حکمت تل د منلو وړنه وي بلکه ځینی وخت کیدای شی چې یو سړی له خپله ځانه یوه جمله جوړه کړی نو له دې امله موږ هغو مطالبو ته ارزښت ورکوو چې د اکثریت عوامو په ژبه معمول وي او یا دا چې له یوې کیسې څخه چې زموږ اصلی مطلب جوړ وي لاس ته راشی په دې ډول په عامیانه ادبیاتو کی ډول ډول اړخونه لکه ظرافت، نښی متلونه یا امثال و حکم، سندري یا څلوریزي، دودونه، کیسی، اساطیر، نڅا، جادوګري او خرافات لیدل کیږي. زموږ اصلی مقصد په دغه برخو کی یوائې متلونه دي او باید په دغه برخه کی څوټکی ښکاره شی. متلونه د یوه نسل څخه و بل نسل ته د افکارو، کلچر او دودونو دلیږ دولو یوه وسیله ده چې خپله دنده (وظیفه) یی په ښه توګه ترسره کړي او د مینی، اخلاقی، اجتماعی، ذهنی او اقتصادی اړخونه لري.

دا چې د معنی څخه ډکی لندی جملې ولې د متل په نامه یادیږی یو څه د مخه ښکاره شو خو بیا د معلوماتو د زیاتولو له پاره یو څوټکی نورهم دلته راوړو:

په عربی ژبه کی ضرب دوهلو او مثل لکه چې پوهیږو د مثال په معنی راځی. په دې ډول ضرب المثل (په پښتو کی متل) یوه مرکبه کلمه یا جمله چې اغیزه وکړی او یا د کلمی وړاندې کولو دخبرې غښی مطلب ویل او داسی نور ژباړه کیږی. د دې څخه دا معنی اخستل کیږی چې ګواکی انسان د خبرو غښی فیر کوی او خپل هدف (نښه) تر مثبتی

اغیزی لاندې نیسی. اوریدونکی د دغی مطلب داوریدو څخه ډیره ګټه اخلی او ژوره اغیزه وربا ندی کوی. ضرب [1] د لومړی توری په زور د "ر" په سکون او دابجد ب سره سیخولو ته وایی چی په پښتو کی ځیژکی بلل کیږی ضرب [2] المثل (متل) هغه شی ته وایی چی د هغه په واسطه مثل شړل بادوهل کیږی. محمد عرفی وایی:

در مقامی که بُوَد روی کنایه به عدو – ضرب شمشیر ندارد اثر ضرب مثل[3] ضرب المثل (متل) هغه لنډی او معنی لرونکی جملی ته وایی چی د لفظ او عبارت له مخی کولای شو هغه ایجاز وبولو. ضرب[4] د زور سره بیان کولو او د یوه شی او بل شی ګډولو ته وایی او یا چټک تګ په روزی پسی د مځکی په مخ خوځیدل او نور.

د فارابی[5] له نظره ضرب المثل هغه مفهوم ته ویل کیږی چی د لفظ او معنی له کبله د خاص او عام د منلو وړشی او هغوی د خوښی او یا خپګان په وخت کی هغه په یاد کی استعمال کړی او یاد مطالبو د پیدا کولو له پاره هغه په کار واچوی د محنت په وخت کی د نصیحت په څیرپه کار شی مفهوم یی د حکمت څخه ښاره وی ځکه عوام خلک ناقص شی نه منی. یو بل پوهاند وایی[6] د ضرب المثل امتیاز راشه والی ګه نورو خیرو څخه په دغو څلور شیانو کی دی. د لفظ لنډوالی د معنی رسول تشبیه، اوښه کنایه او دا څلور واړه د بلاغت وروستی پړاودی. پوهیږو[7] چی‌مثل یا ضرب‌المثل هر یو د یوی واقعی یا کیسی عصاره ده چی دهغه

(۱) برهان قاطع - ۷۷ مخ
(۲) بهار عجم دویم ټوک ۱۹۸ مخ
(۳) ادب محلی هزارګی مجله ادب ۵۸ مخ شهرستانی
(۴) شمس الغات مخ ۴۲
(۵) ضرب المثلها مخ ۳ د بدخشان ورځپاڼه ش ۳۹ – ۲۱ ثور ۱۳۵۰
(۶) " " " "
(۷) مخ ۱۲ د هزاومردم مجله ش ۷۹ علی اکبر هخدا شهر یور ماه ۱۳۳۹



www.enayatshahrani.com

وخت د عمومي افکارو او احساساتو نماینده ګي کوي.

همدا راز ځیني خلک مثل (درمنشور) د مادي او معنوي ژوند د خوی او عادت مثل (نمونه) ګڼي چې د نیکه ګانو او مشرانو څخه پاتي وي او یا د ټولني د فکر او لاس نماینده ګڼل کیږي.

ضرب المثلونه (متلونه) (۱) د هري ژبې د ادبیاتو غوره برخه بلل کیږي چې د ادب او فضل څښتنان هغه په کار وي. ضرب المثل په نظم او نثر کې هغه ټول مطالب دي چې د استعاراتو، حکمت، اخبار، پند او اصطلاحاتو په څیر راځي او نورلیکوالان او پوهان هغه د خپل کلام د ښایسته کیدو یا پخیدو له پاره راوړي.

ضرب المثل (۲) مثل وهل یعنی په کلام کې د یوه شي مثال راوړل د یوه قوم (۳) او یا ملت د علماو او پوهانو د فکر او ذوق محصول امثال او حکم ګڼل کیږي.

ضرب (۴) دوهلو مثل، شکل، نوع او وصف په معنی راځي چې جمع اضراب کیږي او هم د هوښیار چټک سړي په معنی او د عروض په اصطلاح کې د شعر د دوهمی مصراع وروستی جز ضرب الفتح: د فتحی او پیروزي په وخت کې د ډرهل وهل. د (م) او (ث) په زور سره د مثل یا مثال راوړل دي.

په دی توګه ښکاره شوه چې هریوه پوهاند ضرب مثل (متل) په بیل ډول تعریف کړي دي خو په عمومي ډول مثل د افکارو او عقایدو د لنډولو او یا په یوه نقطه کې یو ځای کولوته وایی او دا افکار د یوه قوم او یا ملت محصول دي او د خورا زیات ارزښت وړبلل کیږي.

---

(۱) امثال او حکم مخ ۹ علی اکبرو د هخد شهر یورماه ۱۳۳۹

(۲) غیاث اللغات مخ ۲۲۸

(۳) د امثال منظوم له کتاب څخه، لومړی ټوک تالیف سعید نفیسی

(۴) فرهنګ عمید صفحه ۷۰۰

# آ

- آبا کور نشته له ادی ډار نشته.
- آدم خان دي په خیال ګوروان درغلی دي.
- آره آره یوم پرغاړه.
- آسان یی نالول چونګښو هم پښی پورته کړي.
- آس دموږې په زور غورزي.
- آسمان په ولاړ وي لاټ به مرد اروی.
- آسمان چی غوریږی هومره نه اوریږي.
- آسمان چی وریځی ښوروي باران به وکړي.
- آسمان لري مځکه سخته.
- آس که ټکی دي میدان لنډ دی.
- آس یی په سوو ګټی، میړونه یی په خولوګټی.
- آس یی خپله، غمچینه دې له ځنګله چی یی نه وهی نو کله.



www.enayatshahrani.com

- آس دی له بله تازینه دی له ځنګله څه اوس نزغلی نو کله.
- آس یی و هغوته ورکړ چی د تانګ د تړلونه وو.
- آموخته خور بلا خور.
- آموخته خوربنه دی که میراث خور؟ ویل آموخته خور.
- آئینه د چا عیب نه پټوي.
- آس پر دي سپور پري میري.
- آس چی خدای خوار وی نو یا بوتری کړي.
- آس چی د خرو سره و تړي د خره خوي زده کوي.
- آس خپلی وربشی خپله زیاتوي.
- آس یی پرخره بارکړ، خویی پری مردار کړ.
- آس لره په لاس لره.
- آس می در کړ، خو پري سپریږیي به نه.
- آس زړه شوه له شو که و نه لویده؟.

www.enayatshahrani.com

# الف

- ابامه گوره – خورچین یې گوره.
- اتڼه وران شی چی امرالدین ناري کوي.
- ابا او بو یوور، ویل یی ابا څه کوی غاړي غرونه یی یووړه.
- اختر پټ میړه نه دي.
- اختر پټ میړه ته دی چی تیرسی.
- اختر تیر سومتایی یی هیره نه شوه.
- اختر چی تیرشی، نکریزی په دیوال و تپه.
- اختر دیوه سړی ندی.
- اخر عمر د خواری دي.
- اخوریی جوړ کړ، ویل یی آس به خدای راکړی.
- ادب له بې ادبه زده کیږی.
- ادب له زحمته اخیستل کیږی.
- ادې چې زوروره ده، دبابا د زوره ده.
- ادی مه یی پو که چی سړیږی.
- ارزان بی علته نه وی-ګران بی حکمته.
- ارمان به کړی هلکه، بیا به نه مومی اد که.
- ارمان چی وروستی عقل لمړی وایی.
- اړسترګی نه لری.
- اړه په اړه خلاصیږی.

www.enayatshahrani.com

- ازاری ته په ازارولو ګناه نشته.
- ازمویلی څوک نه آزمویي.
- ازمایلی بیا مه ازمایه.
- اسیاوان چې تسپې اړوي ژوند ه ګړی خطا کوي.
- اصل بها لري.
- اصیل په جنډه کالو کې هم معلومیږي.
- اصیل په ګډله کښې کم اصل کزاره کښي.
- اصیل ته اشارت کم اصل ته کوتک.
- اصیل چې خوارشي نه خاوري کیږي.
- اصیل خطانه لري کم اصل وفانه لري.
- اصل کوټ ورکم اصل څپړور.
- اشه شه بابا راشه، قاضي غلام غوندي مویي لري.
- اغزی له اولی ورځې نه تیره وي.
- اکو یو په بل پوری پکو.
- الابلا به ته کړې – لور اوزوی به پرې ماړ ء کړی د مولاجواب په څه کړې.
- الف که څه نه لري د ب دی څه لښکری ولیدی.
- الم نشرح هغه الم نشرح ده خو خوله د ملا عثمان غواړ.
- آلو په شپتالو نه پیوند یږي.
- امانت مځکه هم نه خیانتوي.
- انا سپره کټوی باندی.
- انا مړه شوه تبه یې وشلیده.
- انسان بې وزره مرغه دی.
- انسان په شان د ګل دی.
- انسان تابع د احسان دی.

- انسان ترکاڼي کلک ترګل نازک دی.
- او باز یم خوبي ګودره نه ګډېږم.
- ابو اخیستی زګ ته لاس اچوي.
- اوبه په ډانګ نه بېلېږي.
- اوبه په اوبو شیدي په شودو
- اوبه په ځی نه په جګه ځوړي.
- اوبه په کمزوري ورخ ښی ځي.
- اوبه پورته وهه کښته یې لرده.
- اوبه چې تر سر تیرې شي څه یوه نیزه څه سل نیزې.
- اوبه چې تر غاړي ورسیږي زوی تر پښولاندې کیږي.
- اوبه چې ډنډشي خوند یې بدیږي.
- اوبه تر حلقه زوی تر پښو.
- اوبه د سره خړیږي.
- اوبه که هرڅو بندي کړي خپله لیاره پیدا کوي.
- اوبه د لوښي له مخه ښکلې کیږي.
- اوبه که بري دي تر بله لري دي.
- اوبه ته لیدلې دي که پوی یې په لاس کې نیولې.
- اور او اوبه نه سره یوځای کیږي.
- اوربش څه په مینځکه کې څه په جوال کې؟
- اوربشې که په جوال شي د خره برخه لپه وي.
- اور ته خپل او پردی یو دی.
- اور چې مړي تاوی زیاتیږي.
- اور له خپلې لمنې لګیږي.
- اوړه په موټې غوړي په ګوته.
- اوړه دي په اوړو منت دي پر خه.

- اوړه په خیشته پیشته کړی منت پر تناره کړی.
- اوړه د میچنی زوی د خچنی.
- اوړه که تمام دی پیمانه خویبی پر ځای ده.
- اوړه یو موټی نه لرې تنور یی پر بام جوړ کړی دی.
- اوړه یې یوموټی نشته شل یې تنورونه دی.
- او سپنه په او سپنه ماتیږی.
- اوسپنه چی څومره ټکیږي هغومره پخیږی.
- اوسپنه څومره چی سره شی هغومره پخه شی.
- اوس دي اوښی کړي چی دي ماشو پروړ دي پرو خوړ.
- او ښان درانه بارونه وړي خوراک یی ځوز دي.
- اوښان بیګاریدل ګیدړه هم ځغاسته چی بی پرسی ده.
- اوښان نه ژاړي بارونه یې ژاړي.
- اوښ په خپلومتیازو کی ګوډیږي.
- اوښ په بده نه وهل کیږي.
- اوښ  په چج نه درنیږی.
- اوښ تر پله لاندي نه شی پټیدای.
- اوښ ته یې ویل الفبندي و که ده ویل په کومو لاسو؟
- اوښ ته‌یی ویلی غاړه‌دي کږه ده، ده ویل کوم ځاي‌می سم دي.
- اوښ ته یې ویل لوبی و که، ده جړو نګان د بیخه و کښل؟
- اوښ چی ولاړ مهاریې زه څه کوم.
- اوښ که لوي دی هم د شیدوتمه تری مه کوه.
- اوښ که هر څونه لوي دي الوتی نه شی.
- اوښ می د ګوډه وی مګر د خڅګیر مخ دی نه وینم.
- اوښه هر څه دي بی هوښه.
- او ګره په پوکي نه سړیږي.



www.enayatshahrani.com

- اول سلام پسې کلام
- اول ځان پسی جهان.
- اول حق د ګاونډی دي.
- اول می نه خوړل ګلونه اوس په تالاباغچو کی پانی ټولومه.
- اول زده کړه بیا کوز ده کړه.
- اول کوه احتیاط، وروستی مه کوه پریاد .
- اول میړانه په سیالی وه اوس سپیتانه په سیالی ده.
- اول امیانی ګوره بیا نو شی رانیسه.
- ایلچی ته نه بند شته نه زندان.

www.enayatshahrani.com

# ب

- بابا به ویل ادی به منل.
- بابا چی غلا کوله اول یې له ملا کوله.
- بابا دي خداي وبخښي خو د سهار په لمانځه سست ؤ.
- بابا که کار کم کاوه خو محکم کاوه.
- بابا لري مي واده کړه چي ستا کنډولی واړه کټوري کړم.
- بابا ګیلی کوي – ادي پیړي کوي.
- با چهان چی د او کړي پیړوي خوري وس یې لري.
- با چهی با چهانو لره ښایې لویی خدا لره.
- باد چی پاسنی شی د باران دستی شرنګی شی.
- باران په تیراوشو خره یې دلړه مړي یو وړه.
- باران وشو چاکو نه پټ شول.
- بارونه یې ترل او ښانو ژړل.
- باریې په شا نه شوورا یو لرګی یی بل کښیښود.
- بازار ته څه وړي ویل طالع.
- باز چي هر څومره خوارشي چونګښی نه خوري.

- باز خانه – بی بازه نه وی.
- باغ چي لاښ شی باغوان يې خوار شی.
- باغ چي پوخ شو باغوان يې کوږ شو.
- باغ د باغوان دی ژرنده د ژرند ګړی.
- باغ که باغوان لري چغال هم خدای لري.
- باغ که خرابوي الوپکښی ږدي.
- بام يې لوړ، کوريې ډګر.
- بټی کوټی چي خوار شی نری و ريجی خوري.
- بخت په ټنډه دي نه په منډه.
- بخت چي کوټه شی باچهان ټکري خوري.
- بخت چي د زور مل شی هر کاريې جلبل شی.
- بخت دهغه چاچی غم يی پر بل چا.
- بخت يا په کوڅی دي يا په کوټی.
- بخت چي کوټه شی تندی ترتن ټکری خورينه.
- بخښښ په لک حساب په کک.
- بد با نجڼ آپت نه وهی.
- بد بوټی بلا هم نه وهی.
- بد به يم نه له وروره سره.
- بد په بلا اخته ښه دي.
- بد په سلام نه ورکيږی.
- بد تر بور په بد ځای کی په کاريږی.
- بد خصلت سړی يا د يو دی يا پيری.
- بد درد ته بده دوا په کار ده.
- بد زوی نه زوی، چی بدګرځی بد به پرځی.
- بد عادت چی زور ورشی عقل مرور شی.

- بدمه راسره کوه ښه دی نه غوارم.
- بد مه کوه بد به نه وینی.
- بده ماندینه پریښوده کیږي، بد کښت نه پریښول کیږي.
- بده ماندینه، تنګه موچڼه ده .
- بده ماندینه کړه لښته ده ماته بهشی سمه به نشی لکه چي په دری ژبه وايي.
- زن بد در سرای مرد نکو – هم درین عالمست دوزخ او.
- بدنیتی د مال نیستی ده.
- بد یاران په بده ورځ په کاریږی.
- بدی پر بدی واوښت بدی ټنډتری لاندی واوښت.
- بدای له خواره ګټی خواريې له بډایه.
- بر بنډ له لاری اوړی اووږی نه اوړی.
- برج دې تر آسمانه، سپی دی له لوږی مری.
- برج می جوړاوه رانه کاداڼه شوه.
- برخی ټولی ازلی دی نه په زورنه په زاري دی.
- برخی ویشه میړونه ګوره.
- بره يې وهه کوزه يې لار ده.
- بریت ښه بریت دی خو په خوشی شونډه ولاړ دی.
- بریې شته برکت يې نشته.
- بزه په خپل ښکرنه دریږی.
- بزه چی پر بام و خیږی لیوه ته هم شکنځل کوی.
- بلاویده ښه وی نه ویښه. یا لکه په تورکی ژبه چی وایی: اوقیلب یاتګن ایت ني قویروغینی باسمه! ترجمه: «ویده سپی لکۍ تر پښپو لاندی مه کوه!».
- بلا په مخ وهله کیږی نه په شا.

- بلا چي په مخ ونه وهی پرځټ نه وهله کیږی.
- بلا دهغه پخی چی یی ګړتګ پر بریتو ځاځی.
- بلا پر بلا واوښت بلا پوځ تری لاندی واوښت.
- بلا له خپلې لمنې پورته کیږي.
- بلا وه برکت یی نه وه.
- بل ته کوهی مه کنه نه چی په خپله پکښی ولوېږی.
- بل ته ګوته نیوله کیږی او ځان ته نه.
- بلخه بی تمیزه، لالی درته راغی بی کمیسه.
- بلمنګی خواږه دی له پر د یو څه مانه دی.
- بنده اریان خدای مهربان یا لکه چی په دری ژبه وایی: (مشکلی نیست، که آسان نشود - مرد باید که هراسان نشود).
- بنده راشه د خدای خپل شه، لکه پرځان داسی پر بل شه.
- بنده چی داد کی نو الله یې یاد کی.
- بنده وتړل بارونه مولا وکړه خپل کارونه.
- بنده او خپل عمل یا خپل عمل د لارې مل دی.
- بنده هم بی وزره مرغه دی.
- بوت نه خپلی کیږی.
- بوچ له اختره خلاص دی.
- بوری هم ژاړی واری هم ژاړی.
- بیاله که تررو د لاندی اوبه پکښی بهاندی.
- بی اتفاقی د کوروراني ده.
- بی چرګه به هم سباشی.
- بی حرکته برکت نشته.
- بی ډوډی اوسی بی کوره مه اوسی، وږی اوسه مه بې کوره.
- بی ډوډی مه ګدیږی.

- بیړی په نیت چلیږی.
- بې زحمته راحت نشته.
- بیزاره دی له خیره خوسپی دی درو ترړه.
- بیزی په بد راضی.
- بې سته ځوک جنت ته نه ځی.
- بې ښځی سړی ښه دی نه په کور کښی همیش جنګ.
- بې عقل دونه په بل نه کوی لکه په ځان.
- بې عقل جمال خوښوی، عاقل کمال.
- بې عقل زوم د خوابنی په باتو ختاوزی.
- بې کاری د بدبختی زانګو ده.
- بې کسه بدی نشی پاللای.
- بې ګود ره چی ګډیږی خو د به دی سیند وړی.
- بې ګو دره مه ګډیږه.
- بې مزده کارمی نه زده چی مزد راکی کارمی ښه زده.
- بې میوه ونه ځوک په ډبره نه وهی.
- بې وخته میلمه یې له خپلی خوری.

www.enayatshahrani.com

# پ

- پاړوګرد مارله لاسه مري.
- پاک اوسه بی باک اوسه.
- پټه وم پټه به اوسم.
- پټه خوله د مرګی لیوه دی.
- پخواله پخوا سره ولاړ.
- پر اوښ سپورسپی یی وخوړه.
- پر پچه وختی کشمیر دی ولیده.
- پر پردی خوله توره نه وهله کیږی.
- پر پوست سکه نه وهله کیږی.
- پر خره یوه لپه اور بشی ډیرې دي.
- پر خره سپور دی، خریې لټوی یا لکه چی په دری ژبه چی وایی: (خرتهٔ پام خرمی شورم) خر زیر پایم، خر می پالم.
- پر دي اور ترو اوري سوړدي.

- پر دي خرشل منه باروړي يا لکه چی په دری ژبه وایی (مال مردم زیر کُنده).
- پر دي خر په شا زورور دي.
- پر دي زوي نه زوي.
- پر دي جنګ نیم اختر دي.
- پر دي سپی په ډوډۍ خپل دي.
- پر دي کټ تر نیمو شپوو ي.
- پر دي عیب د کلی رنځ دي.
- پر دي غم ترو اوری سوړ دي.
- پر دي غم نیمه ښادی ده.
- پر دي غوښه په ځان پوري نه ښلی.
- پر دي موچڼه پرپښه معلومیږي.
- پر دي مال نه خپلیږي.
- پر دي شورواته پیاز په ګنډه وهی.
- پر دي شی نیمه خوادي
- پر دی مورنه سور کیږی.
- پر دي ډوډۍ ترزرمنه تیږی لاندي ده.
- پر دي ورکړه نیمه خواده.
- پر دي خواړه یا پور دي یا پیغور دي یا لکه چی په دری ژبه وایی: (نان مردم نخور! چون نان در شکمت نمی ماند ولی منتش دایمی می ماند).
- پر ړانده شپه او ورځ یوه ده.
- پر-سپی هډو کی ډیر دي.
- پرښو تلوار پربدوتامل.
- پر کورنګ نیمن دانه ډیره ده.

- پر کور خاوري خړلی ښی دي نه د هنجی کروت او غوړی
- پر کورو هغه ډوډی ښه ده نه د بل کروت او غوړی.
- پر ګازره نه یم پر خرپ یې یم.
- پر لڅه خیټه یې ملاتړلی ده.
- پر لوړه وخیږه ځارو کړه خلک چی کړي هغه کارو کړه.
- پر ملایې لمبول دي بخښنه یې په خداي.
- پر هغه دي خدای میلمه چی میلمه یې نه وي لیدلی.
- پر یوه باندی چی دوه شی رښاورځ پرې توره شپه شی.
- پر یوه لاس کښی قرآن په بل کښی توره یا لکه چی په دری ژبه وایی: (یک دست در طبق، یک دست در یخن).
- پړمی کړه مړمی کړه.
- پسرلی څه ځان اګاه کړه ځان ته زیړه غوا پیدا کړه.
- پس له واده څوک سندري نه وایې یا (بعد از توی و نغاره زدن).
- پښتون سل کاله وروسته و اروا خست ویلیې چی اوس‌می هم تلواروکړ
- پش موړ شو چی پاتی یې کورشو.
- پښه دي پاس وي که په خره وي که په اس وي.
- پښی هلته ځی چی زړه ځی.
- پښی لوڅی نه تنګی موچنی یا لکه چی په انګریزی ژبه وایی:
Your feet is your second heart.
- پشی به د اوړو جوړه کړم میو به څوک وکوي.
- پشو ته دي خدای وزرنه ورکوي که نه د چوغکو تخم به ورک واي لکه چی په دری ژبه وایی:
(گربهٔ بیچاره گر پرداشتی – تخم گنجشک از زمین برداشتی).
- پک په پمن پوري خاندي.
- پک ته چی پیغورور کوي نو ورته وایي ځنیوره.



www.enayatshahrani.com

- پک نه په سرتار لري نه په چړی کارلري.
- پک نه په سر تارلری نه په چا کار لری.
- پکه دا دي لابله سپکه.
- لینډا ګان (پکان) مولیدلی ماغزه وتلی مونه وه لیدلی.
- پک نه سر لري نه یی په جا اوبی.
- پکی سرپه خیال کی چی میړه یی شا بازخان دي.
- پګړي چی له سره ولویږی په اوږوتکیه شی نه ده لویدلی.
- پلاریې کړه خوپه لاریې کړه.
- پلار دی سپرو مړکی که پلو؟ ویل څه یی کوم زما دښی ووت که سپرو مړ کړ که پلو.
- پلاریې ګټی زوي یې څټی.
- پلاریې په اته زوي یې په شپیته.
- پلار ګټلی ز وي ته هیڅ دي.
- او یا: پلار ګټلی زوی ته آسان دی.
- پند انه راوړه شړومبی وړه کور دی خپل دی؟
- پنډیې مه ګوره ایمان یې ګوره.
- پنځه ګوتی سره یو دي خو برابرې نه دي- په دری ژبه: پنج انگشت برادر است برابر نیست.
- پنځه ګوتی په خو له نه منډلی کیږي.
- پور پرغاړه میږ مرداره.
- پور په ورکړه خلاصیږی.
- پور په پور نه خلاصیږي.
- پور چی تر سلو پور ته شی وچه یې مه خوره لکه چی په دری ژبه وایی: (قرض که به هزار رسید قند آو بزن!).
- پور چی ځنډیې شی خورونی شی.

- پورچې خندی شی جنګنی شی.
- پور ته چې ګورم پاڼ دی کښته ګورم پړانګ دی. (پیش جر، پس تبر)
- پور د بدو برخه ده.
- پور دي په پورمنت دی نور.
- پور که د پلار شی خواږه پري زهر شی.
- پوروړي به له نیستمن څه یو سی.
- پورور کړي غلیم وژلی.
- پوره ورک دي کړه دوه کوره.
- پوستین یو تودوي بل نه ځایوي.
- پوهان دتکی پسی نه ګرځی.
- په آسمان ستوري نه لري په ځمکه سیوري.
- په اوبو څوک نه چاغیږي.
- په اوړي یې ګټه په ژمی یې خټه!
- په بادراغلی په بادتللی.
- په مستی کښی بنګړي ماتیږی.
- په یارانه کې بنګړی ماتیږی.
- په باران پسی پټی ګرزوي په خیرات پسی شکري.
- په باغ کښی الو په کلی کښی بلوغو.
- په بدلو څوک نه لویږي.
- په بدو زوی ښه پلار یادیږي.
- په پټه خوله څه نه کیږي.
- په پردي کورسل میلمانه هیڅ دي یا لکه چې په دری ژبه وایی:
خرچ اگر از کیسهٔ مهمان بُود - حاتم طایی شدن آسان بُود.
- په پردي مال ځوانی نه کیږي.
- په پردې ملک خانی نه کیږي.

- په پوښتنه سړي مکې ته ځی یا لکه‌چی وایی: (جوینده یابنده است).
- په تیاره کښی خپل سیوري هم نه ښکاري.
- په تیاره پسی رڼا ده.
- په تیر پسی پرتاب نشته.
- په تیرو اوبو پسی چا بیل نه دی اخیستی. (پشت آو رفته بیل نه وردار)
- په تش ګومان بدبخت وخوړ خپل ایمان.
- په تش لاس چی اخلاص کړي ځوک به خلاص کړي.
- سل بابړ د یوه لوړ.
- په ټول بابړ یو لوړ.
- په جار جار می دښه نسته، ګیډه می مړه که.
- په جنګ کښی حلوانه ویشله کیږي.
- په جنګ یو ګام دسلو کالو لارده.
- په جنګ کښی مړی کیږي.
- په څاڅکی څاڅکی ډنډ جوړیږي یا لکه‌په دری ژبه: (قطره، قطره جمع گردد و انگهی دریا شود).
- په چاچی د خدای نظر شی توري خاوری ورته زرشی.
- په چغل کښی اوبه نه دریږی.
- په خپل کسب مه شرمیږه.
- په خپل کور کی میږي هم زورور دي.
- په خپله خر نه لري د بل په آس پوری خاندي.
- په خپله ډوډی مړپه کلی نازولی.
- په خندا پسی ژړا ده.
- په خواره مځکه کی هرو ابنه شین کیږي.
- په خواري څوک بد نه ایسی په بیکاری بد ایسی.

www.enayatshahrani.com

- په خوله کښې ګوله نه پټیږي.
- په خوله دې شین پسرلی په زړه دي کړنګ ژمی.
- په خوله صاف په زړه خلاف.
- په خوله تنګ په ګیډه لوی.
- په دوبې چیرې وې چې په ژمې سیوري کوي.
- په در نود روند په سپکوسپک.
- په دوه بیړیو پښې مه ږده.
- په دنیا باورمه کوه کله لوړوي کله ځوړ.
- په ډېرو کې خوره په لږو کښې یې ویشه.
- په رنګ ښایسته په عمل خوار خسته.
- په ړندو کښې یو سترګی پاچا دې.
- په زړه هوښیار په خوله بې کار.
- په زحمت پسې راحت شته.
- په زهیرو زړو ګوتې مه وهه.
- په ژرنده کښې دې شپه شه، دزوم کره دي مه شه.
- په ساتیرې کې تل خوابدې پیښیږي.
- په سپکو سپکه په درندو درنده.
- په سپین سرمزو په سر.
- په سپې د خاوند زړه بد یږي.
- په سترګو ګوري په زوي توړې.
- په سترې مشې د چا څه شي.
- پړه سینه چې کیږي به جنګ کله موندل کیږي.
- په سلووهلې ښه دې نه په یوه پړ.
- په شرم هغه شرمیږي چې پرې پوهیږي.
- په شړومبو که چاغیدلاې غرک به چاغه شوې و اي.

- په شوتلو کښې چې واښه کوی په دي کښې دی هم چل دي.
- په شید و سوي مستی پوکی.
- په شپه کښې هر څوک بیرېږی څوک حال وايې څوک يې نه وايې.
- په شمله دې شوم غلطه کور ته چې دي راغلم يوه اوښه وه بله کته.
- په ښادې دي ښاده نه شوم په غم دي توره تلبه و سوم: لکه چې په دری ژبه به آتشش گرم نه شدم، دودش کورمان کرد.
- په ښو پردي خپلیږی یا (به زبان شیرین مار از خانه اش می برآید).
- په ښه ورځ هم بده ورځ نه هیریږي.
- په ښه کی ورور په بده کښې پیغور.
- په صورت کشی نري دې په کار کښې ګرندې دي.
- په ظاهر دوست په باطن وروست.
- په عمل کشر په عقل مشر.
- په غرمويې وګته په سیوري يې وخوره.
- په غره کښې اور بلیږی سورنا چې ورته نخیږی.
- په غم پسي ښادي ده.
- په غم کی ناری وی په ښادی کی نغاری.
- په غوجل کشی یوه میر رنګ د ټولو بد کړی.
- په کام پسی ناکام دي.
- په کور کښې يو ټک دارونه لري پر ځان يی نو غمباره ایښی ده.
- په کور کی نه سوړ سک نه پیاز، اوږی دواز ګو.
- په ګرزید نه مري په کښنستومري.
- په ګور کی يې غوانه در لوده د ګوروان سريی مات کی.
- په ګټه نه پوهیږی خوراک ته يې کړیږی.
- په ګوړه ويلو سره خوله نه خوږیږی.
- په ګیډه کښې پرزند نوم يې ارجمند.

- په ګوړه، ګوړه کوه خوله په دې خوږه وي.
- په لاس کار په زړه یار.
- په لاس کې یې شړشم زرغونېږي.
- په لوڅه شادغره څخه ډېرې راوړه چاته سوال مکوه.
- په ما او تا چې او ږدې که د سل واره تر سونه موپرېږدي.
- په ما ښام کښې څوک هدیرې ته نه ځي.
- په مځکه کې سیورې نه لرې په آسمان ستوري.
- په لیڅې کې هم ویښته لټوي.
- په مرګ یې ونیسه چې په تبه راضي شي.
- په مړ دا یرو کښې د کې مه وهه!
- په مشرانو مجلس ښایسته وي.
- په ملنګ څه کلنګ.
- په نا از مویلی آشنا باور نه شي کیدای.
- په نابلد سپي هر سړی عونډی واروي.
- په ناسته غومبر نه کېږي.
- په نابود زوی خپل پلار شرمیږي.
- په نن پسې سبا شته.
- په نهومیاشتو کښې نه پخیږی په نهوورځو کښې پخیږی.
- په کار کښې فکر کول د پیغمبر (ص) خاصه ده.
- په وهلو څوک نه سمیږی.
- په هر غار کښې ګوتی مه منډه.
- په هغه دی خدای مه وهه چې وهل یې نه وی کړي.
- په هغه واله کښې چې اوبه تللي وي بیا راځي.
- په هندوستان یې ګټې په چوره کلي یې بایلی؟
- په یارانه کښې بنګړی ماتیږی.

- په یوه باندي چې دوه شي رڼا ورځ پرې توره شپه شي.
- په یوه بړستن کښې دوه لوځ نه پټیږي.
- په یوه تیګې کې دوه توري نه ځاییږي.
- په یوه څپیړه دوه مخه خوږیږي.
- په یوه څپیړه سل مخه خوږیږي.
- په یوه ځنګل کښې د دوو زمریا نوشپې نه سا کیږي.
- په یوه سپاره دوړه نه کیږي.
- په یوه کتاب څوک نه ملا کیږي.
- په یوه ګل نه پسرلی کیږي.
- په یوه ګیده دوه منته مه اخله.
- په یوه لاس کښې دوه هند وانې نه اخستلی کیږي.
- په یوه مړي موړ شوي په ټول کلی سور شوي.
- په یوه موزه کښې دوه پښې نه ځایږي.
- په یوه و دانه په دوهم بیرانه په دریم ډک دګنې.
- په هغه مې مه وژنه چې مرګ یې نه وي لیدلی.
- پیاز دی وی په نیاز دی وی.
- پیر ئا نوته عزنی څه دي.
- پیر که خس وي د مرید بس وی. (پیر ما خس است، برما بس است)
- پیر نه الوځی مریدیې الوځی. (از آش کده، کاسه داغتر است)
- پیشو چې ایسار شی ونې ته خیږی.
- پیشو چې جنګ کوي منګولی مخ ته نیسی.
- پیل که له تندي مړشی یوز نګون او به یې لاپه نس کښې وی.
- پیل چې ژوندی وي یو لک وي چې مړشی دوه لکه شی.

# ت

- تا به ولی ما به خوږ کی.
- تاته یې لور پخوي – موږ ته یې تنور پخوي.
- تاته یې ابۍ پخوی ماته یې تبی.
- تا زیان چی هوسی وهی دهغو خولی توري وي.
- تازي چی ترتازی پاته سو لکۍ یې غوټه پري که.
- تخته چی په تخته جوړه شی ترکاڼ ته څه حاجت دي.
- تر اوبو د مخه موزه مه کاږه.
- ترباغ یې موری لویه ده.
- تر بورته بی وروره مشی وروړته بی زویه.
- تر بوروژنه خوشرموه یې مه.
- تربور که خرشی هم مه پرې سپریږه.
- تربور که هر څومره خوار شی د خوار گمان مه ور باندی کوه.
- تر بورد تیری میوړی دی.

- تر بې عقل دوست هوښیار دښمن ښه دي.

لکه چې په دري ژبه وايي:

(دشمن دانا بلندت مي کند – بر زمینت می زند نادان دوست)

- تر بیکارۍ بیګاري ښه ده.
- تر پردی مصری توري لور پر غاړه ښه ده.
- تر پروت زمري ګرځنده ګیدړه ښه ده.
- تر پښنولاندې مځکه مه ګوره لیرې و اتښ ته ګوره.
- ترپلي ښه دی نه وتلی.
- تر تیارې ورخه مه تېرېږه!
- تر نشه ولاړه په خرپ نړیدلی ښه ده.
- تر څو چې رښتیا راځي دروغوبه کلي وران کړي وي.
- تر څو چې یوز وژلی نه وی پوست یې مه خرڅوه.
- تر خوړلو یې لاامید ښه دی.
- تر خه خوره تر خه مه وایه.
- تر دی یې درتیر هغه توریې ستا ګنډهیر.
- تر رمې یې سپی ډیر دی.
- تر رنګ یې خوند ښه دی.
- ترزرین پوښه پیاده دغوایې سپور ښه دی.
- تر سړی ګټې تود تا و ان ښه دی.
- تر سلو د اوو یوه بر منته ښه دی.
- تر سل منو خوړلی یو چارک کرلی ښه دی.
- تر کاڼی د بیزو ګانو کار نه دی.
- تر کوره به در سره یم نه تر ګوره.
- تر شور یې په شوروا خوشاله دی.
- تر مزد یې شکرانه ډیره ده.

- تر مړه زمری ژوندی ګیدړه ښه ده.
- تر خور او پلار خوږی راځه که غوښی خوری؟
- تر نکل یې و پوهیدی ډیر دی.
- تورخ تیری اوبه بیرته نه راګرزی.
- ترور نیمه مور.
- ترورى تروری موږ په سره جوړ شو تاته پاته مخ توری.
- تروروړ روزلی بریشی ګومل ښه ده.
- تروزلی ورور پری ایښی ګومل ښه ده.
- ترویش په چور خوشاله دی.
- تربا کی دوه په ایکی.
- تریوی خرما دوی وځکی ښی دی.
- تږی په خوب کی اوبه وینی.
- تږی سپی یې پر کور نه اوبیږی.
- تش لاس نرښحه کوی.
- تشه لاسه! ته می دښمن یې.
- تښتی له سیرلی غرول کړی په زمری.
- تلتک دی د میلمانه کوسی دی د کور بانه.
- تلخی دځنکندن ده که دشپه پربل وطن ده.
- تله د چامخ اوخت نه ګوري.
- تنباکو که ښه دی عملی ته خوارږه دی.
- توبه دمیږو خالی ده.
- توبه باید دستی وی هسی نه چی په سستی وی.
- تو په شونډ کیږی.
- توتکی وایې بی آزاره ده ویلی ورشه د سیند د غاړی د ماشونه و پوښتنه.
- تور توتان له تا قربان.

- تور په توره شپه اخله چې ژيړوينې شين مه اخله.
- تور د تور دي زير دا نجنو دي.
- تور سپي دا ورکړي په بيه خرڅوي.
- تور ليمڅې په صابون نه سپينيږي.
- توره په اصل والې غوڅه کوي.
- توره سره ښه د مخونه دورور په وينو.
- توريالي تول ننګيالي.
- توريالي له شانه وهل کيږي.
- توري به لالا وهي مړي به عبدالله وهي.
- توري چې باتيږي جګړه پيښيږي.
- توري چرګې سپنې هګۍ اچوي.
- توري ځوانان وهي منصب سدو اخلې.
- توکل نردي انديښنه ښځه.
- توکړي لاړي بيرته خولې ته نه راځي.
- ته به يې خپل و يولي دي به دي زوم وخيږي.
- ته ترما جارزه ترتا جار.
- ته خوجينګ داړي وي زه دي نه خندا مړ کړم.
- يا تا خولې جينګه ده ماله خندانه مړ کړي.
- ته خودي ډاګ وي زه دي درسره دي ډاګ کړم.
- ته خود غرو وي زه دي له کمرو و غورزولم.
- ته خود غونډ و وي زه دي هم د غونډ وکړم.
- ته څه سخندر لرې لکه چې ناري اوري.
- ته ښه سړي يې د پلار دي دامانه کړي.
- تياره بدان خوښوي رڼانيکان.
- تيرپه هير چې تېرشو نو هغه هېر شو.


www.enayatshahrani.com

- تیزه تیږه ماتوی.
- تیزه چاړه چاړه نوک دی.
- تیږه په خپل ځای درنده وی.
- تیږه چرځی د خوآر په سرلګی.
(یا هر جا سنگ است، در پای بزلنگ است.
- تیږه چی چیری پرته وی هوری درنده وی.

www.enayatshahrani.com

# ټ

- ټال کښې ځنګيده په سرګنډوو دريده.
- ټپوسه خپله پوسه، تاته چاويل چې د بل چرګوړی نيسه.
- ټک له دواړه لاسو خيږی.
- ټيغ له ماړه نسه خيږی.
- ټينګ عزم غرونه ماتوی.
- ټک د يولاسه نه خيږی.

www.enayatshahrani.com

# ج

- جارتر هغه زوی چی تر هر چاوی نیک خوی.
- جار دی شم روپی چی هم سپریې هم ګدی.
- جامه چی د پور شی په ځان پوری دی اور شی.
- جامی خو دی ښی دی چی په ګیده ځنګه یې.
- جاهل ته دوه ځله سلام اچوه.
- جټ یم هغه تور، نه می ننګ شته نه پیغور.
- جغ پرغاړه اوجغ غواړه.
- جفا مرګی ښه ده نه بی اتفاقی.



www.enayatshahrani.com

- جومات که ونړېږی محراب یی پرځای وی.
- جنګ په وسه ننګ په غله.
- جنګ په شید یاره ښه دی جنګ په شید یاره نه په درمنده.
- جنګ جنګی کوي ننګ ننګی.

جنګی سپی هغه دی هوسۍ ژرښکار کوی.
اویا میړه هغه دی چی هوسی ژرښکار کړی.
جنګ چی نه کوی ډ بره لویه اخلی.
جنګ سوړ شومیری تود شو.
په غیرت من د نیستی زور نرسی.
جولاشوی نه یې بیادی نیچی پتهی کړی.

www.enayatshahrani.com

# څ

- څټه په ملګري پورته کيږي.
- څراغ چې په خپل کور کښې لګيږي د ګاوندي کورته حاجت نشته.
- څښتن په سپي حکم وکړ سپي په لکۍ.
- څښتن (خاوند) يومزل کوي سپي دوه.
- څمڅه په ځان غره شوه چې په دي اوګره سړه شوه.
- اويا: څمڅۍ په ځان غره شوه چې پدي اوګره سړه شوه.
- څنګه چې سوال هغسې يې ځواب.
- څنګه چې ژرنده هغسې يې دوله.
- څنګه چې جومات هسې پوزي.
- څنګه وي هغه سياه بخته چې څلويښت ورځې نه وي نيک بخته.
- څو چې ونه ويشل شي خبر به نشي.



www.elayatshahrani.com

- څورښتیا ښرګندېږی دروغو به کلی وران کړی وی.
- څوک چی دیوي منې په قدر پوه نه شی هغه د ټول باغ په قدر نه پوهیږی.
- څوک چی اوښان ساتی دروازی به لوی ږدی.
- څه چی کري هغه به ریبی.
- څوک چی لاس در اوږد کړی مه یې غوڅوه.
- څوک چی خوب کوی میښه به یې نر کټی زیږوی.
- څوک چی زحمت ونه ګالی راحت به ونه مومی.
- څوک چی با روړای نشی اوږه نه ورته نیسی.
- څوک چی دی طلبګار وی هغه به دي یا روي.
- څوک چی پر مخ ځی باید تر شا وګوری.
- څوک چی غوا خرڅوي له پړي به یې تیریږي.
- څوک مه وهه په ګوته تا به نه ولی په لوټه.
- څوک مه وهه په نوک تا به نه وهی په سوک.
(نزن در مردمان به انگشت - که نزنن در ترا به مشت)
- څوک نه وایې چی زما د غړګی خوند بد دی.
(تاسمند زمانه در دوش است - کس نگوید که دوغ من تُرش است)
- څوک نه وایې چی زما شولمبی ترخه ده.
- څوک وایې څه و خورم څوک وایې په چایې و خورم.
- څو کوچنی ونه ژاړی موریې تیٔ نه ور کوی.
- څونه چی خرګی هغونه یې بارګی.
- څویې ونه شاربی کوچ نه کوی.
- څه توره تیره وه څه اناورسته وه.
- څه چی تپاروی هغه د باروی.
- څه می په هغه پسرلی چی نه می غواڅري نه خوسی.
- څه چی په کټی کښی وي هغه په ځمڅی راخیږی.

(آنچه در دیگ است در کفلیز می آید بیرون)

- څه خوره څه پریږده.
- څه چې پلار او نیکې دې کولې.
- څه د کور څه دې پور.
- څه کوه هغه چارچې نه دې مور کړي وي نه پلار.
- څه راوړه څه یوسه.
- څه غرپناه څه ور پناه.
- څه زه بدوم څه دښمنانولاسونه راپسې ټکوهل.
- څه ژرنده پخه وه څه غنم لانده وه.

(چیزی گندم تر است و چیزی آسیا کُند است)

- څه مړه څه ماړه.
- څه وهلې څه پوروهلې.

www.enayatshahrani.com

# ځ

- ځاځی پورغواړي توری لانور غواړی.
- ځان پخپله د بلاء په خوله کښی مه ورکوه.
- ځان ته ښه وايې او ښه نه کړي دا څه وايې داڅه کړی.
- ځان دی وخوری نو کری چی به لړو ډیر لری.
- ځان ځانی خپله خواری.
- ځما پسته غا ړه اوستا زیږه رسی.
- ځمکه لکه سره زر ده.
- ځمکه هغه سوځی چی اور پری بلیږی.
- ځلمی د ځوانی په نیشه مست دی د چانه اوری.
- ځنګل چی اوراخلی وچ اولانده په کی ټول سوځی.
(جنگل که درگرفت، تر و خشک می سوزد).
- ځوان پر غړی زوړ پرلری.

- ځواني نه پټېږي.
- ځي ځي آبازو ته به راځي.
- ځواني دزړورو اس دی.
- ځواني يوه نيشه وي نه چې هميشه وي.
- ځي خوځي نو په ځان ولې ناوخته کوي.
- ځای ته گوره بيا نوښوره.
- ځای درتنگ او به در خړي.

www.enayatshahrani.com

# ح

- حاجی په مکه کښی لټوه چرسی په تکیه کښی.
- ړوند د خدای څخه څه غواړی؟ دوی سترګې.
- حال د منصور وایه چی سریې په دارسو.
- حرام چي د چا په کور ننوتلی وی حلال یې هم ورسره تللی وی.
- حساب په مثقال بخشش په خروار.
- حساب په کک بخشش په لک.
- حسد هسی نیکی خوری لکه بل اورچی لرګی خوری.
- مریض تش لاس ګرځی.
- حق اخر حقدار ته رسی.
- حق خپل ځای نیسی.
- حق په تا ، حق له تا .
- حق وایه د خدای له پاره توره وهه دورور له پاره.
- حقی روژی تیری دی نفلی زه نه نیسم.
- حیادار حیا کوی بی حیا ویل زما څخه بیریږی.
- حیوان قیمت په بارجګوی انسان یې په کار.
- حیوان چی بی کاره شی هم خوړل کیږي هم خر څیږی.

# چ

- چا په کلي کښې نه پريښود ده ويل آس مې د ملک کره وتړی.
- چا په ورا [1] کې نه پريښود ، ده ويل د مخ اوښ زما دی.
- چاته چې شی نه ور کوی ورته ښکاره کوه يې مه.
- چا په قافله کې نه پريښود ، ده ويل په مخنی اوښ سپريږم.
- چاړه که د سرزرزشی په نس کښې نه وهله کيږي.
- چاړه که د سرزروشی څوک يې په خيټه نه منډي.
- چا مونده ماموندہ.
- چرت يې واهه خورجين يې بايلوه.
- چرسی زوی نه زوي تريا کی دوه په ايکی.
- چرګ په تالی کی ګوره.
- چرګ دی يم خو حلالوه مې مه.
- چرګ په ډيران مه ګوره په کاسه يې ګوره.

---

[1] په ځينو پښتنې قبيلو کی د (ورا) پرځای (قافله) هم ويله کيږي.

- چرګ چي ځوان شی پر بام ورو ورو ځی.
- چرګ پر بام کرار تله ویل یې چی بام تر مالاندي ونه نړیږي.
- چرګ د مالګی په ښځلو څه پوهیږي.
- چرګ هسی یو ما رغه دي چی چا ونیو د هغه دي.
- چرګه می نا جوړه ده بانه می ورته جوړه ده.
- چرګه چي بیره شی له پیشی نه کمه نه ده.
- چرګه د جولالاړه نوم د ملک وشو.
- چرګه زما دی هګی د بل کره اچوي.
- چغال آلو ته نه رسیده ویل یې ترخه دي.
(دستم به الغنجار نمی رسه، الغنجار ترش است).
- چغری ښبستن نه موند امرخیلو وطن.
- چغل په خوی غل چی چغلی کوی د بل.
- چنګښه له ما ره سره غځیده دوه ځایه شوه.
- چور په اجاره دي.
- چوغکی دی یو تر بل چا بکی دي.
- چی اختر تیرشی نکریزی په دیوال وتپه.
- چی اړشی (وخره) هند و ته هم ماما وایې.
- چی او به وی تیمم ته څه حاجت دی. لکه چي په دوی ژبه وایې:
آب آمد تیمّم برخاست.
- چی اوبه نه وي ژوندون ګران وی.
- چی اوبو ته وایی پانی سریی لاندی که ترکانی.
- چی او ریې بل شی خدای یې مل شی.
- چی اوښ دی کړویې نړه.
- چی اول لري اخر نه لري.
- چی ایمان وي مرګی څه دي چی مړي وي ملګی څه دي.

- چې بابا ژوندی و داړي په لاس کودي و.
- چې بابا ژوندي و هلته ادي ادې وه.
- چې بابړ يې زما په کتاب پړيې.
- چې بادار حضور شي مربی ترورشي.
- چې با د نه وي ونه نه ښوري.
- چې باد وي د پاسه باران وی سمد لاسه.
- چې باديې وي کينی وريځ زغلی لکه سبزيې.
- چې پټې خوري مولی به زغمی.
- چې بخت نه وی ډانډس نه زده کيږي.
- چې بخت يې تور سی دښمن يې د پلار کورشي.
- چې بد ګرزی بد به پرزی.
- چې بدی کوي بد مومی.
- چې بده غواړي په ده به واوړي.
- چې بل يې وخوري ګل به شی.
- چې بی ملوځی تورماريې پراوږوځی.
- چې بی ځايه اشنايې کړي اوردبل پرخپل تندي کړي.
- چې بی قامه شي بی مقامه شي.
- چې پال ګورم ښه راځی چې يارګورم نه راځی.
- چې پر دې کور ته يې تمه شي يو من غوښه يی کمه شي.
- چې پرلوړه ګرځی په زوره پرزي.
- چې پور ګټی نور ګټه.
- چې په پټه وي په ښکاره لنګيږي.
- چې په تا درشم کور نه ورکوي چې په ماراشی خورکی.
- چې په تمه د سوروشی هغه پاتی په مسروشی.
- چې په ځان يې خوري خاوري کيږي چې په بل يی خوري ګل کيږي.

- چی په تنګ شی نو په جنګ شی.
- چی په توره یې وهلی نه شی زړه یی مه بدوه.
- چی په شاتوسرې په زهرویې مه وژنه.
- چی په نازلویږې په زیار زړېږې.
- چی په ډیر حرص یی غواړې هغه کم مومې.
- چی په ډیر یی واخلی په لږ یې مه خرڅوه.
- چی په ډکه کاسه موړ نه شی په څټلویې نه مړیږی: لکه په دری ژبه چی وایې: (به خوردن سیر نشوی، به لیسیدن سیر نمشوی).
- چی په ډله کښې دې دوست نه وي مه پکښې کښینه.
- چی په نیمه شپه بیدار شی که غل یې زما یارشی.
- چی له زورور سره نه وی برابر د هغو د څنګه مه کښینه زړه ور.
- چی په کور کی غوړی مومی لیونی په غرونو د رومی.
- چی په کار شرمیږی هغه کله پورته کیږی.
- چی په مرګ یی ونیسی په تبه به راځی شی.
- چی په میله کښې سوړسک خوری کور کښې به څه خوری.
- چی پیریې زورور وی مریدان یې ځنځیرونه ماتوی.
- چی لری ارمونی ندی چی شاهدلری دروغجن ندی.
- چی پیشی دغو ښوسر خانه کړی نو ساتی بسی له چا.
- چی پیلان ساتی پیل خانی به لوړی جوړوی.
- چی پیلان ساتی دروازی به دنګی جوړوی.
- چی تر ملکه دی کړه نوور که دی کړه.
- چی تل ځی په غدی، یوه ورځ به یې وی د کم بختی.
- چی توری په تیری شی پول په اشرپی شی.
- چی توری چلیږی وینی تویږی.
- چی ته می ولیدی په ځان می شکرو کیښ.

- چې تیر شو هغه هیرشو.
- چې تیغ چلیږي وینه بهیږي.
- چې جګ ځم وایې مرغۍ آلوزي چې ټیټ ځم وایې دامونه شلوي.
- چې چم لري چمتو دی چې چم نه لري هندو دی.
- چې چنګښي وایې غار تره‌کي وایې کندهار.
- چې چنګښي وایې کور تره‌کي وایې مقر.
- چې چیرته ډب هلته ادب.
- چې حیا مې ځني نشي څه بلا مې ورنه نیسي.
- چې حج حج وایي یو وخت به حاجي شي.
- چې څوک دې ونه پوښتي مه کړېږه.
- چې څه درپوري وینم – ګوړي غوندي دې وینم.
- چې څه نه درپوري ویم هرګز دې نه وینم.
- چې ځوان وم دهري جني یاروم چې زوړ شوم د نجونو پیغور شوم.
- چې خان یې په یاران یې چي یاران درسره‌نه وی توری خاوری دبیابان یې
- چې خاوند یې لیټې خوري د سپو به څه احوال وي.
- چې خاوند یې نیني چیچي نوسپي ته به څه ورو اچوي.
- چې خبره شي بې اثره ترینه پټه خوله بهتره یا په دري ژبه: دهن بسته هزار دینار.
- چې خپل دی وی خوره چې خپل دی نه وی مره.
- چې خدای شرموي داس په شا یې سپي خوري.
- چې خدای یې نه کابنده به یې څه کا.
- چې خدای یې کوي هغه به وشي.
- چې خونه لري خرنه اوزي.
- چې خره شي غوړ نشي.
- چې خوله خوارېږي زړه بدیږي.

- چې خوله لرې قراره، نه به بوره شې نه وراره.
- چې خوی بد شې پلمې ډېرېږي.
- چې خیر دې نه رسېږي بد مه رسوه.
(مرا ز خیر تو امید نیست شر مرسان).
- چې د اختر کالې دې داوې نو دلوبو به دې کوم وي.
- چې د بل عزت کوې د ځان عزت کوې.
- چې دا غر که کوچ کړې طالبان به رانه وچ کړي.
- چې دا ملا کیسې کړې ماغونډه ورپسې کړي.
- چې د بل مور بوره وي ستا به هم بوره کې.
- چې د بنګو بټل زدوېږ اخر به بټګې شې.
- چې د خدای وعده پوره شي د بنده سخه به پخه شي.
- چې د دووښځو څښتن وي سخت به یې ځنکندن وي.
- چې درانه بارونه وړي خوراک یې غوزوي.
- چې دردې شي په ستونی ستا به هېر شي زوی اولونې.
- چې دروند نه شوې سپک په څه شوې.
- چې درومي څه به مومي لکه په دري ژبه چې وایي: گر گران و گر شتا بنده بُوَد هر که جوبند ست یا بُنده بُوَد.
- چې درنی نه کړم ازار به دې څه کړم.
- چې د ړندو پرکوڅه راشي پر یوه ستر ګه لاس ږده.
- چې د سترګو نه لرې شي د زړه نه به هم لرې شي.
- چې دې زده کړه په طفلي هېر به یې نه کړې ترپیرې.
- چې د ګیدړې په ښکار وزې تا بیا د زمرې نیسه.
- چې د ملا نه یې غواړې خدای د نغاړي.
- چې دودنه وي، هلته سودنه وي.
- چې به ډکه کاسه موړنه شي په څټلو به یې هم موړنه شي.

- چې د ګنډل يې نه وي ولې دې څېرل.
- چې دې نيا د رغله ځای ورکوه چې تله لاړ ورکوه.
- چې دوستی کوي په زرمه بېرېږه چې دښمنی کوی په سرمه بېرېږه.
- چې دوه په غيږ ورشی يوځملوی.
- چې ډوډی وي، بی دسترخوانه هم خوړل کيږي.
- چې ډيری وايې لږ کيږي.
- چې قصابان ډيري شی غوا مرداري شی.
- چې د ميږي هوګه راشی نو و زر وکړي.
- چې د يوی منې په قدر پوه نه شی چې ټول باغ ورکړی هم هيڅ دی.
- راځی د بل د کوره پر تا به شپه شی تکه توره.
- چې وخت لری بخت لری.
- چې روپی وي برکی چيلی ډېرې وي.
- چې زر وي زاري د څه ده؟
- چې زر وی زرګر نه ور کېږي.
- چې زرلري زور لري.
- چې زړه خوږيږي له رندو سترګو هم اوښکی ځی.
- چې زور نه وی خواره ږيره به څه وکړی.
- چې زده کړی د رويزه، هېره به نه کړي دا مزه.
- چې زړه تنګ نه وي ځاي نه تنګيږي.
- چې زما په زړه ليکلی، څه پاچا څه لنګ وهلی.
- چې زما سره ځی تل به توري وڅکی خوري.
- چې زور تېرشی عقل هېرشی.
- چې زور د زوروړشی پټی له تخمه سره خپل شی.
- چې زه کونډه يم پر دنيا دې ميړوښی نه وی.
- چې زور شی د هربی ګادری د پيغور شی.

- چې زوی نه ژاړي موريې تی نه ورکوي.
- چې زيار کاږی ګټې د هغو دی.
- چې زما پر مينه نه وي هغه واړه ښه سړی وی.
- چې زما په دودی مست شی هغه زما د مور سيره شی.
- چې ژوندی يم ښه مې غواړه چې مړشوم مه راپسی ژاړه.
- چې ژوندی وی قلندروی چې مړشی چغندر شی.
- چې سباشی غم پيداشی چې بيګاشی غم پناه شی.
- چې ستاله کوره راځی په غلبيل کی راوليږه.
- چې ستړی نه شی موړ مه نه شی.
- چې سر وي خولی ډېرې دي.
- چې سردې نه خوږيږي داغ پرې مه ږده.
- چې سره ونه ميږی سره به ونه ګټی.
- چې سرومال تری جار کړی، نو هر سړی د ځان يار کړي.
- چې سم د چا ويل وي په هر چا به يی منل وي.
- چې سود کوی سود به مومی.
- چې شپه يې ترمنځ وی د هغی بلامه بيريږه!
- چې شرم نه لری ايمان نه لری.
- چې ښه وي بد دي اور واخلی.
- چيرته چې يې ښه هلته يی شپه.
- چې ښيرې کړی هغه به خپلی مينی سپيرې کړي.
- چې غواړی پری واوړی.
- چې عقل نه لري په کور يې تل غم وی.
- چې عقل يې کم وی باريې د روند وي.
- چې عقل يې ويشه ته چيري وی؟
- چې خدای درسره مل وی خطر نشته.
- چې غت شی پرن دی بولي چې ډنګرشی ګرن دی بولي.



www.enayatshahrani.com

- چې غټ وي لټ وي.
- چې غل نه وي له پاچا مه بېرېږه!
- چې غل نه تښتی مل دی وتښتی.
- چې غل نه يې د جوال خوله مه ورسره نيسه.
- چې غلی غلی باسی هغه تل کانی پری باسی.
- چې غواړې پرې واوړې.
- چې غوټه په لاس خلاصېږی حاجت خولی ته نشته.
(گره انگشت را به دندان باز نکن.)
- چې غورځی هغه پرځی.
- چې کوچنی وي پرېښوځی چې لوی شی پراوړوځي.
- چې کری هغه به ريبی.
- چې کلی په نامه لري يو خوی ترنوروښه لري.
- چې کور پر غره لري هم نوی هم زاړه لري.
- چې ګرنګ مې څڅيده خدای راکړه ستايې څه.
- چې قاضی دی مدعی شی د عوا به له چا سره کوی.
- چې ګډې رېبراوه غم به يې وړي.
- چې ګل کری ګل به ريبی.
- چې لاس په خشيو نه شی خوله په غوړونه شی.
- چې لږ خوري هغه تل خوري چې ډېر خوري هغه ګندېر خوري.
- چې لوي غاپی کوچنی تراپی.
- چې له ځانه مست نه وی په بنگونه مستېږي.
- چې لمونځ مې کولای جما تو نه ډير وه.
- چې له مازيږي بلازيږي.
- چې له خدا يه پټه نه وی د بند ګانويې ولی پټوي.
- چې له ياره وايې له ځانه وايې.
- چې ليوه ميږه خوري په توره شپه يې خوري.
- چې مالګه و خوری لوښی مه ماتوه.



www.enayatshahrani.com

- چې مربی لري مربا به خوری.
- چې مړشو هغه پړ شو.
- چې مړه شی امیران، نیمګړی نه دی دا جهان.
- چې مېلمه شی اسوده شی.
(در این روز آدم نی ده سفر باشه نی ده خانه، مهمان باشه ده قوشخانه.)
- چې مېړونه وی هلته کورونه وی.
- چې مشریی قمبر وی اختر یې ما زدیګروی.
- چې ملا وایې هغه کوه چې ملا کوی هغه مه کوه.
- چې مور لري ادکه په صفت به یې واده که.
- چې مال لري اقبال لري.
- چې مور یې بتیاری وي زوي یې نه فتح خان کیږي.
- چې مور میره شی پلار پلندر شی.
- چې مېنه زهیروي کټې یې وهه.
- چې ناچاریی شی سړی توري ته هم لاس اچوي.
- چې نر کچور درسره نه وی بوی دی نه ځی لونګینه.
- چې نغده دي ولیده ځنګه دي وخندل؟
- چې نغری سوړوی اولاد به یې کله موړوی.
- چې نه ځنی خلاصیږی بربړ پري ورځه.
- چې نه کوې حبیب څه به وکړي خوار طبیب.
- چې نه دی کار په هغه دې څه کار.
- چې نه دي وي له موره داسی مه وایه چې وروره.
- چې نه خوري له باغ غم یی پر څه خوري غرمساغ.
- چې نه دي وي له ملا داسی مه وایه چې اغا.
- چې نور یووار خاندي کوڼ دوه وار خاندي.
- چې نوم دي د غله دي ناستی دي په څه دي.
- چې نه دي وی غله مه دي اس مه دي ګله.
- چې نه دي وي سړي مه نغن خوره مه غوړي.

- چې نه دي وينم اخر به مې هېرشي.
- چې نه دي وي له پښتنه له هغو کسانو تښتنه.
- چې نه دي وي غمخور پاتې دي مه شه ميراث خور.
- چې نه غوارم هغه مه را پيښوي.
- چې نه لري هلک، هغه کور دتيغ لايق.
- چې نه لري سړي نه دي کورت خوري نه غوړي.
- چې نه مرم لا به واروم.
- چې نه پوهيږي د هغو دوې برخې وي.
- چې نه لري باغچې هغه دې نه خورې الوچې.
- چې نه لري پنگه، مه کښينه د چاله څنگه.
- چې نه منې د چا پندونه، لاس به نيسې پر سرونه.
- چې نه وي چا کولې څه به يې وې ريبلې.
- چې نه واى د خداى زورونه د هر چا بس وه خپل کورونه.
- چې واک يې د مورو ی گانې په کوروی.
- چې واوري وايه، چې ووينې مه وايه.
- چې وخت د ښکارشي، تازي اسهال شي.
- چې وخت دختې شي، ديتيم پزه وينې شي.
- چې وخوري د نر لغته، داسې به کښينې لکه اورته.
- چې وخوري پيتې، سر دې کښيږ ده په لښتې.
- چې ولاړشې تر بلخه، درسره ده خپله برخه.
- چې ولويدې د اول بخت، بيا دې نه وينم دوهم بخت.
- چې ولويدی خوږ و بی نه شوی: "غلتيدی، هان! افگار شدی، نی!"
- چې وې غواړی په خوله، وبې خورې په څه.
- چې هر څنگه وړی شی ټانټې مه چيچی.
- چې هلک ملک شو، کلی ورک شو.
- چې هوږه ونه خورې له خولې بوې نه ځی: (نه مې هوږه خوړلې، نه يې له بويه وېرېږم.)

- چې هوس دی، هغو مره بس دی.
- چې هوسې نیسي د هغو تازیانو خولې توري وي.
- چې یاری کوي شوګیرې به تیروي.
- چې یو لورې تر ملاوې، مه یې ځني رغوه.
- چې یې زده کړی په طفلي هیریږي نه کړې تر پیری.
- چې یو وهم بل په رنګیږي.
- چې یو مړنه شي بل به موړ نه شي.
- چې یو خوري بل ورته ګوري.
- چېرته چې اوسي، په خوی به د هغو سي.
- چېرته چې زړه ځي هلته پښې ځي.
- چېرې کولاله، ګوره خپله سیاله.
- چېرې چې هیدو چیرې ګیدړو راځه چې سره ځو.
- چېرې چې ډنګ شي دابې ګودې ترخنګ شي.
- چېرې دې وهم چیرې دې باسي.
- چې اختر تیریي نو نکریځې په د یواله وتپه.



www.enayatshahrani.com

# خ

- خان ته مه وایه چې د خره ځل دې کوږ دې.
- خانده خانده چې ښه کور دې کړي.
- خان صاحب یو و ریښم نه څوارلس زره روپۍ یې وخوړلې.
- خاورو په ایروته اړول، باد دواړه یووړل.
- خاوره د خسرد کوره اخستله کېږي.
- خبره تر خبرې پورې یاد پړي.
- خبرې چې روپۍ کوې، نه پلار کوي، نه ادې کوي. (کاری را که زر کند، نه پدر کند نه مادر کند.)
- خبره اول زده که بیا یې کوه.
- خبرې هر څوک کوې مګر خوله د ملا عثمان غواړي.
- خپل به دې وژړوي پر دی به د ې وخندوي.
- خپل به از ارشیی بیزاره کیږي نه.
- خپل پر تنګه کې په کار دی.
- خپل ته نامه وړه، پر دې ته جامه.



www.enayatshahrani.com

- خپل، خپل، پر دې، پردې.
- خپل دا په نس د بل دا په وس.
- خپل مې خپل دي، خو پر دوهم غواړم چې مې خپل شي.
- خپل دې که مړکې، لمر ته دې نه غورځوي.
- خپل سر په خپله نه خر ییل کېږي.
- خپل عمل د لارې مل دی.
- خپل عیب دولو منځ دی.
- خپل عیب د ختې غوښه ده.
- خپل کور یا خپل گور.
- خپل مال وساته! همسایه دې غل مه نیسه!
- خپل مال تر ستر گولاندې ښه دی.
- خپل وطن گل وطن.
- خپل وخت خوشې مه تیروی.
- خپل وطن هر چاته کشمیر دی: هر چاته خپل وطن کشمیر دی.
- خپل وهلی ښه دی، پر دې پورې وهلی نه.
- خپل هغه دی چې بیگاه یې کور وینی، صبایې اور وینی.
- خپل یې که ور کوی، بیا منت ورباندې نه ږدی.
- خپله پښه خپله ښه پیژنی.
- خپله تنها که ملغلره ده.
- خپله ژبه هم کلا ده هم بلا.
- خپله خوله په بل نه وچیږې.
- خپله شړی ښه ده، نه دبل وریښمین شال.
- خپله لاسه گله لاسه.
- خپله خواری نه ژاړی سر څخوړې غواړې.
- خپله مرسته له خپله دسته.



www.enayatshahrani.com

- خپلوی له لرې ښه ده، نه له نژدې.
- خپلۍ مورې را نژدې شه پر دې مور د زړه لمبه مې در پسې شه.
- خدای په رښتیا خوښېږي.
- خدای په اتفاق خوشحاله کیږي.
- خدای د حق ملګرې دي.
- خدای د کراری مل دې.
- خدای د ناروا ملانه تړي.
- خدای د ناروا مل نه دی.
- خدای د بل په ګناه څوک نه نیسی.
- خدای دې په هغو پوښته چې لرې یې.
- خدای دې هیڅوک داسی نه که، چې خپله درنه که، د بل سپکه.
- خدای کوږ کړی نه سمیږې.
- خدای چانه دې لیدلی په قدر تویې پیژنی.
- خدای وایې ته حرکت کوه، زه به برکت کوم.
- خدای وهلی د خلکو نه شرمېږي.
- خدای خبر دی چی تره کاپر دی.
- خدای یو دی روزی یې ډېری دی.
- خدایه لوی مې کړی، لویی مه راکوی.
- خرابه ښځه د بل ده.
- خر په پالان نه درنیږي.
- خر په اته، کوتی یې په شپیته.
- خر پرلار که، خپله چارکه.
- خر په زین اس کیدای نه شی.
- خر په سمباځه خبر دی؟
- خر په ځان حیران، ښتن په بار.

- خر په وهلو نه آس کیږي.
- خر چې ترخره پاته شي غوږیې پري کوه!
- خر چې ترمکې ولاړشي، هم هغه خر دی.
(خر عیسی گرش به مکّه برند ، چون بیاید هنوز خر باشد.)
- خر ځان ته حیران خاوندیې بارته.
- خر خپل اوپر دی فصل څه پیږني.
- خر که مری دیګان به وړی.
- خر له باره ولویده، له مستی ونه لوید .
- خر له وری پاتی کیږی، له هنګه نه پاتی کیږی.
- خر مرداریده نه، اوسپی تری تله نه.
- خر هغه دی خو کته یې بدله ده.
- خرو که ښکر درلودی، د غو یو نسونه یی څیرول.
- خره ته جوار او اور بشی یو دی.
- خره ته یې ګل ونیو هغه وخوړ.
- خری ته ویل زوی دی شوی دی ویل څه یې کم هغه خپل بار به وړی زه خپل به وړم.
- خره ګله که بیا تری ګیله که.
- خړسپی د لیوه وررور دی یا په دری ژبه چی وایی:
"سگ زرد برادر شغال"
- خلک په لیونی پوری خاندی، لیونی په خلکوپوری.
- خلک هر څه کوی خوهر څه نه وایې.
- خوار په خپله خواری نه شرمیږی.
- خوار تلتک نه درلود چی پیدایې کړ تر غرمی پکښی پروت و.
- خوارته مه ور کړی نوکان، چی پری وګروی ځان.

- خوار خو خوار دی عزیز کرده دی خدای نه خواروی، لکه چی په دری ژبه: رحم کن بر عزیزی که خوار شده باشد.
- خوار خدای کړی سپی چا کړی؟
- خوار کبرجن خدای نه بخښی.
- خواران به هر ځای کښی حیران.
- خوار په هندوستان هم خوار دی.
- خوار سړی برګ يې سپی.
- خوار شوم نو هوښیار شوم.
- خوار شو خوله کبره ونه لویده.
- خوارشی د کس نه د ناکس.
- خوار کورله د یوالو معلومېږی.
- خواره بازاری هغه نه هغه خواری.
- خواره به دی وغواړم نه د ورورله مرګه.
- خوار خدای کړی، منت په چا کړی.
- خواره شی مکاری، چی هم جنګ کوی هم ژاړی.
- خواره شی چرګی، چی له خیاله مستک نه خوری.
- خوارشی خندنی، نه پر غم يې نه پرښادی.
- خوار کبرجن د خدای دښمن دی.
- خوار کبرجن خدای نه بخښی.
- خواره هغه کړی چی ګاللی يې شی، بوره هغه کړی چی ژړلایې شی.
- خواری د میړو په شاده.
- خواری ماوکړه، کندو ته میرمن کښیناسته.
- خواری لوری! تخت به زه درکم، بخت دی خدای.
- خواری نه عیب ده نه پیغور.
- خوار مړکړه کالی يې مه ورخېره.

www.enayatshahrani.com

- خواږه د لوښی له مخی خواږل کېږی.
- خواږه د لوښی له رویه خوږل کیږی.
- خواږه که د بل وو، نس خودی خپل وو.
- خواست چی کوی داسی کوه.
- خواښی پرزوم رېږدی، زوم یې لور ور پرېږدی.
- خوب په روغ صورت کېږی.
- خوب چی راشی بالښت نه غواړی – مینه چی راشی ښایست نه غواړی.
- خوب د مرگ ورور دی.
- خوره! چښه! حساب مه پوښته!
- خوره گډلو، خوله پوره ځخه زغله.
- خوری سوړ سک تیغ د پلونا سی.
- خوریې د ماما د مینی دښمن دی.
- خوږ به د کم خونه تر ځانه.
- خوشی خواری د لور په لمسی.
- خوشحال خټک په درندود روند په سپکوسپک.
- خوله په غاښوښایسته وی.
- خوله په ممیزومه آموخته کوه.
- خوله چی آموخته شی اس نه دی چی قیزه شی.
- خوله دی خپله گل پری وله.
- خونه که وسوه د یوالونه یې پاخه شوه.
- خوی چی بد شی بانی یی ډېرې دی.
- خیرات دی اوشه، د مړوپه اروا دی مه شه.
- خیرات لاپوخ نه دی، خوازک یې ورته په سرنیولی.
- خیراتی اس غاښونه یې کتل.



www.enayatshahrani.com

- خیښي په خوښه سودا په رضا.

## د

- دابا دغومره ږیره وه چې په تاویزو کښې ولاړه.
- دابا د مرګه پس، په ادې ورغې هوس.
- داباسین نه چې اوبه غواړې، ترې نه یې.
- دادې د غونه او ګره وه چې په ښتهلو خلاصه شوه.
- دا خوله هغه حلوا.
- داد پتهې سردی پیتهې بیرته سورور دی.
- داد حافظ غونډاری دی.؛
- دا د نیا که د یوه شی هغه یو به پری مورړنه شی.
- دادې ښوک نه وایې چې خواریم، بډای به نشم، بډای یم خوار به نه شم.
- دادې کور، دادې اور، که چېری لاړې مخ دې تور.
- دادو د کلی میاشی کله ورک کله پیداشی.
- دادې اره دادې سپاره.



www.enayatshahrani.com

- دادي لا بله ملا ګله.
- دازله یې سپور سپور کی پیاده پلی.
- داس لغته اس زغمی، د خره لغته خره.
- داسمانی ټکی څخه ځوک ځان نشی ساتلی.
- داسی ونه نشته چی بادنه وی ښورولی.
- داسی کاروی د کهال، انګور غواړی بی دیوال.
- داسی مړی مه کوه چی خوله دی پری څبړی شی.
- داسی ممیز نشته چی خلی پوری نشته.
- داسی مه وایه چی زه یم، داسی به شی لکه چی زه یم.
- داصیلی کول سخت ساتنه یې اسانه د کم اصلی کول اسان اوساتنه یې سخته.
- داد یګ او دا شلغم. (ټیپر)
- د انصاف په وخت کی لیوه او میږه په یو ګدال او به څښی.
- د اوبو لار په وتې ده.
- د اور سوی جوړیږی خود لمر سوی نه جوړیږی.
- د ازرایل په پردی زوی څه.
- د اور لمبه که سړی هر څوښکته کوی، هغه اخر سر او چتوی.
- د اوبو نه مخ کښی موزی مه کاږه.
- د لوړی لوښانی دژمی نګولی.
- د اوړی نه شړی کیږی.
- د اوښ په شان د سر سیوری مه خوره.
- د اوښ په شا سپوو خوړم.
- د اوښ او خره بارله ورایه معلومیږی.
- دامی سمندوله ده، برخه می لانوره ده.
- دامی سمندوله ده، برخه می بله ده.
- د اور په رڼا مه ځه! د سپی پرغپا مه ځه!

- داوښ غلا په ګنډه کې نه کېږي یا چې په دري ژبه وایي: شتر دزدی په خم خم نمی شود.
- ایلتی مار پټ چیچل کړي.
- دایي ګزدایي میدان.
- دایي ډول اودایي ژرنده.
- دایي ګانې چې دوی شي، د هلک سر کوږ راځي.
- دا شپان لوچې تیر شي، بیامې دی خدای جوړه نه کړي.
- د بابا د غوښه ژیره ده، چې د مچولو بس ده.
- د بارانه ولاړ شوي، ناوی ته کښینا ستي.
- د باران اوریدل د مسافې مخ نه نیسي.
- د بارانه تښتېدم تر ناوی لاندې مې شپه شوه.
- د باز په ځاله کښې باز زېږي.
- د باز عمر لنډ وي.
- د بد مرغه مړې غوابه په ژمې کښې لنګېږي.
- د بدې خبرې سل کاله عمر دی.
- د بدې خبرې به څه ځواب وي.
- د بډاې په ختم د ملا ارمان نه خېژي.
- د بډاې په ختم ملا نه ستړي کېږي.
- د بزې بدن چې بخارو کړي نو د شپانه ډوډې خوري.
- د بل په پرتاګه ځان نه پتېږي.
- د بل په لاس کښې مړې غټه ښکارېږي.
- د بل په قول شرط مه تړې.
- د بل دسترخوان کې سل میلمانه هیڅ دي.
- د بل پرمړې دې خپل یاسین تیزوي.
- د بل تروریجو غوښو خپل سوړسک ښه دی.



www.enayatshahrani.com

- د بل تر اطلسه خپله خمتا ښه ده.
- د بل تلتک ترنیمو شپو وی.
- د بل دلاسه عسل ګنډیر دی.
- د بل ډوډی یا پور ده یا پیغور.
- د بل زوی نه زوی.
- د بل کار د ایمان په رڼا کیږی.
- د بل کور چا خوار نه دی لیدلی.
- د بل یاری د سر سو داده.
- د بنده مخ د خدای له نوره دی.
- د بنده هیله ګنده ده.
- د بنده ویره په سترګو کی ده.
- د بنګړو یاری زه دی ترم ته ورانوی.
- د بیکاری لار ورکیږی د کار داری لارونږیږی.
- د بی پیره سزا بد مذهبه ور کوی.
- د بی پیره سره بدمذهبه جوړیږی.
- د بی عقلی ښځی تل کمیس سوزی.
- د بی غیرته سړی میلمه واکداروی.
- د بی کاره خدای بیزاره.
- او یا: له بی کاره خدای بیزاره.
- د بی ننګو په ننګه به تل شرمنده یې.
- د بی نیازه چی مروریی، هغه نه سودمن یې.
- د پاچا نه پاچاهی، ځی د مزدوره مزدوری نه ځی.
- د پا خه اوستاد دیګ ورو ورو پخیږی.
- د پایځی رګ نه پریښود کیږی.
- د پردی مصری توری نه می لور پر غاړه ښه دی.

- د پر دې ابې نه خپله تبې ښه ده.
- د پردي په زوی د عزرائيل څه.
- د پر دی اس نه خپل ټټوښه دی.
- د پر دې تور سرې ښه غواړه د خپلې تور سرې د پاره.
- د پړانګ سپيني منګلې شپنو پوځي پرې ويشلي.
- د پسرلي ترګلو دژمې اورښه دی بترنا سياله ښځې جره کور ښه دی.
- د پشې منډه تر کادانې پورې دی.
- د پشي نظر په کولپې وی.
- د پيشي که دا پزه په يادوه بيا به د غوښو نوم په خولې وانه خلي.
- د پښ پر د کان که ونه سوځې، بخرکې به د رونانوځې.
- د پښ کور چې وسو، هغو ته ښه شو.
- د ښتنو جوړه په پردی وی مرګ يې هسې پلمه وی.
- د پښتو خاورې سترګوته الوزې.
- د پلار آشنا د زوی کاکا.
- د پلار ګټه د امبار کوټه، د زوی ګټه د زړه غوټه.
- د پور د لاسه دوه کوره خرابيږي.
- د پيغلې شل مخه په بخچه کې دی.
- د بيل يوه تپه مرګ دی.
- د پوه سړی دوستي زيان نه لري.
- د پيښې څخه تيښته نشته.
- د پيل په يوه و څکه څه کيږي.
- د تاچې څومره خيال دی زما هغومره مال دی.
- د تالندی چې دربې شي، د شپانه ورته غړيږي شي.
- د تبر خوله نيځی لميځي نيولی ده.
- د تخته که ولويږم و ځمکی ته لويږم.

www.enayatshahrani.com

- د تربور په زړه سوی کې پیغور نغښتی دی.
- د تروای په ډېر ایرس رنګ یې بدکړ د اولس.
- د ترم چې څه ځی یوپوف.
- د تش ټو پکه دوه کسه بیریږی.
- د تشه ډاګه به سیلی څه یوسی.
- د نورو مخ رڼا وی.
- د تربورمرګ د خدایه غواړم نه د بل دلاسه.
- د توری شپې ناری یې څه نه ویی.
- د توری وهلی به جوړشی د خولی ویشتلی نه جوړیږی.
- د توری ټپ جوړیږی، د بدی خبری ټپ نه جوړیږی.
- د ټولو نیمه نیمه، دابی شوه یوه نیمه.
- د ټپوس د ځالی نه ټپوس پاځی.
- د شګو بند تل او به وړی.
- د ځان پرښادی نه یم خپل شوق اخستی یم.
- د جنګ په ورځ آس نه چاغیږی.
- د جنګ څخه به روغ راشی، مګر له ځنګله څخه نه.
- د جنګ خوږی خبری ساعت یې تریخ دی.
- د جنګ شپې دی وی د غم دی نه وی.
- د جنګ میدان په پښونه وهل کیږی.
- د جولامنډه ترموری پوری وی.
- د جولاټوپ ترشا میخه دی.
- د ځوانی یوه نیشه وی نه چی همیشه وی.
- د ځوانی بیکاری د سپین ږیر توب خواری.
- د چا اول د چا آخر.
- دچا چی یوه ستر ګه ړنډه شی پر بله لاس ږدی.

- د چا زویه څه دی بویه.
- د چا دروازه مه ټکوه په ګوته، ستا به ووهی په لغته.
- د چا عیب مه وایه! چی عیب دی ونه ویل شی.
- د چاودی په پلمه د صوفی غوړه شوه کولمه.
- د چادی نه شی په ناسړی کار، چی پلار زوی شی او زوی پلار.
- د چرګ په آذان نه سهار کېږی.
- د چرګ غوړه ښوروا په مرچو په دنیا.
- د چنګښو من نه پوره کېږی.
- د حریص کاسه چپه ده.
- د حق څښتن ډاډه وی.
- د خپل خپلوی ښه ده نزدیکت یی ښه نه دی.
- د خپل کاله خور او لور کړمیږ نه وی.
- د خپل کور غل نه نیول کېږی.
- د خپل لاس تنها که مرغلره ده.
- د خپلو آزاریده شته بیزاریده نشته.
- د خپل وطن ګیدړه د بل وطن ترزمری ښه ده.
- د خپلی کمبلی سره پښی غزوه.
- د خدای په چارو د چاوس نه رسېږی.
- د خدای داسی رضاده.
- د خدای کاږه دی خدای سم کړی.
- د خدای ګناه ګار په توبه خلاصېږی او د بنده په ناغه.
- د خدای نظر یا پرزهیر وزړو دی یا پرنړیدلو قبرو.
- د خدای چی رضاشی ورځ یې سمه ځی.
- د خره بار چی دروند وی ښه ځی.
- د خره مینه لغته ده.



www.enayatshahrani.com

- د خره مړی د سپو اختر دی.
- د خره لکی چی له هری خوالویشت کی دوه لویشتی ده.
- د خره نه یې کته لویه ده.
- د خوار په لاس کښی غلمینه ډوډی بده ایسی.
- د خوار خپله خواری بس ده.
- د خوار کاله وړی دی خدای ماړه کړی.
- د خوارانو برخی پراغزیو څرخی.
- د خوار انځور پوښتنه رحمت دی د بډای سړی منت.
- د خوار ملا مسئله څوک نه اوری.
- د خوار ملا په آذان څوک لمونځ نه کوی.
- د خوار سړی ځای به په زور ګلیم وی.
- د خوار ښه دغه دی چی پر خپلو پښوولاړشی.
- د خواری دونه توان دی چی پرخپلو پښوروان دی.
- د خواری کونډی زویه خپله روټی ژویه.
- د خواری، څخه ژرنده ساتی د کبره نه یی مزد نه اخلی.
- د خوار یوه وزه وه هغه هم ګوډه ړنده وه.
- د خوالی شړپ د ګیډی ویر.
- د خوریی خاوره د ماما د نغری څخه ده.
- د خولی او زړه وینا چی یوه شی یارانه تری جوړیږی.
- د خطا یا ناغه وی یا توبه.
- د خیاله د لونګولونه کوی. د لوړی څاښت پاځی.
- د خیرات سرد جنګ پای.
- د خیرات زویا لنډی وی یا بوچی.
- د خیره می دی توبه، کاسه می په لاس راکړه.
- د داسی سړی په لاس مړ مه شی چی سل یې نه وی وژلی.

- د دسترخوان پرلمن څه دوست څه دښمن.
- د درواغجن تر کوره پوری.
- د درواغو مزل لنډ دی.
- د دښمن کره ځکه ځم، چی دوست می ګرودی.
- د دښمن د غصی غم شړم په تماشی.
- د دنیا پیغور د آخرت تراور کم نه دی.
- د دنیا څخه چی وفا غواړی لکه د مړو څخه چی خندا غواړی.
- د دوبی سخی، دژمی صوفی نه دی په کار.
- د دوبی کور د اختر په ورځ ګوره.
- د دووخرو وربشی نه شی ویشلای.
- د دوست په منت خپه نه شی د دښمن په خنداونه غولیږی.
- د دوست پوستین می وکیښ خود دښمن د روازې ته ورنه غلم.
- د دوست لاس درد نه لری.
- د دیوال عمرله اخیړه پوښته.
- د دی کلی خوزه ده، په دی کلی واده ده.
- د ډنډ او به چی ډیری و دریږی ګنده کیږی.
- د ډمګر سترګی به تل په نغری وی.
- د ډول اواز دلری ښه خوند کوی.
- د ډیر کار ډیره ګټه وی.
- د ډیوی لاندی تیاره وی.
- د ډیرو ډیر مری دلږو لږ.
- د ډیر لرګی د یوه.
- د روغوته د رښتیا رنګ ورکول ګران دی.
- د رښتیا ګوی د خولی سرسوری وی.
- درواغ د ایمان زیان دی.

- درواغجن سړی شرمیږی.
- درواغ وایه پر شرع برابر وایه.
- درواغجن درواغ وایې، عاقل دی قیاس کوی.
- درواغجن دی درواغ وایی هوشیار دی قیاس کوی.
- دروغجن حافظه نه لری.
- دروغجن د خدای دښمن دی.
- دروغجن هیرجن.
- درویبار په دواړومخ تور دی.
- درياب که لوی دی ځپه یې خپله ده.
- درياب په لپه نه کمېږی.
- د ریاب لوټه نه خړېږی.
- درېدلی په چانه دی چلېدلی.
- د ړانده له نیولو د کاڼه اورېدلی دی خدای ساته.
- دړندو بازار دی.
- د زاړه غوایی یوه چو په ده.
- د زړه مینه په لاس ښکاره کېږی.
- د زړه نه زړه ته لاروی.
- د زرګر راستی دغه دمچه غلاورخخه ونه کی.
- د زرو په قدر زرګر پوهېږی.
- د زرو قدر زرګر سره دی.
- د زمری غاربی هډوکی نه وی یا په دری ژبه چی وایی:
خانۀ کفتار بی استخوان نیست.
- د زورور اوبه په پیچمی هم خېژی.
- د زورور باری د خره سپرلی ده.
- د زورور د ځنګه مه کښینه زړور.

- د زور ورو دی زور اوبه شی د کمزوری دی وخېږی بیخ.
- د زور ورالښته نه پوردی نه پیغور.
- د زورور خپلی د خوار ککری.
- د زوی په هیله مورد میړه ووته.
- د زوی ناره پر هغو ده چی خدای باندی پیرزوده.
- د زوی مورد تندی څخه معلومېږی.
- د زوی په میړانه مور شوه د سره ځوانه.
- د ژاولن په کور کښی خپلوان شرمېږی په ګور کښی مردګان.
- د ژمی په توده د دښمن په خوړه مه غولېږه.
- د ژرندی زه راغلم له واره ته خبریې.
- د ژرندی زه راغلم ته وایی چی ډول خالی ؤ.
- د ژمی په لمر مه نازیږه د دښمن په ورین تندی.
- د ژمی پیتاوی دی هغه کوی چی کندویې ډک وی.
- د ژمی اور هر څوک ځان ته را کاږی.
- د سبا خبره سبا کېږی.
- د سپو د بی غیرتی نه شغالانو په کور کښی ځای ونیوه.
- د سپوله خواری، ګیدړ پر بام کوی بازی.
- د سپی په خوله دریاب نه مرداریږی لکه په ترکی ژبه چی وایی:
ایت اورمکلی دینیز میندار اولمز.
- د سپی دم زده کړه خو کوتک له لاسه مه غورځوه.
- د سپی خوله چی په هډو کی ورسېږی غنیمت دی.
- د سپی ترلکی لاندی عمر هم تېرېږی.
- د سپی تراشنایې د ځان خواری ښه ده.
- د دستر خوان پر لمن د دوستانو انجمن.
- د سترِی یوه دمه، دوړی یوه مړی.



www.enayatshahrani.com

- د ستنی له سوری چا بارنه دی ایستلی.
- د سر پرځای می پښی وایې د ژی خوله را نږدی وایې.
- د سرنه چی تېرشی قلندر شی.
- د سلوبللو ځای کېږی او د یوه نابللی ځای نه.
- د سلو کولبو خاوند یوه لنډی نه ودرېږی.
- د سلو مرغانو د پاره یوه ډبره کافی ده.
- د سلو هو، نه یوه، نه، ښه ده.
- د سلو کالو وږی به په سل کاله موړنه شی.
- د سلو غرونو پناه ښه ده نه د یوه سیند.
- د سوال په اوبو ژرنده نه ګرځی.
- دسورناچی څه ځی یو پوف.
- د سوی دی خپلی غوښی دارو شی.
- د سیال خوارہ یا پور دی یا پیغور.
- د سیل ځای ګودردی.
- د سیند مړی چاګټلی.
- د شپی که ولاړنه شی دورځی به مزله ته ونه رسېږی.
- د شپی هر څوک ډاریږی، څوک حال وایې څوک یی نه وایی.
- د شګوبند همیشه اوبه وړی.
- د شرمښ زوی شرمښ وی.
- اویا: د لیوه زوی لیوه وی.
- د شلو کالو یار یوه ورځ شی په کار.
- د شنی مېږی وری که شین نه وی شین ټکی به لری.
- د شوم په شومی وسول ټول پټی.
- د شوقدر شپه په شو ګیر لېدل کېږی.
- د ښار دروازی تړلی کېږی د ولس خولی نه تړلی کیږی.

- د ښاره زه راغلم د نرخه ته خبريږ.
- د ښارنه ووځه د نرخه مه وځه.
- د ښځې واته يو شرم او نه واته يې بل شرم.
- د ښځې چې ميړه راست وي د کور ژوند يې په درستی وي.
- د شغال تر ناري د زمري څېرل ښه دی.
- د شغال کور بې چرګه نه وي.
- د ښکار غوښې د ځان غوښې.
- د ښکاری وارورباندی نه جوړيده، د نندارچی ورته بيړه وه.
- دښمن دی چې په شا تو مری په زهرو مه وژنه.
- د دښمن په خوږه خبره مه غوليږه.
- دښمنی په سلام نه ورکيږی.
- دښمن هغه دی چې اول يې، هو، وی اخيريې، نه.
- دښمن ياسر ته ګوری يا پښوته.
- د دښمن خواږه يا پوردی يا پيغور.
- د ښو به ښه وايې د بدوبه څوک څه وايې.
- د ښو څخه ښه زيږی د بدو څخه وابنه.
- د ښو روا دی مروريم د غوښو دی پخلا.
- د ښو غوښو ښه ښو روا وی.
- د ښه خوی ښايښت په ښايښتو نه ګډيږی.
- د ښې ورځې مې يار، د بدې ورځې مې بيزار.
- د صبر ميوه په مراد پخيږی.
- د صحرا موږک راغی د کور موږک يې وويست.
- د عالمه سره غم نه غم دی.
- د علم برخه درنده ده.
- د عقل وسه په عشق نه رسيږی.

- د عقل مې کمبود نشته خوبخت نه لرم.
- د عقل وړی چالیدلی نه دی او د دنیا موړ.
- د عقل وړی نشته د دنیا موړ.
- د غرض څښتن لیونی دی.
- د غاښ درد چاره ایستل دی. درد دندن باید کندن
- د غرو ځنګلو بې زمریا نو نه وی.
- د غریب په مرګ څوک نه ژاړی.
- د غریب ملا آذان ته څوک غوږ نه نیسی.
- د غریب سړی به د خیرات په ورځ غوا ورکه وی.
- د غریب غاښ به په حلوا کې ماتېږی.
- د غلو ده ښه یاری بده یې بیزاری.
- د غلومی کلی نه دی لیدلی، د شګومی څلی.
- د غله په ږیره خلی غله لاس ورته نیولی.
- د غله ځای په غره کښی نشته.
- د غله سره یاری لره خپل خر ځینی خوندی لره.
- د غله کلا چالیدلی ده.
- د غله میړانه تیښته ده.
- د غنمو له برکته ځوزعم اوبه کېږی.
- د غنمو لار د ژرندي تر خولې ده.
- د غنی که زړه سوی وشی خوار غریب به پاتی نه شی.
- دغه نوره د پاچا وزیر میله.
- د قاطری ترشا مه تېرېږه د ملک ترمخ.
(از پشت قاطر و از پیش‌روی آمر تیر نشو!)
- د کاږه تیکی سره کږه توره چوړېږی.
- د کال خپله مې نه یې خپلی شپې به د رسره تیروم.

- د کال ښه والی د پسرلی څخه معلومیږی.
(سالی که نکوست از بهارش پیدا است).
- د کاله خور او لور کړ میز نه وی.
- د کاله کشر مه شی د کاروان مشر.
- د کان یې مه ګوره مال یې ګوره.
- د کبر کاسه نسکوره ده.
- د کږی توری کوږ چړتون وی.
- د کم اصل لوی تیا د اصل سپکتیا وی.
- د کوټه یوه غوټه.
- د کور توریالی دی خود بیابان خندنی دی.
- د کور خبره د باندی مه کوه.
- د لور له حاله یو خدای خبر دی.
- د کور ګټه د لاهور ګټه.
- د کور غم به صحرا ته یو سم د صحرا غم به چیرته.
- د کور غم د ګور غم.
- د کور غم نه ګلول کیږی.
- د کور نوم نیستی نه ورکیږی.
- د کونډی دوه غوایې وو یوووت نه بل ننه ووت نه.
- د کونډی هم زړه کیږی هم یې ساړه.
- د کونډی نه دین شونه دنیا.
- د کونډی غم د ځان وی، د لوریې د خان وی.
- د کونډی کره زوی نه وه چی زوی پیدا شو مرګو ګډه شوه.
- د کونډی یوه لوروه په سکونډلو کښی یوړه.
- د کونډی زویه څه دی بویه.
- د کونډی زوی نیم باچا دی.

- د کلال په کور کښی روغ لوښی نشته.
- د کوهی ختهه په کوهی لګیږی.
- د ګټهی او توری ځای توپیر لری.
- د ګور خاوری په ګور لګیږی.
- د ګوډی لار په ژرنده ده.
- د ګور شپه نه په کور کیږی.
- د ګوملی مړی له ګوملی غواړی.
- د ګونګ په ژبه ګونګ پوهیږی.
- د ګونګ په ژبه مور پوهیږی.
- د ګیدړ اوزمری اشنایې نه کیږی.
- د ګیدړ کور بی چرګه نه وی.
- د ګیدړ ترناری د زمری ځیرل ښه دی.
- د لاس غوټه په غاښ مه خلاصوه.
- داټ غوایې آخر خاوند قصاب دی.
- د لړولړ ډیرو ډیر.
- د لښکر په اخر څه دماتی په سره.
- د لندو به څه لانده شی.
- د لندو ختولړی او به دارو دی. ده خانۀ مورچه شبنم طوفانست.
- د لورمی دی میره مړشی، د زوی می دی اورته، زه دی ټوله بمه سمته.
- د لوګری چی رضا نه وی لور په لوټه تیره کوی.
- دلیری دی لیدی نه شم د نږدی درته کتای نشم.
- د لیوه چی خوله سره شی په لسو پسو بندنه دی.
- دلیوه سره چی غوښی خوری له څښتنی سره تندی وهی.
- د لویو و یالو څخه خیزمه وهه چی لوند به شی.
- د لوی منګی او به خوږی وی.

- دماغ دی پیل وړای نه شي په کور کښې دې موږ کان له لوږې روژې نیسي.
- د ما رانولاړی چابندی کړی دی.
- د ماره کور به سترګی وږی وی.
- د ماهي چې اجل راشي چجی ته نژدی کیږي.
- د مرچوپه څټه ناست دی.
- د مرد خواره د نامرد په نس کی پاتی کیږي.
- د مرګ دارو ګران دی.
- د مرګه مخ کښې ځان مه وژنه.
- د مرور برخه یا درنه ده یا تالا.
- د مرور برخه د نور دوه.
- د مریانو لښکر څه وی؟ د خرو چر چر څه وی؟
- د میری خپره داور لمبه ده.
- د مړوبه لاځه ښادی وی.
- د مړ کله په قیامت نه وه رضا.
- د مړی قدر په ژوندی باندی وی.
- د مړه ځخه شیطان لابیزاره دی.
- د مړه مال په مړی پسی ځي.
- د مجبوری یو نوم صبر دی.
- د مسافر د شپو حساب مه کوه! د سر خواست یې کوه.
- د مسافر ویر سوړ وی.
- د مستی په میچن څه وربشی څه غنم.
- د مسجد سړی به مسجد کښې لټوه.
- د مسخرواخر جنګ دی.
- د مشکو بوی نه پټیږي.

- د مکې لار په منډه نه لنډېږي.
- د ملخ وروریې نه خوارېږه ګوری نه ترخه.
- د ملغلري یواب دی چي توی شي نور په کار نه دی.
- د ملک لور په نامه غوښتل کېږي.
- د ملنګ کچکول پاتېږي د پاچا پاچاهي نه.
- د منګري سر په دښن تو کوه.
- د وچي خونه هسی خوساوه چی باران پري وشوډ ډوزی یې لاړي.
د مورزړه پرزوی د زوی پروچ کاڼی.
(دل مادر به بچه از بچه به سنگ خارا).
- د مورغیږي د زوی زانګو ده.
- د موریې شړي لنګ وګوره دلوریې شرنګ پرنګ وګوره.
- د موږک څه غم دی په ژرنده کښې یې کور دی.
- د میړانی اوسپیتانی یو ګام ترمنځ دی.
- د میړو په مغزو کی تل د توری شرنګ وی.
- د میړو پرده دی خدای کوی.
- د میړه زوی سترګی غتي وی.
- د میړو یو لاس په چاړه بل په خواړه.
- د میړو ژوند د توری ترسیو ری لاندی وی.
- د میړه سیالی کوه! د بخت یې مه کوه!
- د میړه یا خرپ وی یا ترپ.
- د میږ یا نوله غمه نه خلاصېږي.
- د میلمه بیګامه ګوره سبایې ښت.
- د میلمه جواب پاتی دی.
- د میلمه میلمه بدایسی د کور به دواړه.
- د مین کام د شهادت جام دی.



www.enayatshahrani.com

- د مینځې مات سرته ګوري د بې‌بې زړه ته نه ګوري.
- د میو غوندې په یومخ کولیږي.
- د نااهلو ښځه پټ مه غواړه.
- د ناپوه وی دروغ دي.
- د نازخواړه یا تاوده وي یا بلمنګي.
- د پروت زمري نه ګرزنده ګیدړه ښه ده.
- د ناکسه اشنایي د خره سپاري.
- د ناوختې میلمه یې له خپلې ټنډې خوري.
- د ښار ښځه ووزه! له نرخ ښځه مه وزه!
- د نژدې ورته کټلای نه شم دلرې نه پرېښودلای نه شم.
- د نړورختنه د خسرو نغدي ښځه وي.
- د نس پرسته لاندې په خپله کښې تماميږي.
- د نشت نه موزی ښه دی کټ پر ډک وي.
- د نغري غم څوک نشي ګاللی.
- د ننګرهار له ټوپي نه سړي سر توري ښه دي.
- د نورو نیمه، دانا یوه نیمه.
- د نورو تلوار دي ماته یې په ځمکه راواچوه.
- د نوک پرځای سوک منډي.
- د نوی په هوس زاړه یې کړه خس خس.
- د نه میړوملک شوبلو.
- دنیا بلبل ده کله د یوه کله د بل ده.
- دنیا په دوو سترګو، خپله په دوو پر دی.
- دنیا په دنیا پسی ځي.
- دنیا په امید خوړل کیږي.
- دنیا ترسر جار سر ترناموس جار.



www.enayatshahrani.com

- دنيا خپله لرې روې پر عالم.
- دنيا داره چې دنيا دې ډېروله سپين کفن دې يوور.
- دنيا ډېرېږي زړه تنګېږي.
- دنيا هغه ته معلومه ده چې خښه کړي يې ده.
- د نيستی هرساعت مرګ دی.
- د نيکانو له قدمه بدان وويل له غمه.
- د نيمی ورځی حکومت د سلوکلو کور خرابوي.
- دواده نه وروسته سندرې څه په کار دي.
- دوبی د خوارو غريب جامه ده.
- دوچوله امله لانده سوځي.
- دوران پرهر ګوروان.
- دورځی د توتوپه خوړلوشرمېږي، د شپې يې له پچو سره خوري.
- دورور خورمی کې محتاجه مې مه کې.
- دورور څخه ګټه څه ګټه نه ده.
- دوروره دې وراره شو، دوراره سره دې څه شو.
- دوره پوري ولاړې دمنې ورځ وې ولاړې.
- دوړې ترپام سړې غوښې دي.
- دوړې سترګې په دسترخوان کې وي.
- دوست او دښمن په يوه سترګه مه ګوري.
- دوست اشاري ته ګوري، دښمن وارته.
- دوست به دې وژړوي، دښمن به دې وخندوي.
- دوست ته حال وايه دښمن ته لاپې.
- دوست ته دومره تمه کوه چې د لاسه يې کېږي.
(طمع را نبايد توچندان کنی – که صاحب کرم را پشيمان کنی).
- دوست دې کوم دی، چې سهار دې اوروينی ماشام دې کور.

- دوست زورنه غواړی د ښمن تر ټنه.
- دوست د سختی ورځی د پاره دی.
- دوستی د سلو کالو لارده.
- د وطن په قدر مسافر پوهېږی.
- دولت له اتفاقه پیدا کېږی.
- دولت د لاس خبره ده.
- دولت دی د ځان دی عزت دی په جهان دی.
- دولی میوه لاس ته نه راځی.
- دومره مه لوئېږه چی مانه ګوری.
- دومره ټوپ وهه چی د پښو ونه لوېږی.
- دونی سل کاله عمر دمرغی پری یوه شپه وی.
- دوه به سره جوړشی که دریم یې ترمنځ نه وی.
- دوه پک هغه هم سره ورک.
- دوه وروڼه دریم حساب.
- دوه که لامچان شی د یوی پلا تمام شی.
- دوه ګوتی می توری کړی. په تاخوار می پوری کړی.
- دوه لوخ نه سره پټېږی.
- دوه لوخ په حمام کښی ښه سره ایسی.
- دوه مرغان یوه یې ځاله، خبر نه دی یو د بل له حاله.
- دوه وږی چن په یوه وټ کښی بد سره وړی.
- دوه غوایې چی ښکر په ښکرشی زیان د بوټو ګاڼو دی.
- دوه هندوانې په یوه لاس کښی نه نیولی کیږی.
- د هر چا سره خپل سیوری مل دی.
- د هر چاښه د خپل ځان دی.
- د هر چا په سر کی یو پیاله ښګ دی.



www.enayatshahrani.com

- د هر سر د پاسه سر دی.
- د هر سر د پاسه سر دی.
- د هر سړی عزت په خپل لاس کښې دی.
- د هر شی خوند په مالګه ښه کېږی، د مالګی خوند به په څه ښه شی.
(هر چه بگندد نمکش می زنند ، وای به آن حال که بگندد نمک).
- د هیلی مخ تور دی.
(دست طمع که پیش کسان میکنی دراز، پل بسته ای که بگذری از آبروی خوش).
- د هیلۍ بچی ته لامبو مه زده کوه!
- د یار ترخې خبرې خوږی لګېږې.
- د یار سره یاری کړه! په عیبویې غرض مه کړه.
- د یتیم اوښکه په خپله موپا کېږی.
- د یوال نم زړ وي انسان غم.
- د یوالونه هم غوږ ونه لري.
- د یوې ونی لرګی څه لوی څه ککی.
- د یو ستورې نه دوې پچی ښی دی.
- د یوزر طلاو نه یو بخت ښه دی.
- د یوه زبان د بل تکیه.
- د یوه سپاهی به څه دوړه وی.
- د یوه ګل څخه نه پسرلی کیږی (په یو ګل نه پسرلی کیږی)
- د یوه لاس څخه ټک نه خېږی.
- د یوه مریې د سلو بادار.
- د یوی ورځې حاکم د شلو کالو کور خرابوي.
- د یوې سپږې د پاره پوستین ته اور مه اچوه!

# ډ

- ډال چې ګرزوي ځان په ساتي.
- ډ بره چې پر ځای پرته وی درنه وی.
- ډ بره د يتيم له سره نه چپېږي.
- ډ بره راځی د يتيم په سر لګېږی.
- ډ بره يوه نيک مرغه يو بد مرغه.
- ډ برې اړوي لړم تر لاندې غواړي.
- ډ که کاسه خامخاخرپېږي.
- ډک لوښی چې څو ښوروی او به يې توئېږی.
- ډم چې ډول وهی زوريې لري.
- ډم خومور ِ شو څه پاتی کور شو.
- ډمه ګډيدلی نه شوه، ويل يې ځمکه کږه ده.
- ډم له خدايه يا غم غواړی يا ښادی.
- ډم يې د يتيم په سرزده کوی.



www.enayatshahrani.com

- ډوډۍ په خپله خوري سترګې به د نورو پرې سرې وي.
- ډوډۍ خپله خورم دعا ستا سرته کړم.
- ډوډۍ که د بل ده نس خو دې خپل دی.
- ډوډۍ پر دې شورواته مه وړه کوه.
- ډوډۍ د نانوای ځی زور بتیاری ته ورکوې.
- ډوډۍ زما خوري، تو تو د سلاخان کوي.
- ډوډۍ دی زما پر ډوډۍ باندی کښېږده زړه دی له پورته خوری که له کښته.
- ډوډۍ د لوښی له مخی خوړل کېږی.
- ډول په بيه، کبروړيا .
- ډولو نه می تر سرتېر شوی دایې ډمیکی دی.
- ډول سوري ګوته پکښی.
- ډول په تیرا غږېږی مامندی کور ګډېږي.
- ډول می تر ځنګ دي، نو وهل یې څه ننګ دي.
- ډول یې د لیونی په لاس کښی ورکړ.
- ډېر ځله ایمان په ګمان ځی.
- ډېر کار ډیره ګټه.
- ډېر مولاړه لږه ولاړه.
- ډېره مه وایه چی لږ خېږي.
- ډېر ویل څه په کار دی.
- ډېر ویل د قرآن ښه دی.
- ډېره ګټه د مالی سر خوری.
- ډېریی نه موندل لږیې نه خوړل.
- ډېرې خبری د قرآن ښی دي.
- دېری ټوکی آخر خفګان دی.

# ر

- راتګ په اراده بیرته تګ په اجازه.
- راست او سه په لویه لار ناست اوسه.
- راستي زوال نلري.
- راکه زما چوتې بیزاره یم د ګټې.
- ربښتیا ویل تر خه دي.
- ربښتیا وایی په کوچنی یې وایه!
- ربښتیا که نه وایم الله می نیسی، که یې وایم عبدالله می نیسی.
- ربښتیا یا زورور وایې یا لیونی.
- ربښتیانی یاران په سختی کی معلومېږی.
- راغلی پکښی کیښوتی، ډنډۆ پکښی پریوتی.
- رضایې کړه، ملایی ماته که.
- اخستلی له منځه وتلی.
- رمه که له شپانه خوشی ده، له ښتن خونه ده خوشی.



www.enayatshahrani.com

- رنځوران تمام شو چې لقمان پرې نادان شو.
- رنځونه د ګرمۍ علاج یې د سردي.
- رنګ دي د غله، ناستې دې د څه.
- رنګ مې ګوره حال مې پوښته.
- رنګ یې د ګل خوند یې د پیاز.
- رنګ د ملانوریې بلا.
- رنګ یې د ملا نور عمل یې د بلا.
- رنګ یې مه ګوره خوند یې ګوره.
- روپۍ روپۍ پیدا کوي.
- روپۍ که کوچنۍ ده کارونه غټ کوي.
- روټه نه د کاله خوښېږي نه د میلمانه.
- روغ که یوه ده و ختونه یې ډېر دي.
- روح مې واخله نوم مې مه اخله.
- رود له ویالو جوړېږي.
(قطره، قطره جمع گردد و انگهی دریا شود).
- روزي چا په منډه نه ده پیدا کړې.
- روغ صورت پاچاهي ده.
- روغ صورت نه پټېږي.

ړ

- ړانده ته شپه او ورځ یو شان ده.
- ړانده ته د خولې لاړ معلومه ده.

(بی عصا راه دهن معلوم باشد کور را).

- ړانده ته مه ګډېږه کانه ته ډول مه وهه.
- ړوند خوړوند یم – سترګو ته می ولې ډکې راوړې.
- ړوند په خپل سترګو بینا دی.
- ړوند په خپل کور ښه پوهېږي.
- ړوند په ګوډي پورې خاندی.
- ړوند په موږي هره ورځ نه لویږي.
- ړوند څراغ څه کوی.
- ړوند دوست او دښمن ته په یوه سترګه ګوری.
- ړوند له خدایه څه غواړی دوه بینا سترګې.
- ړوند یو واري امساور کوی.
- ړومبی د وروستی پل دی.



www.enayatshahrani.com

# ز

- زاړه په خواړه دی.
- زلمیان په سپین میدان مری.
- زړه په زړه آئینه دی.
- زه له تاجارته له ما .
- زړه چی مین شی ښائیست نه غواړی، خوب چی راشی بالښت نه غواړی.
- زړه په توره کتو سپینیږي.
- زور چی د زورور شی، پټی له حاصله سره خپل شی.
- زوم چی روپی شیندی، د کلی ټولی پیغلې به یې خدمت کوی.
- زوم چی جیب تړلی وی په خواښی او خواښینې به یې قدر خورا لږوی.
- زه د مړی ژاړم ته می په ماته خوله پورې خاندي.
- زهر څه خروار څه مثقال.

www.enayatshahrani.com

# ژ

- ژبه لمده لښته ده.
- ژرنده او جومات نه پيژني.
- ژړا هم ښه زړه غواړي.
- ژرنده په چل ګرځي.
- ژرنده چې بارنه لري په څه به ګرځي.
- ژرنده که د پلار ده هم په وار ده.
- ژرنده که هر څومره ګړندې شي لانده غنم نه اوړه کوي.
- ژرند ګړي خداى خوار کړي ځته پرته مزد يې خوړلي.
- ژرنده وګرزي چې اوړه وکړي.
- ژرنده ماته شوه ټکټکني يې لاښوري.
- ژمى کله وي چې بادباران وي.
- ژمى د توري مه شه دوبى دسوه.
- ژمى د خوار انو زيان دى.
- ژوند دى ورک شه له مرګه بتر.
- ژونديې ګران مرګ يې ګران.



www.enayatshahrani.com

## س

- سپاهی کار دي څه دي لړایی.
- سپر هغه ګرزوی چی توروته اوړه سموی.
- سپما سپما ، نه له ادي نه له ابا.
- سپمولی سپوخوړلی.
- سپڼسی په نری ځای شکیږی.
- سپور د پلی په حال څه خبردی.
(په تورکی ژبه وایی: آت مینگن آته سی گه قره میدی).
- سپور خور ، خاوری خور.
- سپور خور مردار خور.
- سپور سپوریږ کاوه ترپیاده بی همته.
- سپوژمی ته له اوله دوا کیږی.
- سپی په هدو کی نه خوړیږی.
- سپی په خپلو مینځو کی سره خوری ساراته یی سلایوه وي.



www.enayatshahrani.com

- سپي چې ايسارشي – يا ... يا غاپي.
- سپي چې څومره غاپي هومره نه تراپي.
- سپي چې ګرزوي په هډو کې يې وله.
- سپي چې غاپي څه ويني.
- سپي‌ته‌يې ويل دچاله لاسه په عذاب‌يې؟ ويل‌يې دخپله کاسه. (کازه).
- سپي خپل خاوند ښه پېژني.
- سپي د هغه و خوره چې پيژني دی.
- سپي ډېر کور له پاره غاپي لږ د ځان د پاره.
- سپي غپي کاروان تېرېږي.
- سپي کور په کور اخته وي، خوار فقيرته يې يوه وي.
- سپي سړی سپيني خبرې.
- سپي که هر څومره بدشي بياهم د څښتن کور ساتي.
- سپي بانجن ساړه نه وهي.
- سپي مې کړی کشر نه.
(ترکمن نی کيچيگی بولگونچه، کوچيگی بول).
- سپي هډو کې خوری ځان ته يې نه انگيری.
- سپي يې وهه چې خاوند يې و وېرېږي.
- سپي يې د کوره په زغا سته تېرېږي.
- سپي طمع د خدای له کرمه څخه لری ده.
- سپين ټکی د هر چاخوښ دی، مګر د پشوور پسی کولمې لوېږي.
- سپين غربی و اوری نه وی.
- سپين والی د زړه ښه دی نه دويښتو.
(دولت اگر دولت جمشيدی است، موی سپيد آيت نوميدی است).
- سپين ويښته د مرګ استازی دی.
- سپين ويل يا ليونی کوی يا زورور.

- سپی ته وایه چغه شه د چا دمخه.
- سپین پګړی سړیوته ښځوور په سر کړی دی.
- ستا څه کمی دی چی په لاس دی سورغمی دی.
- ستا دا به خورو زما دا به ساتو.
- ستاله خبره می توبه ده سپی دی ګرزوه.
- ستاپی وابښ زمایې غاړه.
- سترګه لونده ښه ده نه لار کوره.
- سترګی پټوه شمکی تېروه.
- سترګی په ښو نه درنېږی.
- سترګی د سترګونه شرمیږی.
- سترووګټل هوساووختل.
- سخاوت کوه چی مخورشی.
- سخت ساعت یو ساعت.
- سخ دهغه چاچی غم یې پر بل وی.
- سخوندر د موږی په زور غورځی.
- سر په خپلو ویښتانو نه درنېږی.
- سر تړلی من ځوړلی.
- سر چی د شال لایق وی له کشمیره ورته راځی.
- سر چی بی جنجاله شی کدوشی.
- سر خریلی ښه دی نه میړه شړلی.
- سر د سوی بوی یې نه دی درغلی.
- سر د مېږی جنګ د منده غوایې.
- سر دی آسمان ته رسیږی او عقل دی ترپښنو لاندی دی.
- سر می ګاټه غوږ می بایلود.
- سړی غرونه دی، ښځی اړمونه.

- سړی کسه جامه يې پری نيسه.
- سړی يونور جامه يې بل نور.
- سل بللی خوندی کېږی يو نا بللی نه.
- سلام يې نه اچاوه چی وايې چاوه پرهندو وخوت.
- سل په لالی پور يويې د بنګړو.
- سل جادو ګر يو غيبت ګر نه دی سره برابر.
- سل خره په سويه کی ښه دی نه يو ... په مر که کی.
- سل خويونه نور کړی يو به دمور کړی.
- سل دی تنورونه دی يو موټی دی اوړه نښته.
- سل د پور يوه ايکی د کور برابره نه دی.
- سل څټکه د زرګريو د آهنګر.
- سل دی ومره سردی مه مره.
- سل روپۍ پور که زوی په بازار لوی که.
- سل روپۍ پور که، د اختر شپه په کور که.
- سل روپی پور که يوزوی د تر بوره له څنګه لوی که.
- سل ورځی بيکاره يو روځ په کار.
- سل سمند ښندلی له بي عقله ځان ساتلی.
- سل کاله دونی يو شپه د مرغی.
- سل کاله بندی وايې خو سايې دژوندی وايې.
- سل کاله عبادت يو خبره د حقيقت.
- سل کاله دی تير شوه جمعی شپه دی ونه پيژندله.
- سل کسه هندوان و وبدر ګه يې لانوره غوښته.
- سل مړی پردی کوی، يومړ نخری کوی.
- سل منې خوره يوه به دی زهرشی.
- سل يې ګوره! يويې غواړه.

- سل يې مړه کړه لابدی يې نه بولی.
- سلواغه هره ورځ په څاکي نه لوېږي. (کوزه هر روز نمی شکند).
- سود په لاس پيسی ترکاله.
- سوردی سوريدلی تراووکنووتلی.
- سور سپی د سور لنډی ورور دی.
- سوی چی باری شی باربه يې څه شی.
- سوی چی خروړی شی څوک به وخوری.
- سوی د خاوندوی سپی هسی منډی وهی.
- سيالی مې د خانانو سره کړه کورمی وران شو.
- سيال مې يې مخی مې نه يې.
- سيرلۍ په خپله مورپوری څملي.
- سيلاب لوی کانی رغړوی کمکی پرخپل ځای پرېږدی.
- سين په وښونه بند ېږی.
- سين چی په ويالو شی هم وچېږی.
- سين د سپی په خوله نه مرداريږی.
- سين که پلن ده د سپی په ژبه ده.
- سينه د درياب کړه خوله دېبږی.



www.enayatshahrani.com

## ښ

- ښادي د رباندي غم دي چي په تاپسی لړم دی.
- ښادي د ياردي غم يې دو راری.
- ښايسته په سلو کښې يووی.
- ښايسته مخ د خوږو زړو مرهم دی.
- ښځه په کور ښه ايسی، ژرنده په شور.
- ښځه چي زړه شي خوله يې بسته شي.
- ښځه د ميړه په خوښه ده نه د کلی.

(زن خوب با عفّت پارسا ، کند مرد درويش را پادشاه).

- ښځه يا په کور يا په ګور.

(طلب علم بر هر مرد و زن مسلمان فرض است).

- ښځه مي دی نجل وی او زامن مي دی سل وی.
- ښکار تازی و کړ خوشحالي کوښه کوی.



www.enayatshahrani.com

- ښور وادبې همته سړي لړېږي.
- ښه انګور چغال خوري.
- ښه باران په ناوه معلومېږي.
- ښه بدې لوړکې بد به دې ځوړ کې.
- ښه پرچانه ورکېږي.
- ښه په بدو هم معلومېږي.
- ښه په ښه دې بد په بدو.
- ښه پر دې دنيا وې.
- ښه پر دنيا ګټه، پر عقبې توښه ده.
- ښه پر بدو د ميړو کار دی.
- ښه پوهېږم خونه پوهېږم.
- ښه جالوان د طوفان په ورځ معلومېږي.
- ښه حال به دې سودمن کې بد حال به دې هم پک پمن کې.
- ښه چې څوک پيژنې بد به ولې کوې.
- ښه چې ياد کړې نويې برباد کړې.
- ښه خپل ځان ته ښه راوړې.
- ښه خدای ښه بللی دی.
- ښه خدايه زوروره، مورمه کړه د مور مزدوره.
- ښه خوې به دې سلطان کړي، بد خوی بـه دې پـه ځـان پـوري حيـران کړي
- ښه خوی د سړي ګانه ده.
- ښه دوست په بد ورځ معلومېږي.
- ښه دې د نورو بد دې زما.
- ښه د خپل وي، چې تل ترتل وي.
- ښه دې هم د ميړه بد دې هم د ميره.

- ښه د هغه چاسره خوند کوي چې پرې پوهېږي.
- ښه زوال نه لري.
- ښه ژبه د خزانې کونجي ده.
- ښه ښځه د کور برښه ده.
(زن خوب با عفت پارسا کند مرد درویش را پادشا)
- ښه ښځې نه ښه ملاتړ نشته.
- ښه ښه دی بد بد دی.
- ښه عمل د لارې مل دی.
- ښه کوه بد مه کوه!
- ښه کوه له باچا مه بېرېږه.
- ښه کوه چې بد نه وینې.
- ښه کوه بد به نه در رسیږي.
- ښه مه پرزاږه کوه مه پرواږه.
- ښه میره له موره زیاته ده.
- ښه مې غواړه ښه یې دې غواړم.
- ښه و که په تاخچه کښې یې کښېږده! یوه ورځ به دې په کار شي.
(تو نیکی میکن و در دجله انداز، که ایزد در بیابانت دهد باز).
- ښه وکه و دریاب ته یې واچوه.



www.enayatshahrani.com

# ش

- شاباز ګړه دستړو ځای دی.
- شجاعت د میړونو پسول دی.
- شپه به وی باران به نه وی.
- شپه که تیاره ده مینی په شمار دی.
- شپه یوه ده غله یې ډیر دی.
- شپه می هم تیره کړه انامی هم مړه نشوه.
- شپی ورځی لکه دارهټ منګوتی کله غم راوړي کله ښادی.
- شپنی د لیوه کار نه دی.
- شر چی غواړي پریښ به شی.
- شرح زړه منی که خوله.
- شرح ښه ده د ښومیړوپه ښه ده.
- شرم په سترګو کې دی.
- شرم د هغوی و ساتی چی په شرم پوهیږی.



www.enayatshahrani.com

- شرم د بدی چاری نه ښه دی.
- شرم د ایمان پوښ دی.
- شرم می کوت بیخ می خوت.
- شرمښ څه غواړی باد او باران.
- شرمښ هغه میږه وړی چی به رسی څخه جلاوی.
- شرمښکی دمار سره غزیده پر منځ و شلیده.
- شري سړی په مکه کی ارام نه لری.
- شگوڼ که حلال دی رنګ یې د مردار دی.
- شلومبی وړه مستی راوړه.
- شلومبی اوشورواد بی خونده سړی لړېږی.
- شنی په غلانه چیچلی کیږی.
- شنی که انسانه وای سپرو به پلو ته نه ورکولای.
- شوده راوړه شلومبی وړه، کور دی خپل دی.
- شولی می دی شډلی وی خود سیال سره می دی سمی وی.
- شیخ پریده! پټه خوله دی بهتره ده.
- شیر په شیوه خوړل کیږی نه په کښلی توره.
- شیطان ته یې ویل خاوری خوری و پوښته چی غوړی لری؟
- شین د شانه معلوم وی.
- شین سپی د لیو ورور دی.

www.enayatshahrani.com

# ص

- صبر که تریخ دی میوه یې خوږه ده.
- او یا: صبر که تریخ دی، خوږې میوې هم لري.
- صبر درنه برخه لري.
- صبر سرور دی.
- صبر د میړو لوی هنر دی.
- صفره و وته بلاو وته.
- صورت یې غټ په کار کښې لټ.

www.enayatshahrani.com

# ع

- عاشق تل لوغړن وي.
- عاشق سرنه لري غم د لښکر نه لري.
- عاشق سرنه لري.
- عاشق سترګی نه لري.
- عاشق یم مګر ځان نه وژنم.
- عاصی پوهېږي او دوزخ.
- عاقلان بدی ورکوي بی عقلان په بدي ځان اخته کوي.
- عاقل به ځان ناپوه بولی، بی عقل ځان پوه بولی.
- عاقل پر مخ ځی ترشا ګوري.
- عاقل ته اشارت کم عقل ته کوتک.
- عاقل د هر چا خوښ دی.
- عزیزه خدای دی لوي لره.

www.enayatshahrani.com

- عشق او مشک نه پټېږي.
- عشق يې چې پټ که ځان يې سټ که.
- عذر دي جوړ شه عذر دي را جوړکی.
- عقل په سر دي نه په کال.
- عقل په پيسو نه اخيستل کېږي.
- عقل چې يې کم وي پر کور به يې تل غم وي.
- عقل داسې شی نه دي چې څوک يې په لاس درکړي.
- عقل د عزت ورور دي که عقل لري عزت يې پور دي.
- عقل که نه لري څه نه لري، عقل که لري هر څه لري.
- عقل که څوک مومي دولت کورلره ور د رومي.
- عقل عقلمند غواړي، هنر هنرمند غواړي.
- عقل د بې عقله زده کېږي.
- علت پرېښو کېږي، عادت نه پرېښو کېږي.
- علت پرېښودل کېږي، عادت نه پرېښودل کېږي.

www.enayatshahrani.com

# غ

- غاتري ته يې ويل پلار دي څوک دي؟ دي ويل اس غوندي ما مالرم.
- غټه ګوله کومي څېري.
- غټې سترګې ځان ويني، وړې سترګې جهان.
- غربه در پشا کړم توان به دي پيدا کړم.
- غر په غره نه ورځی، سړي په سړي ورځی.
- غر په پرپټوي.
- غر په پرنه پټېږی.
- غر که هر څومره لوړ دی په سريې لار ده.
- غر ولاړ غشی يې يوور.
- غريب سړي او پړک يې سپی.
- غريب ته يوه ګېډه مستی پسرلی دي.
- غري زمريان ماتوي غوښې ګېډه خوري.
- غړ که هر څو چی شاربل کېږي کوچ يې ډ پرېږی.



www.enayatsrahrani.com

- غلاتا کړه بلا دی پر ما کړ.
- غلامه کوه له هیچامه بېرېږه.
- غل اوسه په انصاف.
- غلبیل ولاړشو کوزی ته یې ویل سو ري.
- غل په غره کښی نه ځایېږی.
- غل په غلانه شرمېږي، ته یې په نیولو شرمېږي.
- غل په غوجل کښی پټېږی.
- غل تر کوره پوری مه شړه.
- غل چی غلا ته ځی قسم په شا ګرزوي.
- غل څه غواړي د ځان مله غواړی.
- غل غل پیژنی.
- غل که نه تښتی مل دي وتښتی.
- غل که هوښیار دي قافله والا بیدار دي.
- غل له خپل سیوري څخه وېرېږي.
- غل له خپل ترپ نه هم وېرېږي.
- غل له څوکی داره نه ډارېږی.
- غل له غلو غلا کوي.
- غل هم وایې خدا یو دی، مل هم وایې خدا یو دی.
- غل یوه غلا کوي، د مال څښتن یې سل ګومانه.
- غلو سل کورونه وران کړل، خپل یې و دان نه کړ.
- غلو قافلی وهلی، نو نه چی کوتې یې وهلی.
- غله ته وایې غلاکوه! د کورڅښتن ته وایې بیدار اوسه!
- غله دري وهی بدبختی پلی وهی.
- غله کورونه وهی بدبخت زورونه وهی.
- غلیم چی ژوبل دي، دوستان به یې ډیروي.

- غليم که دي سروي، تر خپل منافق بهتر وي.
- غم به دي غمجن بد دي، دوست غوارړم دښمن بد دي.
- غم دي دلالی په سرمسته دي تازه ګرځی.
- غم له غمه نه شرمېږي، پرون ابی مړه وه نن توره چرګه.
- غوا که توره ده شودي يې سپينی دی.
- غوا يې حلال نه دي ښانک په سر ګرزوي.
- غوا يې چی سره ښکر په ښکر شی، زيان د بوټو او کانو دي.
- غوټه چی په لاس خلاصېږي په غاښويې مه خلاصوه!
- غوړ په غوړوتويېږي، نه پر خواره چاو ده.
- غوړي په ګوتی اوړه په موټی.
- غوړي د زيړي غوا، کوچ د سپينی غوا.
- غوړي لاغوړي.
- غوږيې ګاته، سريې بايلوه.
- غښتو پلمه غوښته، د بنی خوله وخته.
- غوښی چی پر قصاب ارزانه شی، پر جهان ارزانه شی.
- غوښی خانانو و خوړلی، پر هډوکويې سپی جنګ کوي.
- غوښی دی هغه خوری چی توری وهی.
- غوښه په هر چاګرانه ده، خو پشی ايمان پری راوړی.
- غوښه که وسوځی هم له سبونه ښه ده.
- غوندی ګليکی تشوی، جوالونه کوچنی تشوی.
- غويی چی زوړشی په خوب کښی کو نجاړه وينی.
- غويی د بزګر ملاتړ دی.
- غويی دی چی په ندرلوی شی، غاښونه يې مه ګوره!



www.enayatshahrani.com

# ف

- فقيرانو کوځې مه ښيه.
- فقير ته يو ورپوري سل او يا ورونه ورته پرانستی دی.
- فقير خو فقيريم کچکول مي مين دی.
- فقيره کور دی چيری؟ دي ويل يې هر چيری.
- فقيری هم بی مکره نه کېږی.
- فيل په مالګه څه پوهېږی.
- فيل چی ژوندي وي، يو لک، چی مړشی دوه لکه.
- فيل چی مړ شی هم په ښس کی يو زنګون او به ولاړي وی.

www.enayatshahrani.com

# ق

- قابلیت د لمر سترګه ده.
- قاضي ملامتولم زه نه ملامتېدم.
- قام له قامه نه بېلېږي.
- قام قام ته ځي او به خپل مقام ته ځي.
- قدیمي یار زین کړې اس دی.
- قربان له خپله کوره، چې خبرې شي په زوره.
- قصابان چې ډېر شي، غوا مردار یږي.
- قصاب قصابي کوي، یتیم شپه ورته تیره کړه.
- قلم ئې چې جاري شي، مور او پلار به یې راضي شي.
- قند او کورت په یوه نرخ دي.
- قول یې چې خطا وي، په قرآن به یې څه ویساوي.
- قیاس انا کا وه، چې ملایې غوټه شوه.
- قیاس بابا کاوه، سوګنډي یې مات شو.

www.enayetshahrani.com

# ک

- کاراسان دی، پیل یی ګران دی.
- کادانه خو سیان خلاصوی، کندوان کوچنیان.
- کارته مثل دی پاسته، خوراک ته تند رست دی.
- کارته شل دی خوراک ته ډیر تکړه.
- کارد بابا خو راک د لالا.
- کار زده کړی ښه دی دښمن وژلی.
- کار کړه خدای یادوه.
- کارګه ویل زما سپین ککیه زویه ثزګی ویل زما پستیکه زویه.
- کارګه مرداری خوری، مښو که څنډی.
- او یا: کارغه مرداره خوری مښو که څنډی.
- کارګه غونډی هوشیار دی.
- او یا: کارغه غونډی هوښیار دی.
- کارغه د زرکی تګ تقلید کاوه خپل یی هیر شو.



www.enayatshahrani.com

- او یا: کارغه د زرکی تګ را یا داوه خپل یی هیر کړ.
- کار ګه په پسرلی څه خبر دی؟
- او یا: کارغه له پسرلی څه خبر دی؟
- کارګه ته کنډوهم باغ دي.
- کارګه له اصله تور دی، سپین به نه شی.
- کاروان په باج نه ورکېږي.
- کاروان تېرېږی سپی غپېږی.
- کاروان بند پړی خلکو خولی نه ټولی کېږی.
- کارونه ازلی دی، نه په زور نه په زاری دی.
- کارمی د بل خوښ، خوراک می د خپل.
- کارمی له لاسه واخله! لقمه می له خولی.
- کارګر کور مړ وی، لټ مور ژړوی.
- کاږه بارونه خدای سموی.
- یا: کږه خوله سوک سموی.
- کاسه په کاسه ده کرده په کرده ده.
- کاسه چی په کاسه شی، د خدای وجه څه شی.
- کاسه که د بل ده، ښس خودی خپل دی.
- کال به داوی شپی به نوری وی.
- کال د کاختی دی شامت د بوډی وی.
- کال دی په لکړه تیر کړ که په کګره؟
- کاله کی اوړه نشته، ادي سندری وایی.
- کاله ته به تیرشی خلک به دی ښه نه یادوی.
- کالی چی اوبووړه څوباړی ماور پسی خوشی کړ.
- کام پسی ناکام دی.
- کام کام لره ځی، وریجی لغمان لره ځی.



www.enayatshahrani.com

- کامیابی د استقامت ملګری ده.
- کامه یې لوټ کړه، بیراګان یې اوس خبرېږی.
- کاڼی به پوست نه شی، دښمن به دوست نه شی.
- کاڼی د یتیم په سرلویږی.
- کاڼی ځی‌ځی او د یتیم په سر لویږی.
- کبرجن د خدای دښمن دی.
- کتابونه دریابونه دی.
- کټ دی ستړی کړ، چی پاتی مناشوه.
- کټو چی په سر رانشی نه تویېږی.
- کټوری چی مات نه شو ازانکه بن ولاړه.
- کټوی کولال جوړوی، نیت پی مربی بدوی.
- کډی می لاړی زوی می راملاکړه.
- کراسته داسی ځای خرڅوه چی پری کښینی.
- کرک خو کرک یې دالته دی خوله وچوم چی خولی اچوی.
- کرمیه غم دی نه ؤ غم دی راوړ.
- کری اور بشی غواړی غنم.
- کړی وړی چاره یو اس غواړی دری ناله.
- کږدی په خپلو مراندو ولاړه ده.
- کږي چاری به خدای سمېږی.
- کشتی په نیت چلېږی.
- کلاله وکه خپله سیاله.
- کلپی روپی په زرګر نه چلېږی.
- کله دریاب کله کریاب.
- کلی دو دان وی، لیوان دی پری روان وی.
- کلی په مشر ممبر په ملاښه ښکاری.

- کلی کور به اور واخست، پچلوناوو به غرړ نه کړ.
- کمان زده که په تاخچه کښې بې کېږده.
- کمبختي ښځې په کال کې دوه واره لنګېږي.
- کچنی ته یې ویل یاردې مړشو، ویل یې د کمی کوځی.
- کم اهل چې بسیا شي، عقل یې خطا شي.
- کم بخت سړی د پردی خیرات سرخان وی.
- کمیس مې روغ کړ په یخی، خیال مې خپل ګوتی پر دی.
- کنز خو هر څه وایی، که یې ځوک ومنی.
- یا: کنز خو هر څه وایی، که ملافاروق یې ومنی.
- کوتک وهه د ورور د پاره، خبری کوی د خدای د پاره.
- کوټ کوټ دلته لری، هګی بل ځای اچوی.
- کوټه وسوه دیوالونه یې پاخه شول.
- کورت او غوړی وایی ناست ورته مړنی وایی.
- کورت دی وی غوړی دی وي، په منت یا په سوتی دی وی.
- کور د هغو ګران وی، چې ګتلی یې په ایمان وی.
- کور دی کور کی سو چې دی درګنې ښو.
- کور کښې دی جوار نشته، له تیغ دی د پلو بوی ځي.
- کور مې در جار کړی، تروره د باندی.
- کور مې در جار، له بازوانو پورته.
- کور مې د تالاشی، بول مې دی بالاشی.
- کور و دان ورور و دان.
- کوزده له کوره وکړه واده له پوره کړه.
- کوږبار تر مزله نه رسېږي.
- کوږ لرګی په بار کښې نه تړل کېږي.
- کونډی هم ژاړی رنډی هم ژاړی بریې راوړی په ناورین ژاړی.



www.enayatshahrani.com

- کونړه د لیوره په تمه د میړووته.
- کونړه چې سترګی توری کړی میړه به وکړی.
- کونړه دمیړه په تمه شوه له وږو ټولولو ووته.
- کوڼ دوه واره خاندی.
- کوم شی چې نه پایی زړه ترل پری نه ښایی.
- کوهی مه کینه وچاته چې به وکیندل شی تاته.
- او یا: کوهی کنی پخپله به ورولویږی.
- که اغامری که بی‌بی زما دی وی پخه ډوډی.
- او یا: که خان مری که بی‌بی زمادی وی پخه ډوډی.
- که او به هر ځومره لوړی شی تر پله لاندی بهیږی.
- که باران وی که ږلی میلمه غواړی ښه مړی.
- که باغ خرابوی الو پکښی ږده.
- که باجوړ نه خوری بد مه پری وایه.
- که باجوړ نه خوری بد پری مه وایه.
- که باز په پیسه شی چې پیسه نه وی نویی څه کوو.
- که اوښ په پیسه شی چې پیسه نه وی څه به یې کړی.
- که بی ځښتنه ډیر بدای د غروغرڅه به ډیر وایی.
- که پورته ګورم پاڼ دې که کښته ګورم پړانګ دی.
- که پرتا واوری پرما به وځاخی.
- که په خپل و طن کښی خان وی پر بل وطن اریان وی.
- او یا: که په وطن خان یی، پر بل ځای اریان یی.
- که به ژړا ځوک ژوندی کیدای، مړی به ټول ژوندی شوی وای.
- که په سبا ناری ښاد شوم، غرمی ته به هم پاتی شم.
- که پیل په پیسه شی، چې پیسه نه وی څه یې کوم.
- که پیو ته د زړه کیږی، غوا واخله.



www.enayatshahrani.com

- که پی خوری، غوا واخله!
- که تا وهی زمايې، څه که تا شړی زمايی څه.
- که تاويل ته يی او ماويل چی ته يی هم به زه يم هم به ته يی.
- که تا ويل چی زه يم، او ما ويل چی زه يم، نه به ته يی نه به زه يم.
- که تل لوونه وی ځوانان به نه وی، که تل غوبلی وی غوايان به نه وی
- که ته کړی سمی چاری، تا به څوک باسی دلاری.
- که ته يی زما ځيکريې.
- که ته غريې زه غونډی، که ته ماريې زه لنډی.
- که ته مری ماخوبه وړی، که خرمری ديګان به وړی.
- که ته کټو يی، زه دی بر غولی.
- که ته ټګ يې زه ټګ مار.
- که ته ناز وشی، نو ميرخان به څوک زېږوی...
- که ته يې عالم شير، يو څپک يم ترتاتير.
- که ټوله دنيا او به ونيسی، د هيلی ترپړ کی پوری وی.
- که جنګ نه کوی، هم لکۍ خو دينګه ونيسه!
- که عالی نه يی نولګی جنده وړه.
- که څوک نه شرمېږی څوک به يې وشرموی.
- او يا: په شرم دی هغه وشرمېږی چی پوهېږی.
- که څه وايی څه به واوری.
- که ځان په عذابوی، له بی عقله سره آشنايې کوه.
- که ځان وژنی ګازره خوره، که ګازره وژنی اوبه پسی چيښه.
- که ځغلی له جنجاله، نو تاک مه ږده بی ديواله.
- که خانی غواړی دير ته لاړشه.
- که خوری اخلی، نوله لوی ډيران يی اخله.
- که خر څوړی می زاړه دی، هډوکی مه درانه دی.

- که خره يې نه وړی، په کوټی یی بار کړه.
- که دا بلاویم، انکی می ښه زده.
- که غوا مړه شی، په تاوړه شی.
- که دبیدیا کاڼی پاسته وای، ګیدړانو به هم نه وپری ایښی.
- که دبیدیا کاڼی پاسته وای، ګیدړانو به ټول خوړلی وای.
- که دنیا ډیره شی هم، اخر به تیره شی.
- که سر کار د کوره تیل قو شو لمن ورته نیسه!
- که دلوړی ولوېږم د مځکی خونه لوېږم.
- که دی په ښویادول په ښو به یادشی.
- که دی تربور خرشی، مه پري سپریږه.
- که د سهار ورک ماښام کورته راشی، ورک نه دي.
- که دښمن ګیدړ وی هم، تا بیا ورته د زمری نیسه!
- که دښمن دي هر څومره خوار شي قوي یی بوله.
- که دومره بهادر وای، نوم به دی فتح خان و.
- که د کاله رنګ بد ېږی، د میلمه هم بد ېږی.
- که د مور زوی میړه کم دا تور طالع به څه کم.
- که دیک د سروشی بیخ بی سوری.
- که د فصل خواریم د اصل خوار نه یم.
- که روزی په عقل وای بی عقله به له لوږی مړو.
- که زور په بازو نه لری زر په ترازو نه لری.
- که زه نه وایم دا ګوډه پښه می وایی.
- که زه مړ نه وای زما خر په تابیوی.
- که زمری وږی پاتی شی، د ګیدړی پاتی شونی نه خوری.
- که ساړه دی په ټول ښار دی.
- که سر غواړی سرمه پاشه.

- که سل کاله ژوندی یې، عاقبت د ګور بنده یی.
- که سند لوی دی، خو سپی ورته ژبه وروړل دی.
- که شپه تیاره ده منې په شمار دی.
- که ښه شپه وی په خوارانو هغه شپه وی.
- که غاپی نه ځک خو اوسه.
- که غرلوړ دی، په سریې لاړده.
- که غوا راغله په پی که نه راغله پر دی.
- که کښیناستی خوله پټه په لاس به رانه وړی هیڅ ګټه.
- که کټو خوټیږی، خپلی شونډی سوځې.
- که لاړشی تربلخه، درسره ده خپله برخه.
- که لعل هر ځومره خراب شی، له جستوبنه دی.
- یا لعل په ایرو کښی نه پټیږی.
- که لیوه ډیر میړه وی، ځانته دي سوګلی جوړی کړی.
- که ما چاړه درلودای، سر به می ولی داسی بیر وای.
- که ماوپوښتی، ته به وتښتی.
- که مځکه ټوله وربشی شی، د خره په کښی لپه ده.
- که اور شی، د روپی خروار شی، د خره په کی لپه ده.
- که مړی خبری کولی نوولی به مړو.
- که مشر مشر توب غواړی، کشر هم د دنیا دودغواړی.
- که مرګ غواړی، کندوز ته لاړشه.
- که مرغه غوندی پربړی تر خپل قسمت به نه تیربړی.
- که میلمه یی، مړ خونه یې.
- که نه پوهیږی ځوان مال اخله.
- که نړی و دانه ده، په مړی قیامت دی.
- که والوزی مرغه شی، خود نصیبه به تیر نه شی.



www.enayatshahrani.com

- که ور وردی په مخه دی ګور دی.
- که وړی یم سړی نه خورم.
- که ورځ د زور ورده، شپه ده کمزوری ده.
- که هر څو هوښیاریږي، نادانه پوښته.
- که هرې ښځی میرخان زیږولای، نو میرخان به ولی یادیدای.
- که هین کړی، که پیین کړی، دا پټی به شین کړی.
- که یار نادان وی، نو کار ګران وی.
- که یاری نه کوی بهانې ډېری دی.



www.enayatshahrani.com

# ګ

- ګامیښنه د ګل په بوی څه پوهېږي.
- ګټه بې سترېیانه کېږي.
- ګټه په تاوان کېږي.
- ګټه په سره سینه کېږي.
- ګټه یاد وړي یا دهګۍ.
- ګټې تر ګټو لاندې وي.
- کټې درو اوو دي.
- ګرګه بل علاج دی نشته بې له مرګه.
- ګرګه چې زړېږي اور پرې لګېږي.
- ګړنګ یې څخیده چې خدای ورکړه ستایې څه.
- ګیدړ چې ایسار شي، یا ایخ وایې یا سیخ.

www.enayatshahrani.com

- ګیرې که مات نه شو، تنګ یې بور نه شو.
- ګز راوړه خمتا یوسه.
- ګلاب بوټی کې ښه ښکاریږي.
- ګل د کدو ګل ګوره! یو پورته کوه تري لاندي بل ګوره!
- ګل چې دماغ دی هم ښه دی.
- ګل د ګل سره ښه ښکاریږي.
- ګل شی خو عمر دی د ګل مه شه!
- ګل هم بې اغزي نه وي.
- ګله له یاره نه له ماره.
- ګلیګی د موري په زور خور ځي.
- ګنجی که داکتر وای، د خپل سر علاج به یې کړی و.
(ګل اگر طبیب بودی، سر خود دوا نمودی).
- ګور که ګران دی، د مړي ناکام دی.
- ګوره ګوره وایه خوله په دی خوږه دی.
- ګومل که وچ دی رود یې بهیږي.
- ګیدړه چې څه پیدا نکړي، ځکولي پټوي.
- ګیدړه د اوښ په سیوري تلله ویل یې دا زما دی.
- ګیدړه تر هغې د ښادی ده چې ځولمر نه دی ختلی.
- ګیدړی ته خپل پوستکی اور دی.
- ګیدړی سترګې پټې سړی سپي ونیوله.
- ګیدړ په نعمت شکر ویسته، چرګه یې د خولې ووت.
- ګیدړ ویل که ما مړکړی نو قیامت به شي.
- ګیلانه څه بلاشوی، چې دلوی و کم د خندا شوی.
- ګیله له خپله کیږي.

# ل

- لار په مزله لنډېږي.
- لار میندلی، ماهي پرتللی.
- لار وهه، د خدای لار ګوره!
- لار یوه کوه، قدم لري ږده.
- لاس چې تر سخرې لاندې شي، په دردیي را کاږه.
- لاس چې مات شي، غاړې ته ځي. (دست شکسته، تاوان گردن).
- لاس چې له لاسه خطا شي، بیا یې چاره نشته.
- لاس د برې کار دی.
- لاس مې تور، مخ مې تور.
- لاس لاس پېژني.
- لاس مې توری پشوخه تلی دی.



www.enayatshahrani.com

- لاس په ايرو کښې نه پټېږي.
- لالپوره په ميږو يو ده.
- لامبو په رېره نه ده.
- لانده کړی در ښښلی، وچ مې لانده نه کړې.
- لټ د دوبي سيوري غواړي، د ژمي پياوي.
- لټ يې د کور په وره کښې غواړي، که نه وي نو بيا يې ژاړي.
- لټه ښځه ولور نه لري.
- لخ د اوبو نه بېرېږي.
- لخ په خوب خمتا ويني.
- لرګی يې توره سرې ځيني جوړوه.
- لري شي، بري شي، په باغوان رابرابر شي.
- لري له سترګو، لرې له زړو.
- لري مې واده کې، چې دابا کنډولي شاکاسي وبولم.
- لري مه ځه چې ليوه دې ونه خوري.
- لړم ته يې ويل کوچ، دې لکۍ په شاواړوله.
- لږ به خورم هو سابه او سم.
- لږ خوره هو سابه اوسی. (نيم نان، راحت جان).
- لږ خوره! تل خوره! ډير خوره! زهرو ګنډير خوره!
- لږ و خوره نو! کرو نيسه!
- لږ خوراک ډير عبادت.
- لږ خوراک د ځان کومک.
- لږ خوره! ډېر ګټه!
- لږ خوره طبيب ته نه ځې.
- لږ لږ ورکه! ډيره وګټه!
- لږ ويل خو ښه ويل.

- لږ غرېږه ډېر کوه.
- لږ ګټه، تل ګټه.
- لږ مې در کړه خوندېې در کړو.
- او یا: لږ مې در کړو، خوندیې در کړو.
- لعلپوره! په خیر و پوره.
- لکه ابا، هغسې يې قبا.
- لکه ادې، هغسې يې پایځې.
- لکه بخت، هغسې تخت.
- لکه پړ، هغسې وراشه.
- لکه تنده لښته په هره خوايې کږوي.
- او یا: تنکۍ لښته په هره خوا کږېږي.
- لکه جولا خپلو پښو ته ګوري.
- لکه چرګ آذانونه ډېر کوي، لمونځ يې هيچا نه دي ليدلی.
- لکه ځان هغسې جهان.
- لکه ځنګل هغسې يې چغال.
- لکه د آسمان کټ، چې د شپې پیدا شي دورځې ورک شي.
- او یا: چې د شپې پیدا شي، دور ځې ورک شي.
- لکه د تبې ډوډۍ، نه مخ لري نه شا.
- لکه د ښت، هغسې کښت.
- لکه ژرنده، هغسې يې دوړه.
- لکه ژړه، هغسې سود.
- لکه غر، هغسې ځناور.
- لکه غر هغسې کربوړې.
- لکه غوايې چې سرېې واخيست، يا به ديوال ړنګوي يا به جغ ماتوي.
- لکه ګور کې د مور د مخه زغلې.

- لکه لیونی خپل ځان ته خاندي.
- لکه لیونی له کوره په ساراخوښ دی.
- لکه میندی هغسی یې لوپی.
- لکه مړک په کورتو پسی مه زغله!
- لکه ورغومی، هومره یې کومی.
- لکه لوړ، هغسی ځوړ.
- لمر په دوو ګوتونه پټېږي.
- لمر ځیره وهی، خرکار پټیره.
- لمر د کمو نیکبختانو له رویه راخېږي.
- لنډ کلونه، اوږده یې پیغورونه.
- لنډی له مار غزیده، پر منځ دوه ځایه شوه.
- لنډیې داوړ ده سره برابر وه، د بیخه ووت.
- لکه لنډه ځمځه د کاسی منځ ته لوېږي.
- او یا: لکه مچ د کاسی منځ ته لوېږي.
- لوخی د کام سپکه غوښته، سریی په دریاب کښی وچ شو.
- لور په لوټه تیره کوی.
- لور چی ښه شی، د مور کوښی یی په پښنه شی.
- لور د موره بیلوی، تنګه بلاده.
- لور د مور د غېږي کاږي، نوم یې تنګه ده.
- لور چی د مور د غیږی کاږی نوم یې تنګه ده.
- لور د لویه کوره غواړه، کوچنی ته یې ورکوه.
- لور پریږده! کوریې کښیږ ده.
- لوری تا ته وایم، نږوری نږوری ته واوره!
- لوی می کړی لویې رامه کړی.
- لوی د خدای په هیله ؤ، وړو کی د لوی په هیله.

- او به ګوله ښه ده، چې د نس پکښې تښه ده.
- لويه کول ښه دی، چې ګيډه په کښې ځړېږی.
- لويه کوله ثواب لری، چې د نس هم پکښې خير دی.
- لويې يو خدای لره ښايي.
- لويې پر کور کوی، کوچنی يې پر صحرا.
- لويې پر کور کوی، کوچنی يې په بيديا.
- لويې غاپی، کم يې تراپی.
- له اخرت نه څوک نه دی راغلی.
- له بارانه جګ شوی، ناوی ته کښيناستی.
- له بازاره زه راغلم له نرخه ته – خبری کوی.
- له ښاره وو ځه! له نرخه مه وځه!
- له بدو څخه يا غلی اوسه يا لري.
- له بدو سره چې اوسی که بد نه کړی بد به يوسی.
- له بد سره ګرځی بد به پرځی.
- له بله به خپل ته وژاړی، له خپله به چاته وژاړی.
- له بوسو لاندی اوبه مه تيروه.
- له بی با کوچی څه پاک شی، چې پر دی کوريې اتاک شی.
- له بی کاری نه بيګاری ښه ده.
- له پلالی لاندی اوبه مه تېروه!
- له پلارنه يې زوی غټ دی.
- له پر دی سړی ګيله نشته.
- له پر دې ښځی، له نړېدلی ديواله، له ليونی سپی، څخه ځان ژغوره.
- له تر بوره می زړه ګرم دی.
- له تشی ټوپکه ده وکسه ډار يږی.
- له تناره يې موری لويه ده.

- له جاهل سره چې وايي، لکه ميخ چې په تيږه بيايې.
- له خزانې سره ماروي.
- له خولې دې وځه! په ګريوان دې ننوځه.
- له خيره دې بيزاره، سپي دې درکوری کړه.
- او يا: خيرمه راکوه خوسپي در کوری کړه.
- له خيره مې دې توبه، سپي دې دروګرزوه.
- او يا: له خيره مې دې توبه، خو سپي درکوری کړه.
- له خوراک نه يې تمه ښه ده.
- له خوند نه يې  شخوند ښه دی.
- له څاڅکونه سيند جوړيږي.
- له ډکه لوښې هرومرو تويږي.
- له سختې مرګ نشته.
- له غم يې خلاصيږم نه، له ښادي څخه يې خبرېږم نه.
- له کنډو څخه يې موري لويه ده.
- له کور نه په صحرا خوښ دي، له ويشه په تالا.
- له کوره به در سره يم، نه تر ګوره.
- له کوم ميلمه نه چې نه خلاصيږې، هغه ته دوه واري هر کلی وايه.
- له کوره يوليوني وی، نه تول.
- له کونډې سره چې هر څومره ښه کوی، دا پخوانی ميړه يادوي.
- له ماپاتې وتاته، له تاپاتې وماته.
- له ما پيدا شو، راته بلاشو.
- له ماره مار بچې زيږي.
- له ماده، چې پر تا ده.
- له موره يې نمسې غټه ده.
- له موره که يويم، له کامه خويونه يم.

- له ليوني سپي څخه هر څوک وېرېږي.
- له نادانه دوسته هوښيار، دښمن ښه دی.
- له نړېدلي ديواله وېره په کار ده. (از ديوار شکسته حذر).
- له نيا نه يې لمسی غټ دی.
- له ورخه تېری اوبه، بېرته نه راګرځي.
- له وزګاری څخه د کرتو چيچل ښه دی.
- له وږی نه ډوډی غواړی. (آچ بچه غر دن، قاچ بچه غر).
- له ويش نه يې په تالا خوښ دی.
- له هغې بلاچې نه خلاصېږی، دوه کرته په مخه ورځه.
- له يارانو سره مرګ اختر دی.
- ليلی ته د مجنون په سترګه ګوره.
- ليونی په ژمی کښې پالوده غواړی.
- ليونی کلی پوری خاندی، کلی ليونی پوری.
- ليونی ته نه څه ورکوه مه! نه ځنی غواړه.
- ليوه په خلاصه خوله وهنه کوي، ملک يې په پټه خوله.
- ليوه ته يې نصيحت وکړ، په هغه ورځ يې شل وداړل.
- ليوه ته يې نصيحت کاوه ويل ميږې ولاړې.
- ليوه که سوکلی جوړولای اول به يې خپل ځان ته جوړي کړي وې.



www.enayatshahrani.com

## م

- ما پر آسمان غوښتی، خداي پر مځکه راکړی.
- ما پور غوښته، تا نور غوښته.
- او یا: ځائی پور غواړی، توری لا نور غواړی.
- ما چی ته لالا بللی، ماویل ته به ټاټکی په ګوته راوکاږي.
- ما خواست، کی تا راته لاس کی.
- ما ویل چی زما نشته د دی خیالی خولا نشته.
- ما ولېږلی کلانه ته لاړی مشغولانه.
- ماهی ویل ما به خبری کړی وای، مګر خوله می د اوبو ډکه ده.
- مچ نور څه نه کوی، خپله خوا بدوی.
- مچه خپل حق دی وچه.
- مچی په لوی لاس مه لونوه.
- مځکه هغه سوځی چی اور پربلېږی.
- مځکه مور ده زر زر زېږوی.
- مځکه سره زر ده.
- مخامخ زوی ته څوک نه وایی چی زوی.



www.ehayatshahrani.com

- مخ کی ځه، خو شاته هم ګوره.
- مردار پوړنی اورنه اخلی.
- مرغان هغه سره کښینی چې بنی یې سره ورته وی.
- مرغی چې په بوټی ننوزی ځان ورکوی.
- مرګ او خوب یو شی دی.
- مرګ دی وی خو په مړه ګېډه.
- مرګ دول او سورنی سره نه راځی.
- مرګ ته ځوان او زوړ یو شی دی.
- مرغلری په دریاب کښې وی.
- مرګ حق دی ماخو کفن په شک کښې دی.
- مرګ حق میراث حلال.
- مرګه د ټوپک ښه دی، نه د تلتک.
- مرګ کله پردی کوی، کله لوړی کوی.
- ما د ېرش روژې داختر د پاره نیولی.
- مارته چې بدبختی راشی، نولاري ته راشی.
- مارته لستونی کی ځای مه ورکوه.
- مارچی خپل غارله ورشی، نو سمېږی.
- مارچی سوړیلره ورشی، نوسمیږی.
- مارچی دی وخوری ماردی. شرمښکی دناسوړ داغ دی.
- مارخوړلی له پړی هم وېرېږی.
- مارخونه یې چې خاوری خوری.
- مار راوړی، مارخورلی.
- مار دلنډی کړ مړدی نه کړ.
- ماردشینشوبی بد راتله، شینشوبی دغار په خوله کښې ورته شین شو.
- مار وژل او بچې یې ساتل.

- مارهم د دښمن په لاس مه وژنه.
- مارچې لنډی شي، درسره خولې اچوي.
- مار که اوږد دی سمساره پر سوروره ده.
- ماره ته يې کتی نه شم، وږی ته يې ورکوی نه شم.
- مالا جوړولې، لالا غزولې.
- مال په دهقان سپاره دهقان په خدای.
- مال په مال پسې ځی.
- مال چې وخاوند ورته نه وی حرام دی.
- مال يو ځای ايمان سل ځايه.
- مال خپل ساته، همسايه غل مه نيسه.
- ماما ځان ګروی، د خوريې ورته تمه کيږی.
- مامونده بيادی مونده.
- مرګی د اوبو واردی، نن پرما سبا پر تا دی.
- مرګی نژدی انديښنی لری.
- مرور دوی برخې لری.
- مريې په مستومست وی.
- مريې غوندی يې وګټه، ساووغوندی يې ښته.
- ميړانه د ميړو جوهر دی.
- مړونه يې په خولو ګټی، اسونه يې په سوو ګټی.
- مړونه مری، نومونه يې پاتې کيږی.
- مړی به ډير څه وايي، که ئې ځوک ومنی.
- مړی په ژړانه ژوندی ګيږی.
- مړی په ګور ژوندی په کور.
- مړی و، و يريې نه وه.
- مړی ايری مه شينده.

- مړی پر کابل وشو، تندی یی زما په وسو.
- مړی څوک په لغته نه وهی.
- مړی ته شپه او ورو‌ځ یوه ده.
- مزی تاو کړی ګیدړی چی همیش دی شوندی غوړی.
- مزدور چی له کال نه تیرشی، د کاله واکدارشی.
- مزدور چی نور کار نه لر ی، ورپه پوری کوی.
- د مزدور نه چی نور کارونه ورک شو، ورپوری کوی.
- مږک پهٔ غارنه شو ننوتلای چچ یې په لکی پوری لوته کړی وه.
- مږک ګنګری جوړ کی دپشی په غاړه کښی به یې څوک اچوی.
- مږک چی کور په ژرنده کښی لری، څه غم لری.
- مږک واده لری پشی پری راخبره کړی چی غم پری جوړکړی.
- مسافرله خیره پوشته، له شپویې مه پوشته.
- مسافری سړی پخوی.
- مسافری سړی باتجربه کوی.
- مستی دغلمینی بانه بنګ دی.
- مستی ګیدړو خوری خوله یې دازګړی ککړه کړه.
- مسجد دخوب ځای نه دی.
- مسجد که ونړېږی، محراب یې پرځای وی.
- مشر مشره برخه لری، کشر، کشره.
- مغزی زمریان ماتوی، غوښی ګیدړان خوری.
- مکه په منډه نه لنډېږی. (جوینده، یابنده ست).
- مطلبی ژوند باله کیږي.
- ملابانک اوچر ګ بانک فرق لری.
- ملا ځنګلی ته نه ځی، میلو هواری ته نه راځی.
- ملا هم پاک مسواک یې هم پاک.

- ملا ګوره کوريې مه ګوره.
- ملا ګيډه دخيرات لپاره غوړوی.
- ملا لورنه خوښوی، هسی یی سر لوړوی.
- ملا ملا تلبردی، یوملګری می بردی.
- ملامی کړی، دخپل ځان بلامی کړی.
- ممیز بی خلی نوی.
- من خوړم سیر ګنهم، بی بی اوسم که درځم.
- منډی به لالا وهی مړی به عبدالله وهی.
- منکر نردی قایل خردی
- منګی هره ورځ نه ماتیږی.
- منګی، کله کله ماتیږی.
- منه دی وی له ولی دی وی (دوه). از بید بیار آلمه (سیب).
- موچی د نورو څپلی ګنډی، مګر خپلی یې څیری بیری وی.
(خانهٔ نجار دروازه ندارد).
- مورچی یې موټکی وی، لوریې اشوکی وی.
- مورچی روی شی، لاډ زوی ژړه نه خوری.
- مور او پلار چی زاړه شی، له شکر ولاخواږه شی.
- مور او پلاریې پر قاضي، هلکان پر بازی.
- مور نه ده، میره، ده راته کنبلی یې چاړه ده.
- مور یې په کلی شلومبی غواړی، لوریې په نیم من کوچو سرنه غوړوي
- موریی داسی به دي وادوم چی څوک دي نه کوي.
- مور نه میره کیږي.
- مور یې پیدا نه و، لور یی پر بام ګرزیده.
- مور یې چی درخاني وي، لور به یې ښاپیری وی.
- موږ بز ګردی په کور میلمه مه شه.



www.enayatshahrani.com

- موړ دوړي د حاله څه خبر دی.
- موړ چې نس ګرو وی دوږي ورته طبع وی.
- موړ تپول د یوه لاس ګوتی یو.
- موذی په راځی.
- موزی لایق دی، د شړي کربره مه پرا غوندی.
- مه پوری خانده، چې در پوری و به خاندی.
- مه چاته څه ورکړه! نه د چا زړه بد کړه.
- مه خوره هغه کراړه، چې پری نیسی دی تر غاړه.

مه داسی خوړشه چې څوک دی وخوری.

- مه داسي تریخ شه چې څوک دی وغورځوی.
- مه د چا را پاته کړی، مه مې چاته ور پاتی کړی.
- مه راوړه تر خولړه، در به شي خوړو لړه.
- مه غوندی تشوه، مه وړی ژړوه.
- مه غولبه کړه مه شیداره! خداي بی درکړی په تیاره.
- مه کولبه کړه مه شو د یاره، خداي بی درکړه په تیاره.
- مه کرل که! مه ریبل که! توری ختپی اړول که.
- مه کړه هغه چاره چې نه دی مور کړی وی نه پلاره.
- مه کړه د رویشه، پر تابه درشی پس و پیشه.
- مه وهه چې به ووهل شی.
- مه وایه پرما چې ور بشی پرتا.
- مه وایه ماته چې دربشی تاته.
- مه کوه په چا چې و به شی په تا.
- میاشت په لومړی ورځی معلومېږی.
- میراث د هغه ته پاتی شه، چې هم یې خوری هم پری ژاړی.
- میراث خوربنه دی که آموخته خور.

- میره مې نه لیده تر مور مینه.
- میړو ته ګوره! برخې ویښه.
- میړو له خندا موندلې ده.
- میړونه که څه نه وي، له خدای لرې نه دي.
- میړه څه وهلې څه پوري وهلې.
- میړه ته وایه میړه ګیه.
- میړه یا نیکنام یا بد نام.
- میړه په خواري بد ته ښکاري.
- میړه مري میړانه یې نه مري.
- میږ مداره پورتر غاړه.
- میږه که ډنګره شي، هم دوري ورته هیله ده.
- میږه دې په لیوه و سپارله.
- میږې ته چې خدای په قهر، شي نو وزرور کري.
- میږې تر ځان لوی باروري.
- میږې پړانګ ماتوي، غوښې ګیدړان خوري.
- میږې پړانګان ماتوي غوښې ګیدړان خوري.
- مینه په خوب کې تاپوګان ویني.
- میلمه په تنګ ښه ایسي، کور به په ست.
- میلمه به دې شم مګر نه مې بازوی نه به مې بندي کوی.
- میلمه خپل نصیب خوري.
- میلمه څه خوره، څه پریږ ده.
- میلمه شړلې ښه دي، نه په کنډه نهار.
- میلمه د کور د خاوند اس دي.
- مینځه چې توده شي هلته بیده شي.



www.enayatshahrani.com

# ن

- نا بلده غل کادانه وهی.
- نابلده غل د بوس خونه وهی.
- نابلده غل په بوساړه ننوځی.
- ناپوه يې دومره په بل نه کوی لکه په ځان.
- نا پوه يې په سلو کلو ګټی، په یوه ورځ يې بايلی.
- ناخبره د مر کی لیوه دی.
- نادار پوروړی، چانه دی وژلی.
- نادیده تلتک نه درلود ، چی پیدا ايې کړ، تر غرمی پکښی پروت وه.
- ناراسته سړی په وچه ځمکه ښوېږی.
- ناسته ښځه کار کوی، ولاړه ښځه ښار کوی.
- نان ګدای ښه دی نه ځای ګدای.
- نان هوسي یویې خوری، بل ورته مری.
- ناوی تللی په خړی ورايې، پنډه په نغری.

- ناوی په پسول ښه ایسی، پاچا په خول.
- ناوی هسی هی لری، خوپه زړه ګوړی ماتوی.
- نخل به هلته نخل شی، چی په څنګ ویې وربل شی.
- نر پسه د حلالولو د پاره دی.
- نرخ ته ګوره! ګولی وهه.
- نر زوی په دوبی کښی معلومیږی.
- نر دی مره، نر دی زېږه!
- نر مه غاړه توره هم نه غوځوی.
- نسته داسی لوری چی وروتښتی کمزوری.
- نصیب په ګټه کړی خردی.
- نصیحت ومین ته ګټه نه لری.
- نعمت قدر پس له زواله معلومیږی.
- نعمتیې وهغو کسانوته ورکی چی پرښو خوړویې توزن لوښی نسکورکی
- نغری د کهول مشر دی.
- نغری له د شمنانوډک ښه دی، نه له دوستانه نو خالی.
- نن پر ما سبا پرتا.
- ننګ د ګور ستانه پاخیدلی دی.
- ننګ له میړو ولاړ، شرم له ارنینو.
- ننګرهار نیم بهار.
- نر پسه خدای حلالولو ته پیدا کړیدی.
- نر بیعقل سړی ښه نیولای شی.
- نور جوړ، کارته ناجوړ.
- نور یو منزل کوی، سپی دوه منزله کوی.
- نوریې ترمړیدو خوری، خیتهور ترلیدو خوری.

www.elayatshahani.com

- نوک او اوری نه سره بیلېږي.
- نوکر داسی دی د دښمن په کور دربېږي.
- نوم یې لوړ کوریې ډګر.
- نوم د نامه نه پیری کېږي.
- نوم دی فتح خان ایښی دی، تر کور دی سپی په تاخت تېرېږي.
- نوم یې خان کوریې وران.
- نوم یې خان دی کوریې وران دی.
- نو نس شل کیدای نه او بیړاخستی نه.
- نه به تل داسره او ښان وی، نه به تل دانا صر خان وی.
- نه به درته ووایم چی پر مخ دی څوکله دی.
- نه پوهېږم چی ورتنګ شو، یا نه غټ شو.
- نه تاڅه راته کښېښوه، نه ماڅه پکښې پرېښوه.
- نه تا کړی، نه ما کړی، پرڅه باندی پخلا کړی.
- نه جغ کوم نه سپاره، خدای بی راکی په تیاره.
- نه څه وونه څه وشوو.
- نه چالېدلیې نه باد وهلی.
- نه خان دی، نه مان دی، زما د اوړو زیان دی.
- نه خر وهلی، نه لښته ماته.
- نه خرمړ کیده، نه سپی ځنی ته.
- نه خوړلی، نه څښلی، پښتورګی درد نیولی.
- نه دبی مالګی خوړو مزه شته، نه د پر دی زویه ګیله شته.
- نه د چا کور، نه د چا کلی.
- نه دی ښه الوت شته، نه دی بد حاله مرګ.
- نه دلی شوم، نه هوری، تر منځ شوم خاوری ایری.
- نه د مړو د ژړادی، نه د ژوندو د د لاسا.



www.enayatshahrani.com

- نه دی پاتی خورم، نه دی سری چلوم.
- نه دی غیلی بیایم، نه دی ګاړی خورم.
- نه دی کورت خورم، نه غوړی، نه دی سوک خورم، نه سوټی.
- نه دی وی هغه غوړی، چی ویی نه خوری سړی.
- نه زما پلار ستا تر بور دې، نه ستا پلار زما مزدور دی.
- نه سیخ سوی نه کباب.
- نه شرم نه حیا، لعنت پر بی حیا.
- نه کرم، نه ریبم، توری ښتی اړوم.
- نه کم، نه کمتر، سلامت د غوایې سر.
- نه کور ورک، نه دود ورک.
- نه ګنډم چوټی، بیزاره یم د ګټی.
- نه ملا شوی، نه امی شوی، د پلار مینه دی ورکه کړه، چرسی شوی.
- نه یو خان نه سل علاجه.
- نه یې تر خولی شوه، نه یې تر نسه.
- نه یې خوری، نه یې خورندی ته ورکوی.
- نیت سم نیسه، اول یې پر دښمن نیسه.
- نیت سم کړه لومړی په دښمن کړه!
- نیت می وتاړه پر بړی، مانوګیت وهل په کلی.
- نیستی اشخارونه ډېریږی.
- نیک بخت یې پر بل وینی، کم بخت یی په ځان.
- نیک عمل به دی باچا کی، بد عمل به دی رسوا کی.
- نیک عمل به دی سلطان کی بد عمل به دی په ځان پوری حیران کی
- نیکی د دښمن سره کوه چی تور پمه یې ووځی.
- نیمه ډوډی د کوټی پای.
- نینی په غلا نه چیچل کیږی.

## و

- واده، اسانه دی، جل و جهازيې ګران دی.
- واده اسانه دی، ټک و ټوک ئې ګران دی.
- واده په سازښه ښکاری، مړی په وير.
- واده د الله داد دي په کښې غورځی مولاداد.
- واده د نه ستنی کرياب دی.
- واده دی د پر دی، پکښې غورځی ليونی.
- واښکی پرنری ځای شيلړی.
- واښکی د سمی خوری، هوا د غره لری.
- وای ملک تور و خوړ که دوړو؟ وای دوړو
- وباسی پيسی و خوره پتاسی.
- وباسه پيسی، پس نو و خوره پتاسی.
- وبه يی پوښتم، واک اربه يی نه کړم.
- وتلی ښه دی، نه تړلی.



www.enayatshahrani.com

- وتلی ښه دی، نه ترپلی.
- و جنګ ته یوه لویښت د مخه کیدل، د سلو کالو لار ده.
- وچ اوړه په د یوال نه نښلی.
- وخت چی د بری شی، هر ګیدړ زمری شی.
- وخت چی دختمی شی، دیتیم پزه وینی شی.
- وخت سره زر دی.
- وخوره اسالب، چی حاصل دی شی مطب.
- وخوره ګلبخور، چی دی وشی میراث خور.
- ورانول آسان دی، خو جوړول ډیر ګران دی.
- ورجی غوښه ترماړه نسه وی، ارمان چی بوکو کیریې سړی نه وهلای شی چراغ یې په اوبو کښی بلیږی.
- ورکړه په لاس ګرزه په پښو.
- ورکه که نیستی، سړی باسی له سیالی.
- ورور چی هر څومره بدشی، د میری له زویه ښه دی.
- اویا: سکه وړورچی بد شی د میری له زویه ښه دی.
- ورور چی ننګیالی شی، د خور پر سر تیکری شی.
- ورور چی سپور شی، د خپل کور شی.
- ورور دی وی، په لاهور دی وی.
- ورور دی وی، د میری دی وی.
- ورور وژلی ښه دی، که ګومل پری ایښی ښه ده.
- ورور یې ګوره، خوریې غواړه!
- وروریې کسه، خوریې نسه.
- وروری به سره کوو، حساب تر منځه.
- وروریې مه و هه په توره، خوریې ناسته ده حضوره.
- وروریې وروړته ګتی، شریک یې شریک ته ګتی.

- ورونو جنګ وکړ، ساده ګانو باور .
- وریښم که زاړه شي، د خره کته لانه شي.
- وریندارې خواره به دې غواړم، نه د ورور له مرګه.
- وړوکی دښمن، د اور بڅر کې دی.
- وړو کی دښمن، لوی و ګڼه.
- وړه چې په مینده شي، هغه لالو په فتنه شي.
- وزه نه وزه، جنګی لالا واده دی.
- وزه ننوزه وړسک وخوره لیمه دی وزه.
- وزه د شپون د پاره نه ده، شپون دوزی د پاره دی.
- وزی چې د شپانه ډوډی خوري، دانګ به په ښکر خوري.
- وژاړه! چې وخاندې.
- وږی په خوب دسترخوان وینی.
- وږی پشو د زمری سره جنګیږی.
- وږی د ډوډی تپهار اوری.
- وږی ته پا خه تېر ښه دی، نه سپین زر.
- وږی ته چاویل دوه دوه ځوکېږی، ویل یې ځلور ډوډی.
- وږی ته د پړانګ پوست، سنګکی ډوډی ښکاری.
- وږی د ملغلرو همانی پیدا کړه، د نینو ګمان یې پرې وکړ.
- وږی نس مړیږی خو وږی سترګې نه.
- وږی سترګی نه مړیږی.
- وږی نس بلا دی.
- وږی ګیډه بلا ده.
- وږی لره، نیمه ګوله هم غنیمت دی.
- وږی نه یم قدر غواړم.
- وسله هغه ده چې په لاس در غله.



www.enayatshahrani.com

- وسله که سل کاله بارده، په سخته ورځ په کار ده.
- وطن په دوو سترګو خپل دی، په دوو پر دی.
- وګټه! پیل وخوره.
- وګوره سړی، تری لاندی واچوه کالی.
- ولاړی او به ژر زیږیږی.
- او یا: اوبه په ډانګ نه بیلیږی، ولاړی اوبه ژر زړیږی.
- وماته خندا راځی، ستا د پلاره نه هه هه.
- ومی بوله! ومی نړه!
- ونه خوری هغه غوړی! چی وباسی مرغیړی.
- ونه چی ژړه شی، د هری پلا پری شپه شی.
- وهم د چیری ډبادی چیری خیژی.
- وهم دی چیری ډب دی چیری خیژی.
- وهو شیار ته نیمه کوه! وبیعقل ته بشپړه!
- ویشلی ورور! تربور دی.
- ویل دی ښه! کول دی بد.
- ویل! خره، خره، چیری ځی؟ ویل مالګی لره ځم.
- ویل سته عمل نشته.
- ویل شته دی، عمل نشته.
- ویل لکی ښه دی، که پتی ویل پتی.
- ویل یی تر لاس به دی ونیسم پرګرده دنیا به دی وګرزوم ویل یی ته خوبه هم راسره یې.
- وینی می دویالی ترغاړی بدا یسی، په کور کی راته شین شو.
- وینی په وینو نه مینځلی کیږی.
- ویی واهه په سر وی چا ودیدی تلی.



www.ebayatshahrani.com

## هـ

- هڅه په پیوند جلا کېږي.
- هڅه وعمریې مه حسابوه! حال ته یې ګوره.
- هر چا ته خپل وطن کشمیر دی.
- هر چا ته خپل مزی مرغلین ښکاري.
- هر چا ته خپل زوی شهزاده دی.
- هر چیری چی ښه، هلته دی شپه.
- هر چیری چی خوری، هلته به مری.
- هر څوک له ځان خوښ تیره بیا بنګښ.
- هر څوک پوهېږي چی غوا توره ده شیدی سپنی.
- هر څوک چی وزګار شی، یا غل شی یا بیمار شی.
- هر څوک چی هوښیار شی، نادان لا پوښته.
- هر څه چی درته وایم ته خپله غوږ که شاوی.
- هر څه چی کری، هغه به ریبی.



www.enayatshahrani.com

- هر څه ځی خو، عادت نه ځی.
- هر څه می د بل خوښ دی، عقل می خپل خوښ دی.
- هر سړی خپل غم ژاړی، نه چی د بل غم.
- هر سړی تر خپلی مدعا پوری یار دی.
- هر لوړ ځوړ لری.
- هر سور ږیری ملا شاه ګل نه دی.
- هر شی چی غبرګ شی لنډ ېږی، خبره چی غبرګه شی اوږد ېږی.
- هر نوی قدر لری، بی له مرګه.
- هر مرغه خپله یې ځاله، خبر نه دی یو د بل له حاله.
- هر مرغه چی دانه اخلی ځنګونه یې زېږوی.
- هر یو پر خپله تیکی او را ړوی.
- هستی کوی، مستی، نیستی، کوی سستی،
- هسی مه کوه انسانه، چی زوی ګران کی لور ارزانه.
- هغه آش، هغه کاسه.
- هغه بنده به څه کړی، چی خدای زیرمه نه کړی.
- هغه چرګه مړه شوه، چی برګی هګی به یې اچولی.
- هغه چی الوځی، ټولی چوغکی دی.
- هغه خوردی ارمان نه کړی، چی ورورېی واده کړې.
- هغه چی نن غران کړی، نه یې خپل نه یې خپلوان کړی.
- هغه کار چی په عقل کېږی، زورورته عاجز دی.
- هغه هغه خرک درک.
- هغه ساعت هغه مصلحت.
- هغه سترګی دې ړندی شی، چی د خپلو او پردو توپیر نشی کولی.
- هغه سړی نه دی، چی له ځانه خبرنه دی.
- هغه سپی دی خوری، چی پیژنی دی.

- هغه شپی لاړی، چی ما او تا به کړی کرواړی.
- هغه ورځی ولاړی، چی دی لوکاوه په ولاړی.
- هغه ناوی چی په ځان ښایسته نه وی، څوک یې کوی ښایست د مور او پلار.
- هلته به دی زده شی، چی ده خوار په حال دی شپه شی.
- هلته به دی زده شی، چی په ادرک بدرګ دی شپه شی.
- هلته څه! چی قدر دی کیږی.
- هله به زاریږم چی له کاره وزګاریږم.
- هله به خبرشی، چی تارو چی له ورشی.
- هم اوړه پښی هم اور پوکی.
- هم بوره هم بد نامه.
- هم در څخه مرم، هم در پسی مرم.
- هم سفر دی، هم جعفر دی، هم غرمه ده، هم تود لمر دی.
- هم لری، هم ناوی، هم ناوخته راستولی.
- هم یې پر میخ وهی، هم یې پر نال.
- هم یې سکښی، هم یې رغوی.
- هم یې کری، هم یې ریبی.
- هندو پیسی ګټی – پښتو قصی ګټی.
- هوتکه در بی زه ګم.
- هوده د شرمښکی نه لری، لاس ښامارته اچوی.
- هوږه می خوړلی ده، په ځان می ازمویلی ده.
- هوسی هوا د غرو وهی، وابنه دسیمی خوری.
- هوښیاران زهر د تریاکو په ګومان نه خوری.
- هوښیار ته اشاره ده، ناپوه ته ډنډه.
- هوښیار عقل، له کم عقل زده کړی دی.
- هوښیار نه غورزیږی، چی و غورزیږی غبرګ غاښونه یې وځی.

- هوښیار مرغه، په دوولو موبندیږی.
- هوښیاره مرغی په دوولو موکښی نښلی.
- هوشیاره مرغی نښلی چی نښلی بیا دوه ځایه نښلی.
- همسایه غل مه بوله، خپل کور دی ساته.
- هم بوری ژاړی، هم وراری.
- هیڅوک نه وایي چی: زما د غړکې خوند بد دی.

www.enayatshahrani.com

# ي

- یا انامی یا غړ کی ځېږي.
- یا به تخت یا به تخته شی.
- یا تخت دی، یا تابوت.
- یا به کلاله ونیسه! یا به مالداره ونیسه.
- یا می په ساروان وی، یا په کاروان.
- یا به یې کولاله کړی، یا په یې مالداره کړی.
- یا خپل کور، یا خپل ګور.
- یا حوری توری دی.
- یاد به دی زه کړم، موږ به دی خدای کړی.
- یاد به دی زه کړم ښاد به دی خدای کړی.
- یا: د چلم سریاد پلاوبیخ.
- یاد مورتی دی، یاد چلم نی.
- یادمی ته که! موږ به می خدای.



www.enayatshahrani.com

- یاد خدای قدرت دی، یاد میړو غیرت دی.
- یاد مه وایې پوهولای، یادی مریې کړی مه وای.
- یاد مه وایې پیدا کړی، یادی مه وی پوهولای.
- یارانه ډوبه جاله ده.
- یار ژوندی صحبت باقی.
- یارتر کوڅی تېره که! رنګ بی هیر که.
- یارترما پوری رنګ زیړی ښه دی، نه زه تر یاره.
- یار چی هر ځای شی، رنګ دی ورک شی.
- یار د یار د پاره خوری، د غوایی غوښی.
- یار دشپی لره دی، دوست د تنګی لره دی.
- یار له یاره بلا رببړی.
- یار میلی لره دی، دوست تنګی لره دی.
- یارمی دی بیدار وی، زما دی استراحت وی.
- یالویو کوروته ورځه! یالویو غروته.
- یامړ، یا موړ، یا جک په غوایی سپور.
- یامی ابابوله یا کټوه ماتوم.
- یا نه کوی یاد خره کوی.
- یا نه ځم، یا منډی وهم.
- یا نیک پلو، یا نیک جلو.
- یاووړ پوښته یازوړ.
- یاوینه ژاړی، یا مینه.
- یا یار ښه، یا بیزار ښه.
- یتیم ته یو نس مستی هم سپرلی دی.
- یتیم په ژړا پوښ دی.
- یرحمک الله هم ځای لری.



www.enayatshahrani.com

- یو انار او سل بیمار.
- یو بام او دوه هوا.
- یو بهلول، یو یې کچکول.
- یو به مړ نشی، بل به موړ نشی.
- یو په اوښکرژاړی، بل په وینو ورسره ژاړی.
- یو په سل په هیڅ.
- یو په ست ښه ایسی بل په تګ.
- یو پټی شکه یې وخوړه وایی دالامزه ده.
- یو څه زه لندیم، یو څه می دی کوډي اوږده ده.
- یو ځان شرموی بل قام.
- یو خود وړه منګر په زکات کی خویی و بوله.
- یو خواته پان، بل خواته پړانګ دی.
- یو زوی نه زوی.
- یو سر، نه سر.
- یو ښار او دوه نرخه.
- یو کارو کړه چی سل وارزی.
- یو لاس په چاړه، بل په خواړه.
- یو لاس دی خدای هغه بل ته نه اړوی.
- یو لمونځ په هفته کښی، هغه هم بی امامته کښی.
- یو مټ دی اوړه نشته، سل دی تنورونه دی.
- یو مټ اوړه به کور کی نه لری، تنور یې پر بام جوړ کړی دی.
- یو ممیز، په سل عزیز.
- یو نس، دوه منته.
- یو نو کی غیرت ترسلو میړو ښه وی.
- یوواریی شل کړه! بیایی په جوال کې واچوه.

- یووارچی زوړشی، بیا خدای خبر چی جوړ شی.
- یو وایی مریې دی یم، بل دی فکر و کی چی په څویې اخستی دی؟
- یو وار مرګی وایی خوبیا لیدی وایی.
- یو ټنګه دوړی په سترګو د آسمان دایره معلومیږی.
- یوه چاړه دوی کی دا چاره به په بری کی.
- یوه خطا، دوه خطا، نه چی جمله خطا.
- یوه خور خر څوله، بل په پور غوښته.
- یوه د ړه اور کا، دوه بنی کور.
- یوه رښتیا ویل به سمه کښنی یی ځاي نه و.
- یوه ژونده څټله، بل یی لکی څټله.
- یوه سترګه پر دین، یوه پر دنیا.
- یوه ودېږی، سل او یا وزیمی کیږی.
- یو د مور د میږه سره هم تېرېږی.
- یوه غونډی که هوارشی، ډیر خند کونه په ډک شی.
- یوه ګیډه د بل زړه کاږی.
- یوه کوه، دوه اوره.
- یوه لویښت ناوکی، دوی لوښتی یې کوځی.
- یوه منه واچوه! تر بلی بیا خدای شته.
- یوه میړو ترسلو کونډو ښه ده.
- یوه ویل کورمی درجار هغه بل واښکی ورته وغوړ اوه.
- یو یی خوری بل ورته مری.
- یویی واهه، بل پری په ناریده.
- یویی ګټی، سل یې ختی.
- یویی ژرنده ماتوی، بل یی پارچاغو اړوی.
- یویی بروهی، بل یی ریښتی.

- یویی سروهی، بل یی پی پلی.
- یو یی پر نال وهی، بل یی پرلم.
- یو یی پزی پیایپ، بل یی کارختی.
- یویی پر کور کوی، بل په صحرا.
- یوی د غمه ژړل، بلی د خوشحالی پوری خندل.
- یوی بلا، بلی بلا ته ویل اخ.
- یوی پښی بلی ته ویل چی نه ځم.

www.enayatshahrani.com



# PASHTO PROVERBS

Dr. Enayatullah Shahrani

www.enayatshahrani.com

PUBLISHED BY: QEZIL CHOPAN CULTURAL CENTER

YEAR: 2019